# د پخوانیو وختونو کیسې

# او

# پندونه

لومړۍ برخه

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د دغه کتاب له موادو څخه ښايي د په ګټه نه ولاړو ښوونيزو او روزنيزو هدفونو له پاره بيا کار واخيستل شي. د نورو معلوماتو له پاره او د دې له پاره چې د متن نورې کاپۍ ترلاسه کړئ د dzawab@n.stories148.com برېښناليک له لارې له مونږ سره اړيکه ونيسئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د پښتانه وختونو کیسې

د پاچا هغه لور چې ورکه شوې وه............... ٥
عاجز پاچا........................................... ١٩
سوداګر او فقیر.................................... ٢٥
اوه سوالګر........................................... ٧٩

## پندونه

پیل مرغ شهزاده.................................. ١٥٧
خزانه................................................. ١٥٩
قېمتي کاڼی.......................................... ١٦٠
خرابه دانه............................................ ١٦٣
باران.................................................. ١٦٤
پمپ................................................... ١٦٥
مرغه.................................................. ١٦٩
هوسۍ................................................ ١٧٠
قندیل................................................. ١٧١
دوه ماڼۍ............................................ ١٧٣
لیک................................................... ١٧٣
د سپوږمۍ له پاره کالي.......................... ١٧٤
یو ډول مرغه........................................ ١٧٥
مرغۍ او هګۍ...................................... ١٧٦
مېلمه.................................................. ١٧٧
یوه د باور کیسه.................................... ١٨٢

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د پاچا هغه لور چې ورکه شوې وه

یو وخت په یو ځای کې یو پاچا وه. پاچا شپږ زامن لرل او یوه لور. هغه خپله لور ډېره په قدر سره ساتله، ډېره مینه یې ورسره کوله او ډېر ورسره خوشحاله وه.

یوه ورځ چې هغه له هغې سره ناسته وه، هغه هغې ته په قهر شو او له خولې یې ووتل چې «بلا دې وېسه». د شپې هغه خپلې کوټې ته لاړه. سهار هیڅوک خبر نه وه چې هغه چېرې ده، نو [د هغې] پلار (پاچا) ډېر زيات خفه شو او لاړ چې په هغې پسې هر ځای ولټوي. بيا وزير پورته شو، ځکه هغه ولیدل چې پاچا ډېر خفه دی، او د یوه نوکر، یوه اس، او د خرڅې له پاره د پیسو غوښتنه یې وکړه، او د هغې په لټون پسې ووت. هغه اوږده موده هغه ولټوله تر هغه چې پیدا یې کړه. (اوس هغه نقل کوي چې هغه یې څنګه ولټوله او څنګه یې پیدا کړه).

هغه ډېر وخت په دښتو، ډاګونو او ځنګلونو کې اوږده مزلونه وکړل او هغه یې ولټوله. هغه یوې

(c) ketabton.com: The Digital Library

دښتې ته ورغی او یوې خواته یې یوې لارې ته پام شو. هغه له ځان سره فکر وکړ»

دا چې ما په دښته کې دومره مزلونه وکړل او هغه مې پیدا نه کړه، دغه لاره به ونیسم، ښايي چې څه ابادۍ ته ورسېږم».

هغه ډېر وخت مزل وکړ؛ او بیا یې یوه کلا ولیده چې د عسکرو غونډونه ترې تاو ول. کلا ډېره ښایسته وه او چاپېره ترې د عسکرو لښکر په منظم ډول ولاړ وه. هغه له عسکرو نه وډار شو چې کېدای شي ده ته کلا ته د ننوتلو اجازه ورنه کړي. نو له ځان سره یې وویل،«زه باید خپل وس وکړم». اس یې پرېښود او په پښو کلا ته ور روان شو.

هغه ته اجازه ورکول شوه چې دننه لاړ شي او هغوی هېڅ د هغه مخه ونه نیوله؛ هغه له یوې کوټې نه بلې او له بلې نه به بلې ته لاړ او چا یې هېڅ مخه ونه نیوله. په دې توګه هغه عمومي سالون ته ورسېد. هغه پاچا ولید چې یو تاج یې پر سر وه او خواوشا ته یې ډېر عسکر ولاړ ول. ډېرو د هغه په وړاندې سازونه غږول او ښه خوندور مجلس روان وه. نه پاچا او نه هم کوم بل چا له هغه څخه څه پوښتنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړه. هغه هلته نژدې ښـه خواړه ولیدل، ورغی او ویې وخوړل او بیا یوې خوا ته پرېووت چې وګوري چې نور څه کېږي.

هغه ولیدل چې پاچا د ملکې د راوړلو حکم کوي. نوکران په هغې پسـې ځي چې رایې وړي او ډېر شـور او خوشـحالي جوړېږي. ملکه چې دننه راوړل شـوه سـازیانو ورته ډېر سـازونه وغږول او سـندرې یې وویلې. د هغې لپاره یوه چوکۍ کېښـودل شـوې وه او هغه پرې له هغه سـره نژدې کېناسـته. دا د هغه پاچا لور وه. وزیر هغه ولیده، او ویې پېژنده. بیا ملکې خواوشـا ته وکتل او ویې لیدل چې په یوه کونج کې یو ځوک غزېدلی دی. هغې دغه سړی وپېژند نو هغه له چوکۍ نه پورته شـوه او هغه ته ورغله، لاس یې پرې کېښـود اوپوښـتنه یې ترې وکړه: «آیا ته ما پېژنې؟»

هغه ځواب ورکړ: «هو، زه تا پېژنم. ته هغه د پاچا لور یې چې ورکه شـوې وه.»
هغه له هغې نه پوښـتنه وکړه «ته تر دې ځایه څنګه راغلې؟»
هغې ځواب ورکړ: «ځکه چې [زما] د پلار (له خولې په ناپامۍ کې ماته داسـې خبره ووته (چې ُبلا دې وېسـه ُ) او دغه د بلا ځای دی».

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو هغه هغې ته وویل چې پلار دې ډېر خفه دی او کلونه کېږي چې ستا لټه کوي. هغه له هغې نه پوښتنه وکړه چې: «زه تا له دې ځای نه څنګه اېستلی شم؟»

هغې ځواب ورکړ: «ته ما له دې ځای نه بهر نشې اېستلی، خو که ته د ځان له پاره یو ځای انتخاب کړې او تر یو کال پورې هلته پاتې شې او هر وخت زما د وړلو هیله ولرې کېدای شي چې خپل مرام ته ورسېږې. او کله چې ته وخت لرې، ته په پرله پسې ډول زما د وړلو هیله او امېد ولرې. او ته باید روژه ونیسې. د کال په وروستۍ ورځ باید ته خامخا روژه ونیسې او په ټولو څلورویشتو ساعتونو کې ویده نشې.»

نو هغه لاړ او همداسې یې وکړل، او د کال په آخر کې، په وروستۍ ورځ، هغه روژه ونیوه او ویده نشو. بیا هغه پاڅېد او هلته (د پاچا لور ته ورغی چې بهر یې وباسي). په لاره کې هغه یوه ونه ولیده چې ښایسته مڼې یې نیولې وې. هغه په سترګو ډېرې ښې لګېدې او هغه یوه مڼه ترې وخوړه. د مڼې په خوړلو سره سمدلاسه هغه راپرېووت او د اوږده وخت لپاره خوب وېووړ. د هغه نوکر ډېر کوشش وکړ خو

(c) ketabton.com: The Digital Library

ويې نشو کولی چې پايې څوي. وروسته هغه له دغه خوب نه رابيدار شو. هغه له نوکر نه پوښتنه وکړه: «زه د نړۍ په کوم ځای کې يم؟»

نوکر ورته ټوله کيسه تېره کړه او ورته ويې ويل: «ته يوه ډېره اوږده موده ويده وې. ډېر زيات کالونه وشول چې ته ويده يې، او ما خپل ځان تر اوسه پورې په دې مېوه باندې ژوندی ساتلی دی».

هغه ډېر زيات خفه شو او لاړ او هغه (د پاچا لور) يې هلته ومونده. هغه ډېره غمجنه وه او هغه ته يې ګيله وکړه او ويې ويل: « تا په يوه ورځ وبايلله» [يعنې، ځکه چې تا يوازې يوه ورځ خپل ځان ونشو ساتلی او هغه مڼه دې وخوړه او ودې بايلله]. که ته په هغه ورځ راغلی وې، زه به دې له دې ځای نه بهر وړې وای. دا سمه ده چې خوراک نه کول ډېر سخت دي، په تېره بيا په وروستۍ ورځ ځکه چې دا وخت د شيطان زور ډېر زيات وي. نو ته بايد يو ځل بيا يو ځای انتخاب کړې او تر يو کال پورې هلته پاتې شې، او په وروستۍ ورځ ته کولی شې چې خواړه وخورې خو بايد چې ويده نشې. او ته بايد هېڅ شراب ونه څښې چې خوب دې وېنسي، ځکه چې ترټولو مهم شی د خوب [مخنيوی] دی.»

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه لاړ او همداسې يې وکړل. په وروستۍ ورځ هغه هلته لاړ. هغه يوه روانه چينه وليده. د چينې رنګ سور وه او د شرابو په څېر بوی يې کاوه. نو هغه له نوکر نه پوښتنه وکړه، «آيا تا وليدل؟ دا يوه چينه ده چې اوبه په کې دي، رنګ يې سور دی، او بوی ترې د شرابو راځي.» هغه لاړ او د چينې خوند يې وڅاکه. هغه سمدلاسه راپرېوت او تر ډېرو کلونو- اويا کلونو- پورې ويده شو.

له هغه ځای څخه ډېر عسکر تېرېدل چې د سامان ټولې [سرپټي ګاډۍ] يې شاته پسې روانې وې؛ او نوکر ځان له عسکرو څخه پټ کړ. ورپسې يوه بګۍ راغله چې د پاچا لور په کې ناسته وه. هغه له هغه سره نژدې ودرېده او له بګۍ نه ښکته شوه. هغه له هغه سره نژدې کېناسته، هغه يې وپېژاند، او په زوره يې وښوراوه چې راپايې ځوي خو هغه راپانه څېد. نو هغې په هغه باندې وير پيل کړ او ويې ويل: «پس له دومره کوشش، زحمت او تکليف چې تا دا ځوکاله تېر کړل او له دې ځای نه زما د اېستلو له پاره دې دومره خواري وکړه او يوازې د يوې ورځې له امله چې تا کولی شوای ما له دې ځای نه وباسې، تا [دا چانس] له لاسه ورکړ».

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغې ډېر زيات وژړل او ويې ويل: «دا زما او ستا له پاره ډېره د خپګان خبره ده. زه له ځومره اوږدې مودې راهيسې دلته يم او نشم کولی چې دباندې وځم [او داسې نور]». بيا هغې له خپل سر نه يو شال رانښکته کړ او په خپلو اوښکو يې پرې ليکل وکړل او د هغه څنګ ته يې کېښود. هغه پورته شوه او په بګۍ کې کېناسته او په خپله مخه لاړه.

وروسته هغه پاڅېد او له نوکر نه يې پوښتنه وکړه: «زه د نړۍ په کوم ځای کې يم؟»

نوکر ورته ټوله کيسه تېره کړه: چې ډېر زيات عسکر تېر شول، او دا چې يوه بګۍ هلته راغله، او دا چې هغې هغه ته وژړل، او چيغې يې ووهلې، «دا زما او ستا لپاره ډېره د خپګان خبره ده»، او داسې نور (لکه چې پورته ياده شوه).

دا وخت هغه خواوشا وکتل او ويې ليدل چې له هغه سره نژدې يو شال پروت دی. نو هغه پوښتنه وکړه،«دا له کومه شو؟»

او هغه ځواب ورکړ، «دا هغې پرېښود او په خپلو اوښکو يې ليکل پرې وکړل».

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو هغه شال راپورته کړ او د لمر سترګې خواته يې ونيو او ليکلي ټکي يې وليدل. هغه ليکلي ټکي چې دهغې ګيلې او ژړاوې وې (لکه چې پورته ياد شول) ولوستل. او (په هغه کې ليکلي ول) چې نور هغه په هغې کلا کې (لکه چې مخکې ياده شوه) نه ده، بلکې هغه بايد د سرو زرو غر چې د مرغلرو کلا په کې ده، ولټوي: «هلته به ته ما پيدا کړې.»

هغه نوکر هلته پرېښود او اوس يوازې روان شو چې هغه ولټوي. هغه ډېر کالونه هغه ولټوله. دا چې هغه د نړۍ د نقشې ماهر وه نو دې نتيجې ته ورسېد چې په اباده سيمه کې خو د سرو زرو غر او د مرغلرو کلا نشته. [هغه له ځان سره وويل،] «نو زه بايد دښتو ته لاړ شم او هلته لټون وکړم». او بيا يې د هغې په لټه کلونه دښتې ولټولې.

وروسته هغه يو دېو سړی وليد چې په غټوالي له انسان نه غټ وه، او داسې يوه لويه ونه يې له ځان سره روانه کړې وه چې په ابادو سيمو کې نه پيدا کېده. سړي [دېو] له هغه نه پوښتنه وکړه، «ته څوک يې؟»

هغه ځواب ورکړ،«زه يو انسان يم».

(c) ketabton.com: The Digital Library

دېو ډېر حیران شو او ویې ویل، «زه دا دومره اوږده موده په دې دښته کې یم خو ما تر اوسه پورې دلته انسان نه دی لیدلی».

هغه ورته ټوله کیسه (لکه چې پورته یاده شوه) تېره کړه او ورته ویې ویل چې هغه د سرو زرو د غره او د مرغلرو د کلا په لټه راوتلی دی. دېو هغه ته ځواب ورکړ: «دا هېڅ نشته».
او هغه یې زړه توری کړ او ورته ویې ویل چې «ته هسې کم عقلۍ په مخه کړی یې ځکه چې دا داسې څیز دی چې په هېڅ صورت پیدا کېږي نه».

هغه ډېر زیات وژړل (وزیر ډېر زیات وژړل) او ویې ویل، «هغه خامخا پیدا کېدی شي، ځکه چې هغه به خامخا چېرته وي!»
هغه هغه زړه توری کړ (دېو هغه زړه توری کړ) او ویې ویل «ته هسې کم عقلۍ پسې اخیستی یې».
او هغه (وزیر) وویل چې، «هغه خامخا په کوم ځای کې دی!»

هغه (دېو) هغه (وزیر) ته وویل «زما په نظر دا هسې یوه بې ځایه خواري ده او ته هم هسې ځېل نیولی یې او دا چې زه د ټولو ځناورو

(c) ketabton.com: The Digital Library

قوماندان یم نو زه به له تاسره یوه مرسته وکړم او ټول ځناور به راټول کړم. هغوی په ټوله نړۍ کې ګرځي. کېدی شي چې له هغوی څخه کوم یو د هغه غره او هغې کلا په هکله [چې پورته یاد شول] معلومات ولري». نو هغه له تر ټولو وړوکي څخه نیولې تر ټولو لوی پورې ټول ځناور راوغوښتل او پوښتنه یې ترې وکړه. هغوی ټولو ځواب ورکړ چې هغوی نه ده لیدلې.

هغه وویل، «ګورې، ته هسې بې ګټې کار پسې راوتلی یې. که زما خبره منې، بېرته لاړ شه، ځکه ته نشې کولی چې هغه وومې په دې چې هغه په نړۍ کې نشته».
وزیر په تونده ځواب ورکړ او ویې ویل چې «هغه خامخا شته!»
هغه (دېو) هغه (وزیر) ته وویل، «زه په صحرا کې یو ورور لرم. هغه د ټولو مرغانو قوماندان دی. هغوی په هوا کې جیګ الوزي او کېدی شي چې دغه غر او کلا یې لیدلي وي. ته باید هغه ته ورشې او ورته ووایې چې ته هغه ته ما ورلېږلی یې».

هغه لاړ او څو کاله یې د هغه په لټولو تېر کړل؛ او بیا یې یو دېو (لکه چې پورته یاد شو) ومونده چې هغه هم یوه لویه ونه را اخیستې وه. هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم د لومړني په څېر له ده نه پوښتنې وکړې. وزیرځوابونه ورکړل او پوره کیسه یې ورته تېره کړه او ورته ویې ویل چې د [هغه] ورور دی هغه ته رالېږلی دی. دغه دېو هم وزیر منع کړ او [تایید یې کړه چې] هغه په هېڅ ډول نشي پیدا کېدلی. وزیر له هغه سره هم په خپله خبره کلک شو او [ویې ویل]، «هغه خامخا شته!»

دېو هغه ته وویل،«زه د ټولو مرغانو قوماندان یم. زه به هغوی ټول راټول کړم؛ کېدی شي چې هغوی وپوهېږي». هغه ټول مرغان راټول کړل او له تر ټولو کوچني څخه نیولې تر ټولو لوی پورې- ټولو څخه یې پوښتنه وکړه؛ او هغوی ځواب ورکړ چې د هغه غره او هغې کلا په هکله هېڅ معلومات نه لري.

دېو وزیرته وویل: «ودې لیدل، په حقیقت کې هغه د ځمکې پر مخ هیڅ چېرې نشته. که زما خبره منې، بېرته وګرځه، ځکه چې دا شی هېڅ شته نه.»
هغه (وزیر) سخت ټینګار وکړ او ویې ویل چې «هغه هرو مرو په نړۍ کې چېرې شته».

نو دېو هغه ته وویل: «په صحرا کې وړاندې ته کولی شې چې زما ورور ومومې؛ هغه د ټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library

بادونو قوماندان دی او بادونه په ټوله نړۍ کې ځغلي. کېدی شي چې هغوی څه خبر ولري».

هغه لاړ او کلونه کلونه یې لټون وکړ، او بیا یې یو دېو (لکه چې پورته یاد شو) ومومند چې یوه لویه ونه یې را اخیستې وه. هغه هم له وزیرنه (لکه چې مخکې یاده شوه) پوښتنې وکړې او هغه ځوابونه ورکړل او (لکه چې پورته یاده شوه) ټوله کیسه یې ورته تېره کړه. دغه دېو هم هغه منع کړ خو وزیر ده ته هم زارۍ وکړې. هغه (درېیم ورور) وویل چې هغه به له ده سره یوه مرسته وکړي، او د ده له پاره به ټول بادونه راغواړي او په دې هکله به ترې پوښتنه وکړي. دېو بادونه راوغوښتل، ټول بادونه راغلل. هغه له هغوی ټولو نه پوښتنه وکړه خو یوه هم د هغه غره او هغې کلا په باره کې معلومات نه لرل. بیا هغه (دېو) وزیرته وویل: «ودې لیدل، تا ته چا هسې بې عقله خبره کړې ده».

وزیر ډېر سخت وژړل او ویې وویل: «زه په یقین سره پوهېږم چې هغه خامخا شته.»

په دغه وخت کې، هغه ولیدل چې یو بل باد را ورسېد. قوماندان ترې په غوسه پوښتنه وکړه چې: «ته ولې دومره ناوخته راغلې؟! ما

(c) ketabton.com: The Digital Library

حکم کړی وه چې ټول بادونه باید راشي؛ ته له هغوی سره ولې رانه غلې؟»

هغه ځواب ورکړ: «په ما باندې له دې امله ناوخته شو چې ما د سرو زرو په غره کې د مرغلرو کلا ته یوه د پاچا لور وړله». هغه ډېر خوشحاله شو (وزیر ډېر خوشحاله شو ځکه چې هغه داسې خبره واورېده چې هغه غوښتل چې وایې وري).

بیا د بادونو قوماندان له باد نه پوښتنه وکړه: «هلته څه ارزښتناک دي؟» (یعنې، څه شیان قېمته او مهم دي).

هغه ځواب ورکړ: «هلته هر څه ډېر ارزښتناک دي».

د بادونو قوماندان غږ وکړ او وزیر ته یې وویل، «دا چې ته دومره اوږده موده د هغې لټون کوې- او ډېر تکلیفونه دې ګاللي دي- له دې امله، زه تا ته یو کچکول درکوم. هر چېرې چې د پیسو له خوا ستا لاس تنګېږي ته [کولی شې چې] په هغه کې لاس دننه کړې او پیسې ترې راوباسې». هغه باد ته حکم وکړ چې هغه هغه ځای ته ورسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

توپاني باد راغی او هغه يې هلته تر دروازې پورې ورساوه. هلته عسکر ولاړ ول او هغه يې ښار ته دننه نه پرېښود. هغه خپل لاس په هغه کچکول کې دننه کړ او پيسې يې ترې را واپستې او هغوی ته يې رشوت ورکړ او ښار ته ننوت. هغه يو ښکلی ښار وه. هغه يو شتمن سړي ته ورغی او د خوړو په بدل کې يې هغه ته پيسې ورکړې، ځکه چې هغه کولی شول چې د څه وخت لپاره هلته پاتې شي، او په هوښيارۍ او حکمت سره د پاچا لور له هغه ځای نه وباسي. په آخرکې وزير هغه له هغه ځای نه را واپسته (خو دا چې څنګه يې را واپسته په دې باره کې يې څه ونه ويل).

(c) ketabton.com: The Digital Library

# عاجز پاچا

یو وخت په یو ځای کې یو پاچا وه چې یو هوښیار مشاور یې درلود. پاچا هوښیارسړي ته وویل،«هلته داسې یو پاچا دی چې خپل ځان ته تکړه جنګیالی، صادق او بې کبره سړی وایي.

زه پوهېږم چې هغه یو قوي جنګیالی دی، ځکه چې د هغه له خاورې څخه خواوشا سمندر راتاو شوی دی. هغه یو د کشتیو سمندري ځواک لري چې په توپونو باندې سمبال دی؛ هغوی نه پرېږدي چې څوک دې د هغوی خاورې ته ورنژدې شي. له سمندرڅخه پورې په یوه غاړه باندې د تورو اوبو یو رېګ روان دی. هلته یوازې یوه نری پلې لاره ده، چې په هغې باندې په یو وخت کې یوازې یو سړی تېرېدای شي. د دې لارې امنیت هم د توپونو په واسطه نیول شوی دی، او که چېرې کوم څوک حمله پرې وکړي، هغوی پرې د توپونو ډزې کوي. دا ښېخي ناشونې ده چې څوک ان د هغه خاورې ته نژدې ورشي.

خو دا چې هغه خپل ځان ته ریښتنی سړی او متواضع شخص وایي، زه نه پوهېږم چې آیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه ریښتیا وایي. نو زه غواړم چې ته ماته د هغه پاچا یو عکس راوړې.» پاچا (چې خبرې یې کولې) له هغه پاچا پرته چې په هکله یې غږېده، نور د ټولو پاچایانوعکسونه له ځان سره درلودل. هېڅ پاچا د هغه پاچا عکس نه درلود، ځکه چې هغه خپل ځان له ټولو خلکو څخه پټ ساتلو. هغه خپل ځان له خپل رعیت څخه لیرې ساتلو او د پردې تر شا کېناستلو.

هوښیارسړي هغې پاچایۍ ته سفر وکړ. هغه فیصله وکړه چې لومړی باید د هغې ځمکې اصلي خاصیت وپېژني. یو څوک کولی شي چې د یوې ځمکې خاصیت د هغې د خلکو له ساعت تېرۍ څخه وپېژني. د دې لپاره چې یوڅوک د یوه ځای په هکله څه معلومات ترلاسه کړي په کار دی چې د هغه ځای ټوکې ټکالې یادې کړي. ټوکې ډېر ډولونه لري.

ځینې وختونه یو کس غواړي چې بل کس د خپلو خبرو له لارې خپه کړي. کله چې دویم کس وښیي چې هغه د لومړي په خبرو خپه شو، هغه وایي، «ما هسې ټوکې کول». یو متل دی چې وایي، «یو سړی د بل په وړاندې هرڅه ترسره کوي ]سکروټې، غشي او مرګونې وسلې کاروي... [او بیا وایي زه فقط ټوکې کوم»

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسې هم وي چې يو څوک په ريښتيا سره ټوکې کوي، خوله دې سره سره هم، بل شخص د هغه په خبرو خپه کېږي. د ساعت تېرۍ نور ډولونه هم شته.

داسې يوه پاچايي ده چې نورې ټولې پاچايۍ په کې شاملې دي. په هغې پاچايي کې چې ټولې پاچايۍ په کې شاملې دي، يو ښار دی چې د هغې پاچايۍ ټول ښارونه په کې شامل دي. په هغې پاچايۍ کې چې ټولې پاچايۍ په کې شاملې دي په هغه ښار کې چې ټول ښارونه په کې شامل دي يوه ماڼۍ ده چې ټولې ماڼۍ په کې شاملې دي. په هغه ځای کې يو سړی دی چې هرڅه يې په هغې ماڼۍ ....کې شامل کړي دي. هلته هغه سړی ناست دی چې د هغې پاچايۍ ټولې ساعت تېرۍ او ټوکې جوړوي.

هوښيار سړي ډېرې پيسې له ځان سره واخيستې او هلته لاړ. هغه د بېلابېلو ډولونو ټوکې او ساعت تېرۍ چې هلته جوړېدې، وليدې.

له ټوکو څخه هغه پوه شو چې هغه ځمکه ټوله، سرتر پايه، له دروغو ډکه ده. هغه وليدل چې ټوکې په دې هکله جوړېدلې چې څنګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

خلک په کاروبار کې وغولول شي او دوکه ورکول شي، او ځنګه کله چې خلکو یوه قضیه محکمې ته رسوله، فیصله پرې د دروغو او رشوت په اساس کېدله. تر دې چې که یو څوک به سترې محکمې ته تلو، هلته به هم له دروغو پرته بل څه نه ول، اودغه قضیې به ټولې په مسخرو اوښتلې.

له دې مسخروڅخه هوښیار سړی پوه شو چې دغه ځمکه ټوله له دروغو او خیانت څخه ډکه ده، او هلته ریښتیا او صداقت بېخي نشته.

بیا هغه د سوداګري مالونو په پېرودلو او پلورلو باندې لاس پورې کړ، پرې یې ښودل چې دی څنګه غولول کېږي. هغه خپله قضیه محکمې ته ورسوله، او ویې لیدل چې هغوی هرڅه په دروغو او رشوت سره پرمخ بېول. یوه ورځ به هغه رشوت ورکړ او په سبا به یې هغه ته ویل کېدل چې دی څوک هېڅ نه پېژني.

هغه خپله قضیه یوې لوړې محمکې ته ورسوله، او ویې لیدل چې هلته هم ټول دروغ روان دي. په پای کې هغه سترې محکمې ته ورغی او ویې لیدل چې هلته هم هرڅه په دروغو او رشوت سره پرمخ ځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بالاخره، هغه خپله قضیه پاچا ته ورسوله. کله چې هغه پاچا ته ورغی، ورته ویې ویل، «ته پر چا پاچايي کوې؟ پاچايي دې ټوله، سرترپایه، له دروغو ډکه ده. صداقت په کې هېڅ نشته». بیا یې پیل وکړ، او د دې پاچايۍ روانې تېرایستنې یې ټولې په ګوته کړې.

پاچا چې دا خبرې واورېدې خپل غوږ یې د پردې طرف ته کوږ کړ چې د هوښیار سړي خبرې په ځیر سره واوري. پاچا په دې خبره ډېرزيات حیران شو چې داسې یو سړی هم شته چې د هغه په پاچايۍ کې په ټولو دروغو باندې خبر دی.

کله چې د دولت وزیرانو د هوښیار سړي خبرې واورېدې ډېر پرې په قهر شول، خو هغه په دې پاچايۍ کې د دروغو د چلند په هکله خپلو خبرو ته دوام ورکړ.

بیا هوښیارسړي وویل، «دا به منطقي وي چې وویل شي چې له دې امله چې ته پاچا یې، ته هم بېخي د دې نورو په څېرېې – چې ته دروغ خوښوې، بېخي لکه په پاچايي کې چې دا نور خلک دي، خو یو شی شته چې ماته ښيي چې ته ریښتنی سړی یې. دا چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته د دې پاچايۍ دروغ نښې زغملی، نوخپل ځان له خپل رعيت څخه يوې ډډې ته ساتې» له دې سره، هوښيار سړي شروع وکړه چې ډېر په لوړه سويه د پاچا ستاينه وکړي.

پاچا ډېر بې کبره سړی وه. هرکله به يې چې د عظمت خبره کېدله، هغه به ډېره عاجزي ښودله. کله چې يو څوک په ريښتيا سره عاجز وي، څومره چې د هغه ستاينه کېږي او لويوالی يې يادېږي، هغه خپل ځان کوچنی او عاجز ښيي. له دې امله کله چې هوښيار سړي د هغه ستاينه کوله او د هغه عظمت يې ياداوه، پاچا ځان ډېر کوچنی او عاجز ښوده، تر دې چې هغه په ريښتيا هم هېڅ شو.

بيا نو پاچا خپل ځان بېرته نشو پورته کولی. هغه پرده يوې خواته کړه چې هوښيار سړی وګوري. هغه غوښتل وګوري چې هغه څوک دی چې په دې ټولو خبرو باندې خبر دی، خو کله چې پاچا دا کار وکړ، هوښيار سړي د هغه مخ وليد. په دې توګه، هوښيار سړي وکولی شول چې خپل تر لاس لاندې انځور وکاږي او خپل پاچا ته يې وروړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سوداګر او فقير

يو وخت په يو ځای کې يو لوی سوداګر وه چې ډېر زيات شتمن وه. هغه ډېره لويه سوداګري درلوده، او مالي اسناد او ليکونه يې ټولې نړۍ ته تللي ول. هغه تر ټولو ښه هر څه درلودل.

له هغه څخه کوزيو فقيراوسېده. هغه ډېر زيات غريب وه او په هر څه کې د شتمن سوداګر بېخي برعکس وه (داسې چې د هغوی مقامونه يو د بل پر ضد ول، څنګه چې سوداګر ډېر زيات شته درلودل په ورته وخت کې فقير ډېر زيات فقر درلود).

هغوی دواړو کوچنيان نه لرل. سوداګر کوچنيان نه درلودل، اوهمداسې فقيرهم کوچنيان نه درلودل.

يو ځل سوداګر خوب وليد چې خلک د هغه کورته راغلي وي او شيان په کڅوړو کې اچوي او ټولوي يې.هغه پوښتنه کوي «تاسو څه کوئ؟»

هغوی ځواب ورکوي «مونږ هرڅه د فقيرکره وړو» (دا هغه فقير وه چې له هغه څخه کوزاوسېده).

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه په دې کار سره ډېر زيات وکړېد او ډېر نا ارام شو، ځکه چې هغوی غوښتل چې د هغه ټول شته ترې واخلي او له فقيرکره يې وپسي، او هغه نشول کولی چې هغوی له دې کار څخه په خپل قهر سره راوګرځوي ځکه چې ډېر زيات خلک په دې کار بوخت ول. نا اشنا خلکو دهغه د ټولو سوداګريزومالونو، شتمنۍ اوملکيت هر څه په کڅوړو کې ټول کړل. هغوی هر څه له فقيرکره وېوړل، او له تشو دېوالونو پرته يې هيڅ هم پرېنښودل.

هغه ډېر زيات خفه وه، چې راپاځيد پوه شو چې دا هر څه يو خوب وه، خو ان وروسته له هغه چې پوه شو چې دا هرڅه يوازې يو خوب و، او د خدای شکر يې ادا کړ چې هر څه لا هم د هغه په واک کې ول، د هغه زړه ډېرپه ډار سره ټوپونه وهل. خوب هغه ډېر خپه کړ، او هغه نشول کولی چې له ذهنه يې وباسي.

اوس د فقيراو د هغه د ښځې په برخه کې، هغه له پخوا نه له دې سره عادت وه چې په هغوی باندې به يې پام کاوه، او هرهغه څه به يې ورکول چې وس يې پرې رسېده. اوس تر خوب ليدلو وروسته هغه د هغوی په هکله خپله پاملرنه له مخکې څخه نوره هم ډېره کړه،

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو هرکله به چې غریب سړی او ښځه یې د هغه کور ته ورغلل، د هغه په څېره کې به تغیر راغی او ډېر به وډار شو، ځکه چې هغه ته به هغه خوب وریاد شو.

هغوی، یعنې فقیراو ښځه یې، له هغه کره ډېرورتلل او له هغه سره به یې لیدل. یو ځل، کله چې د فقیرښځه راغله چې هغه وګوري او هغه هغې ته څه ورکړل، د هغه په څېره کې تغیر راغی، او ډېر ووېرېد او سربدال شو.

ښځې وویل، «بخښنه غواړم، کولی شې راته ووایې چې څه دلیل دی چې هر کله چې مونږ تا ته راشو، ستا په څېره کې ډېر زیات تغیر راځي». هغه هغې ته د خپل خوب ټوله پېښه بیان کړه، او دا چې اوس له هغه وخت راهیسې د هغه زړه له وېرې ډک شوی دی.

هغې یوه ټاکلې نېټه یاده کړه او پوښتنه یې وکړه چې، «آیا خوب په هغه شپه وه؟»

هغه ځواب ورکړ، «هو». «د هغه معنی څه ده؟»

هغې وویل، «په هغې شپه ما هم یو خوب ولید». «ما خوب ولید چې زه ډېره شتمنه یم

(c) ketabton.com: The Digital Library

او دا چې خلک زما کور ته راتلل اوکڅوړې يې ډکولې. ما له هغوی څخه پوښتنه وکړه چې چېرې يې وړي، او هغوی ځواب راکړ،'له فقير کره!' (هغوی سوداګرته اشاره کوله، خو دا وخت هغوی هغه ته فقيرويل.) ته ولې د يوه خوب په هکله دومره فکرکوې؟ خوب خو ما هم ليدلی دی».

د هغې د خوب په اورېدلو سره فقيرنورهم ووېرېد او سربدال شو. داسې ښکارېدل چې د هغه شتمني او ملکيت دې فقيرته وپوړل شي او د فقيرفقر دې ده ته راوړل شي. هغه ډېر سخت ووېرېد.

يوه ورځ د سوداګر ښځې د بګۍ په واسطه سفر وکړ. هغې له ځان سره نورې ښځې بوتللې، د فقيرښځه يې هم له ځان سره بوتلله، او په چکر لاړې.

د سفر پر وخت، يو جنرال او لښکر يې پرهغوی تېرېدل. کله چې پوځ تېرېده، هغوی واټ بند کړ. جنرال وليدل چې ښځې روانې دي، هغه حکم وکړ چې له هغوی څخه يوه بايد ستنه کړل شي. د هغه سړي لاړل او د فقيرښځه يې ترې بېله کړه او مجبوره يې کړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې د جنرال د بګۍ خوا ته لاړه شي. هغوی بیا هغه له ځان سره بوتله.

داسې لاره نه وه چې هغه دې پرې خلاصی ومومي ځکه چې په لږ وخت کې هغوی لیرې شول. د دې ترڅنګه، له جنرال سره یو لښکرهم وه نو جنرال هغه له ځان سره کړه او خپلې سیمې ته یې وبوړه. هغه له خدای نه ډېره ډارېده؛ هغې د هغه د غوښتنو اورېدلو ته هېڅ غوږ ونه نیوه، او ډېر یې وژړل. هغوی هغې ته ډېرې زارۍ وکړې او له هغې سره یې ډېره مینه وښوده، خو بیا هم هغې له خدای نه ډېره وېره ښودله. اوهغه، د سوداګر ښځه، او نورې ښځې له خپل سفر څخه بېرته ستنې شوې، او د فقیرښځه په بل لوري تللې وه.

فقیرډېر زیات ژړل، خپل سر یې په پرېشانۍ سره پر دېوال واهه، او په پرله پسې توګه یې د خپلې ښځې ماتم کاوه.

یوه ورځ سوداګر د فقیر د کور ترڅنګ تېرېده، وایې ورېدل چې غریب سړی ډېر سخت ژاړي، او خپل سر پر دېوال وهي. هغه دننه ورغی او پوښتنه یې وکړه، « ته ولې داسې ژاړې؟»

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه ځواب ورکړ، «ولې زه ونه ژاړم؟» «ما ته څه پاتې شول؟ څوک به شتمني لري څوک به کوچنیان لري، خو زه نور څه لرم؟ اوس مې ښځه هم رانه وېورل شوه، نو ما ته څه را پاتې شول؟»

د فقیر د غم او درد په لیدلو سره د سوداګر زړه سخت ودردېد او له فقیرسره یې همدردي پیدا شوه.

بیا سوداګر یو بې پروا کار وکړ، چې ببخي لېونتوب و. هغه لاړ او پوښتنه یې وکړه چې جنرال چېرې اوسېږي، او په هغه لوري یې سفر وکړ.

هغه ډېر بې پروا کار وکړ. هغه مخامخ د جنرال کور ته ورغی. جنرال هلته ساتونکي درلودل، خو سوداګر، له دې امله چې په بل حال وه، هېڅ شي ته هم پام ونه کړ. هغه ساتونکیوته هېڅ پام ونه کړ.

ساتونکیوهم سخت ټکان وخوړ او چې داسې یو سړی یې ولید چې داسې وحشیانه عمل کوي نو ډېر ناارام شول. هغه دلته څنګه راغی؟ او د خپلې پرېشانۍ له امله، ساتونکیود هغه مخه ونه نیوله، او هغه وکولی شول چې له

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولو ساتونکيو څخه تېر شي او د جنرال تر استوګنځي پورې، چې د فقيرښځه په کې پرته وه، ځان ورسوي.

هغه هغې ته ورغی او راويښه يې کړه. ورته ويې ويل «راځه».

کله چې هغې هغه وليد، سربداله شوه او ووېرېده، هغه هغې ته وويل، «راځه له ماسره، چټکه راځه».هغه له هغه سره لاړه، او بيا هغوی له ټولو ساتونکيو څخه تېرشول، تر دې چې بهر ووتل، بيا نو د هغه سوچ سرته ورغی او پوه شوچې څه کارېې کړی دی، يو ډېربې پروا کار. هغه پوه شو چې ژر به هلته يوه لويه غوغا جوړه شي، همداسې وهم شول. د جنرال د سړيو له خوا يوه لويه غوغا جوړه شوه.

سوداګرلاړاوخپل ځان يې په يوه کنده کې چې د باران له اوبو نه ډکه وه پټ کړ. هغوی ترهغه وخت پورې پټ ول چې غوغا پای ته ورسېده. هغه تر دوو ورځو پورې په دې کنده کې له هغې سره پاتې شو.

هغې هغه لويه قرباني چې هغه د هغې له پاره ورکړه، او هغه لوی کړاو چې هغه د هغې

(c) ketabton.com: The Digital Library

له پاره پر ځان ومانه، ولیدل، هغې په خدای قسم یاد کړ چې خپل ټول ښه بخت او طالع (شونې وه چې هغه دې څه ښه بخت، ښایي ډېر ارزښت، او طالع ولري) له سوداګرڅخه ونه درېغوي. تر دې چې که هغه وغواړي چې د هغې ټول طالع او لویوالی واخلي، او هغه بېخي هسې شي لکه چې هغه په اصل کې وه، هغه به له هغه څخه هېڅ ونه درېغوي، خو په داسې یو ځای کې به شواهد څنګه پیدا کړای شي؟ هغې هغه کنده د یوه شاهد په توګه ونیوله.

دوره ورځې وروسته، هغه له هغې سره لاړ. هغوی وړاندې لاړل، اوهغه له هغې سره وړاندې او وړاندې لاړ. هغه پوه شو چې هلته په هغه ځای کې هم د هغې لټون کېده. دا ځل هغه لاړ او ځان یې له هغې سره په مذهبي حمام کې پټ کړ.

هغې د هغې لویې قربانۍ او کړاو په هکله بیا فکر وکړ چې هغه د هغې له پاره ګاللي ول. هغې بیا د مخکې په څېر قسم یاد کړ، (چې د هغې ټول ښه او داسې نور) او مذهبي حمام یې د شاهد په توګه ونیول. هغوی هلته هم د څه دوه ورځو له پاره پاتې شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغوی بیا روان شول او نور وړاندې لاړل. بیا هغه پوه شو چې دلته هم د هغې لټون روان دی. نو بیا، هغه له هغې سره پټ شو، هر ځل په یو بل ځای کې، د اوبو په اوو بېلابېلو ځایونو کې: هغه کنده او حمام چې مخکې ذکر شول، یو حوض، یوه چینه، یو لښتی، یو سیند او یو ډنډ. په هر ځای کې چې هغوی پټېدل، هغې تل د هغه د ځان قرباني او کړاو چې هغه د هغې له پاره پرځان ګاللي ول خپل ځان ته وریادول، او تل به یې هسې قسم یاداوه لکه چې مخکې یې یاد کړی وه. هر ځل به یې ځای د یو شاهد په توګه نیوه. هغوی سفر ته دوام ورکړ، چې هر ځل به په دغو ځایونو کې پټېدل، تر هغه چې بالاخره هغوی سیند ته ورسېدل.

سم چې هغوی سیند ته راورسېدل، دا چې سوداګر یو لوی سوداګر وه او د سیند لارې ورته معلومې وې، هغه وکولی شول چې داسې تیاری ونیسي چې خپل وطن ته پرې ورسېږي. هغه سفر وکړ او د فقیرله ښځې سره یو ځای کور ته راغی، او هغه یې فقیرته بېرته ورپه لاس کړه. هرې خوا ته خوشحالي شوه.

په سوداګرباندې خدای له دې امله چې داسې یو کار یې کړی و، او سربېره پردې یې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه په پوره امانت سره راوستې وه (يعنې د خدای وېره ورسره وه او هغې ته يې لاس نه وه وروړی)، خدای رحم وکړ او په هغه کال يې يو زوی ورکړ. هغې هم، د فقيرښځې، چې له جنرال او سوداګر دواړو سره د پاتې کېدلو پر وخت يې د هغوی دواړو دغوښتنې په مقابل کې مقاومت کړی وه، هغه هم لايقه وګڼل شوه، او يوه لور يې وزېږوله.

نجلۍ په نه باور وړ او فوق العاده توګه ښکلې وه. هغه داسې يوه ښکلا وه چې هغه يې له نور بشريت څخه بېله کړې وه. داسې ښکلا هېڅکله هم په انسانانو کې نه وه ليدل شوې. خلکو به ويل، «خدای دې يې له بدو سترګو وساتي» (کله چې يوڅوک داسې بې جوړې وي هغه په سختۍ سره ثمر ته رسېږي (ډېر وخت له نظره کېږي). د هغې ښکلا ډېره فوق العاده وه، چې مثالونه يې تر دې مخکې هېڅکله هم په نړۍ کې نه ول ليدل شوي.

ټول خلک راتلل چې هغه وګوري، او هغوی د هغې ښکلا ته، چې ډېره فوق العاده وه، ډېر حيران ول. هغوی تل هغې ته له مينې نه سوغاتونه ورکول. هرچا دومره سوغاتونه ورولېږل چې فقيرشتمن شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په ورته وخت کې، له سوداګر سره داسې نظر پیدا شو چې هغه باید له فقیرې سره د هغې د ډېرې ښکلا له امله چې ډېره بې جوړې وه، د خپلوۍ خبره وکړي. هغه له ځان سره وویل چې ښايي دا د هغوخوبونو معنی وي چې په کې هغه څه چې د هغه ول فقیرته راوړل کېدل، او هغه چې د فقیر ول هغه په کې هغه ته راوړل کېدل. د خوب معنی ښايي دا وي چې هغوی باید د خپلو کوچنیانو تر منځ يو ازدواج رامنځته کړي، او د هغوی د یوځای کېدلو په نتیجه کې به هغه څه چې د هغوی ول د هغوی ترمنځ سره ګډ شي.

یوه ورځ چې د فقیرښځې له هغه سره ولیدل، هغه هغې ته د هغه د دې هیلې په هکله وویل چې که هغوی د خپلو کوچنیانو ترمنځ د واده له پاره تیارۍ وکړي. هغه وښودله چې ښايي د دې له لارې خوبونه ریښتیا راوځي.

هغې ځواب ورکړ، «ما هم د دې په هکله فکر کاوه»، «خو ما زړه نه کاوه چې د داسې يو واده په هکله له تاسو سره بحث وکړم. که ته غواړې، زه بالکل تیاره یم چې داسې کار وکړم، او زه به هېڅکله هم ستا مخه ونه نیسم. ما لا پخوا قسم کړی دی چې زه به هېڅکله هم له تا نه هیڅ ښه ونه درېغوم.»

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سوداګر زوی او د فقیرلورسره یوځای ښوونځي ته لاړل، او خارجي ژبې یې، لکه چې هلته رواج وه، زده کړې. په ورته وخت کې، خلک راتلل چې نجلۍ د هغې د ځانګړې ښکلا له پاره وګوري، او هغوی هغې ته هومره ډېر سوغاتونه ورکړل چې فقیرشتمن شو.

سلطنتي وزیران هم راغلل چې هغه وګوري، اوهغوی په هغه څه چې ویې لیدل ډېر زیات خوشحال شول. هغوی پوه شول چې د هغې ښکلا بې جوړې او فوق العاده وه، ځکه چې هغه له عادي بشري حدودو څخه تېره وه.

د هغې د ډېرې خیالي ښکلا له امله، له ځینې وزیرانو سره داسې نظر پیدا شو چې له فقیرسره د واده خبره وکړي. هغو وزیرانوچې زامن یې درلودل ډېرغوښتل چې د هغوی زامن دې له هغې سره واده وکړي، خو د هغو له پاره نامناسبه ښکارېده چې داسې د یوې ټیټې طبقې له شخص سره دې واده وکړي. له دې امله هغوی اړتیا درلوده چې هڅه وکړي چې د فقیرمقام لوړ کړي.

هغوی داسې تیاری ونیو چې فقیرلومړی د امپراتور په خدمت کې د یو ډګرمن په توګه کار

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیل کړي. وروسته هغه لوړاو نورهم لوړشو، ځکه چې هر ځل هغوی د هغه د ترفیع ورکړه چټکوله، تر دې چې هغه په چټکۍ سره ډېر لوړ او جنرال شو. په دې وخت کې وزیرانو غوښتل چې ور وړاندې شي او له هغه سره د واده خبره وکړي، خو دا کار سخت و، ځکه چې ډېرو وزیرانو غوښتل چې داسې وکړي، او ډېرو د هغه له پاره د ترفیع د ترلاسه کولو په برخه کې هڅه کړې وه. (له دې امله، هغه ونشول کولی چې له هېڅ یو سره هم په واده جوړشي.) د دې ترڅنګه، هغه نشول کولی چې د سوداګر له امله هم له هغوی سره په واده جوړشي، ځکه هغه لا له وخته ژرګنده کړې وه چې د هغه لور باید له هغه سره واده شي.

یو وخت چې فقیرجنرال شو، نوربریالیتوب یې هم ترلاسه کړ. امپراتور هغه جنګونو ته ولېږه، او هغه هرځل فاتح راوګرځېد. نو امپراتور نوره ترفیع هم ورکړه، په دوامداره توګه لوړه او لوړه، او هغه تل ډېر بریالی وه.

بیا امپراتور مړ شو. ټول رعیت پرېکړه وکړه چې فقیرباید نوی امپراتور شي. کله چې وزیران سره جرګه شول، هغوی ټول پر دې سره سلا شول چې هغه دې امپراتور شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې توګه هغه سړی چې پخوا فقير وه اوس امپراتور شو. هغه جګړې وکړې او ډېر بريمن شو، او ډېرې ځمکې يې فتحه کړې. هغه نورې جګړې وکړې، او تل بريالی راستون شو، چې په دوامداره توګه يې برياليتوبونه ترلاسه کول، تر هغه چې ټولو نورو پاچاهيو پرېکړه وکړه چې هغوی به په خپله خوښه د هغه واکمنۍ او حکمونو ته غاړه ږدي. ځکه چې هغوی د هغه لوی بری وليد، چې هغه د نړۍ ټوله ښکلا او هرې ښې طالع درلودې. له دې امله ټول پاچايان سره جرګه شول او پرېکړه يې وکړه چې هغه به د ټولې ځمکې امپراتور وي، او هغوی هغه ته يو په سرو زرو ليکلی سند ورکړ.

امپراتور (هغه چې فقير وه او پر ټوله نړۍ امپراتور شو) اوس نه غوښتل چې له سوداګر سره د واده تړون وکړي، ځکه چې له يوه امپراتور سره نه ښايي چې له يوه سوداګر سره واده وکړي. البته، د هغه ښځې ملکې، د سوداګر له پرېښودلو سره مخالفت وکړ. (يعنې هغه د سوداګر په خوا ودرېده ځکه چې هغه د هغې له پاره خپل ژوند په خطر کې اچولی و، او داسې نور) او امپراتور وليدل چې هغه نشوای کولی چې د سوداګر له پاره بل واده وکړي، په

(c) ketabton.com: The Digital Library

تېره بیا له دې امله چې د هغه ښځې په کلکه سره د سوداګرملاتړ کاوه.

په دې توګه هغه د سوداګر په وړاندې د پلانونو طرحه کول پیل کړل. د هغه لومړی حرکت دا وه چې هغه بې شتو کړي. هغه دا ټول پلانونه داسې ترسره کول لکه هېڅ چې د هغه له خوا شخه نه وي، او هغه په دوامداره توګه داسې ترتیبات نیول چې هغه خراب کړي. یو امپراتور بې له شکه دا توان لري. هغه په دوامداره توګه د سوداګر له پاره تاوانونه، او په سوداګرۍ کې ماتې ورواړول، تر هغه چې هغه بې شتو، یو پوره فقیر، شو.

هغې، ملکې په دوامداره توګه د سوداګرملاتړ کاوه. امپراتور پوه شو چې تر هغه پورې چې زوی ژوندی وي، (یعنې د سوداګر زوی) دا به ناشونې وي چې له بل چا سره دې واده وشي. نو هغه داسې هڅې پیل کړې چې د سوداګر زوی له منځه وېسي. هغه یو پلان طرحه کړ چې له هغه نه ځان خلاص کړي، د دروغو تورونه یې ولګول، او قاضیان یې مقرر کړل چې قضیه وچلوي. قاضیان پوه شول چې امپراتورغواړي چې ځوان یوې ډډې ته کړي، نو هغوی هغه ته داسې سزا واوروله چې هغه په یوه بوجۍ کې بند او په سیند لاهو شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملکه له دې امله په زړه کې ډېره غمجنه وه خو تر دې پورې چې ان ملکې هم نه شوی کولی چې د امپراتور مخالفت وکړي.

ملکه هڅوسړیوته چې وظیفه ورکول شوې وه چې ځوان سیند ته ورواچوي، ورغله. هغه د هغوی په پښو کې پرېوته، ډېرعذرونه یې کول چې د هغې له پاره دې هغوی هغه ته اجازه ورکړي چې لاړ شي. تر هرڅه ایسته، ولې هغه د دې وړ ګرځول شوی چې ودې وژل شي؟ هغې غوښتنه وکړه چې هغوی دې یو بل بندي چې په مرګ محکوم شوی وي، واخلي، او سیند ته دې یې واچوي، او ځوان دې وژغوري.

د هغې هڅو نتیجه ورکړه او هغوی هغې ته قسم یاد کړ چې هغوی به هغه ژغوري اوهغوی همداسې وکړل. هغوی بل سړی راونیو او سیند ته یې واچاوه، او هغوی د سوداګر زوی ته اجازه ورکړه چې لاړ شي. هغوی هغه ته وویل، «ځه! ځه!» او هغه هم په خپله مخه لاړ.

ځوان لا د وخته پوخ وه، نوهغه په خپله مخه ولاړ. مخکې له دې، یعنې مخکې له دې چې ځوان لاړ شي، ملکې خپله لور ځان ته وروغوښته. هغې وویل، «زما لورې، ته باید

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهه شي چې دغه د سوداګر زوی په تقدير کې ستا د ژوند ملګری دی.»

هغې بيا خپلې لور ته ټوله هغه کيسه وکړه چې پرې تېره شوې وه. «سوداګر خپل ارام او خوښي زما له پاره قربان کړل او په اوو ځايونو کې (يعنې په اوه قسمه اوبو کې) له ما سره يو ځای وه، او هر ځل ما په خدای  قسم ياد کړی دی چې زه به له هغه نه هېڅ داسې ښه چې زه يې لرم نه ايساروم، او دغه اوه ځايونه [کنده، مذهبي حمام، او د اوبو اوه نور ډولونه] مې د شاهدانو په توګه نيولي دي. په دې توګه، ته زما ټول ښه، بخت، او برياليتوب يې. بې له شکه چې ته د هغه د زوی يې او د هغه زوی ستا د ژوند ملګری دی خو ستا پلار د خپل غرورله امله غواړي چې هغه بې له کوم دليله ووژني. ما لا د وخته يوه هڅه کړې چې هغه وژغورم او په بري سره مې هغوی دې ته تيار کړي چې هغه بچ کړي. له دې امله ته بايد پوهه شې چې هغه ستا د ژوند ملګری دی او ته بايد په نړۍ کې له هېڅ بل سړي سره د واده له پاره موافقه ونه کړې».

نجلۍ د خپلې مور خبرې ومنلې، ځکه چې هغه هم له خدای څخه وېرېده. هغې خپلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

مور ته ځواب ورکړ چې هغه به په یقین سره د هغې په خبرو عمل کوي.

نجلۍ بیا لاړه او د سوداګر زوی ته یې چې لا په محبس کې وه یو لیک واستاوه. هغې ولیکل چې هغه د هغه په خوا ولاړه ده او دا چې هغه د هغې د ژوند ملګرې دی. هغې هغه ته د نقشې یوه برخه ورولېږله چې ټول هغه ځایونه پرې رسم شوي ول چې د هغې مور په کې د هغه له پلار سره پټه شوې وه، چې هغه اوه شاهدان ول: کنده، مذهبي حمام، او نور ځایونه. په هغې باندې هغې د یوې کندې، یو مذهبي حمام، او د اوبو د نورو ځایونو انځورونه کښلي ول. هغې هغه ته ډېر سخت اخطار ورکړ چې هغه باید ډېر، ډېر پام وکړي چې دغه یادښت له ځان سره وساتي. بیا هغې د لیک په پای کې په خپل نامه لاسلیک وکړ.

تر دې وروسته، همداسې پېښ شول: مسؤل شخص د هغه پرځای بل کس راوست او د سوداګر زوی ته یې اجازه ورکړه چې لاړ شي، اوهغه په خپله مخه لاړ.

هغه لاړ او لاړ تر دې چې سیند ته ورسېد، هلته هغه په یوه کشتۍ کې سپور شو او په

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیند ورګډ شو. یو قوي توپاني باد راوالوت، او کشتۍ یې یو دشتي ساحل ته واپسته. باد دومره قوي وه چې په زور سره یې کشتۍ ماته شوه، خو مسافر ژوندي پاتې شول، او وچې ځمکې ته ورسېدل. هلته یوه دښته وه، نو د کشتۍ خلک د خوړو په لټون پسې ووتل؛ هر یو د خوړو له پاره د څه په موندلو پسې شو.

له هغه ځای نه کشتۍ نه تېرېدې، ځکه هغه یوه دشتي سیمه وه. له دې امله، هغوی داسې تمه نشوی کولی چې بله کشتۍ دې راشي او هغوی دې کورونو ته ورسوي. هغوی دښتې ته لاړل چې خواړه ولټوي. په دې توګه هغوی تیت او سره بېل شول.

ځوان سړی په دښته ورننوت، لاړ او پسې لاړ، تر هغه چې له ساحل څخه ډېر لیرې شو. کله چې هغه پرېکړه وکړه چې بېرته راوګرځي، نه یې شول کولی چې دا کار وکړي. څومره چې هغه ډېره هڅه کوله چې بېرته راوګرځي، هومره لیرې کېده، ترهغه چې هغه پوه شو چې هغه نشي کولی چې بېرته ستون شي. له دې امله، هغه په دښته کې وړاندې او پسې وړاندې لاړ. هغه یوه لینده درلوده چې خپل ځان پرې په دښته کې د وحشي حیواناتو په وړاندې له خطر څخه وژغوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چېرې چې هغه لاړ، ویې کولی شوی چې د خوراک له پاره یو څه ومومي. هغه لاړ او پسې لاړ تر دې چې له دښتې څخه ووت، او یو ځای ته ورسېد. هلته یوتش ځای وه چې اوبه په کې وې او خواوشا ترې مېوه لرونکې ونې تاوې وې. هغه مېوه وخوړه او اوبه یې وڅښلې.

هغه پرېکړه چې هغه به په دې ځای کې پاتې شي او تر هغه چې ژوندی وي هلته به پاتې شي. هغه پوه شو چې د هغه له پاره به سخته وي چې ښاري ژوند ته بېرته وروګرځي او ځوک پوهېږي چې که هغه دا ځای پرېږدي آیا هغه به د دې په څېر بل کوم ښه ځای پیدا کړي؟ له دې امله هغه پرېکړه وکړه چې هم هلته پاتې شي او خپل پاتې عمرپه هغه ځای کې تېر کړي.

هغه دغه ځای ډېر ګټور وموند، مېوې به یې خوړې او اوبه به یې څښلې. ځینې وختونه به هغه بهر وتلو او د خپلې لیندې په واسطه به یې یو سوی یا هوسۍ وویشت، او غوښه به یې وخوړه. هغه به کبان هم نیول ځکه چې هلته په هغو اوبو کې ډېر ښه کبان ول. له دې امله هغه فکر وکړ چې دا به د هغه له پاره ډېره ښه وي چې هغه د خپل پاتې عمر له پاره هلته پاتې شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

امپراتور وروسته ترهغه چې د سوداګر زوی یې په سزا ورساوه، او له هغه ځخه بېکاره شو (ځکه امپراتور فکر کاوه چې په ځوان سړي باندې په ریښتیا سره فیصله شوې او عملي شوې ده، او هغه نور په دنیا کې نشته)، اوس کولی شواې چې د خپلې لور د واده تړون وکړي. له دې امله له بېلابېلو پاچایانو سره د هغې له پاره د یوه انډول د پیدا کولو خبرې پیل شوې.

امپراتور د خپلې لور له پاره یوه ځانګړې ماڼۍ جوړه کړه چې هغه هلته اوسېده. هغې د اشرافو لوڼې د خپلو مجلسونو له پاره ورغوښتلې، او هلته اوسېده. هغې به د موسیقۍ آلې غږولې او په ورته ساعت تېریو کې به چې دود وه، بوخته وه.

کله به چې هغې ته د یوې جوړې وړاندیز وشو، هغې به تل داسې ځواب ورکاوه چې ټولې خبرې (چې د جوړې په هکله وې) به یې رد کړې، او ویل به یې چې هغه کس چې غواړي له دې سره واده وکړي هغه دې په خپله ورشي. هغه د سندرو ویلو په هنر(یعنې په ښې پوهې سره د ښایسته سندرو د ترنم کولو مهارت) کې ډېره رسېدلې وه. هغې د ماهرو صنعتګرو په واسطه یو داسې ځای برابر کړ چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغوی (د هغې غوښتونکيو) کولی شوای هلته ورشي. د هغې غوښتونکی به هغې ته مخامخ هلته ودرېد او خپلې سندرې به يې وويلې چې په هغې کې به د مينې نظمونه، لکه داسې عشقي لغتونه چې يو څوک يې په مينه کې خپلې معشوقې ته بولي، شامل ول.

پاچايان به راتلل چې هغه تشويق کړي. هغوی به هغه ځای ته تلل او هر يو به خپل نظم لوست. نجلۍ به د هغوی له جملې څخه ځينې کسانو ته د خپلو سهيليو له لارې په يوعشقي نظم سره ځواب ورکاوه. نورو ته به، چې هغې به ډېر خوښول، هغې په خپله ځواب ورکاوه. هغې به خپل غږ په سندره کې اوچت کړ او په عشقي الفاظو به يې ځواب ورکړ. له هغو کسانو سره به چې د هغې به ډېرخوښ شول هغې پخپله ليدل، چې مخ به يې ورته ښوده، او په شعرونو اوعاطفې سره به يې ځواب ورکاوه. البته، په پای کې به هغې ټولو ته ويل، «خو پرتاسو اوبه نه دي اوښتي.» هيڅوک نه پوهېده چې د هغې هدف څه دی.

هرکله به چې هغې خپل مخ وښود، خلک به د هغې د سخت حسن په ليدلو سره پر ځمکه پرېوتل. ځينې به ناروغ او کمزوري شول. نور

(c) ketabton.com: The Digital Library

به د هغې د سخت اوعجب حسن په سبب د رامنځته شوې ناروغۍ له امله بې سده شول. له دې سره سره چې خلک بې سده او کمزوري کېدل، پاچایان به لا هم راتلل او له هغې سره به یې مینه څرګندوله، خو په پای کې به هغې هغوی ټولو ته سره ورته ځواب ورکاوه.

په ورته وخت کې، د سوداګر زوی هلته په هماغه ځای کې پاتې شو، او د ځان له پاره یې یو ځای جوړ کړ چې په کې واوسېږي. هغه هلته استوګن شو، هغه به هم موسیقي غږوله. هغه د سندرو په هنرکې مهارت درلود. هغه داسې لرګي انتخاب کړل چې د موسیقۍ آلې ترې جوړېدې او دغه ډول آلې یې په خپله جوړې کړې. د حیواناتو له رګونو څخه یې ورته تارونه جوړ کړل. په دې توګه، هغه وکولی شول چې ځان ته یې وغږوي.

د سوداګر زوی هغه یادښت چې د امپراتور لورهغه وخت ورلېږلی وه چې دی په زندان کې و او ده ساتلی و، واخست او خپلې آلې به یې غږولې. هغه به ټول هغه څه چې هغه ته پېښ شوي ول، لکه دا چې ښځګه د هغه پلار یو سوداګر وه او داسې نور او دا چې ښځګه هغه ایسته غورځول شوی وه، وریادول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه لاړ او یادښت یې واخیست او په یوه ونه باندې یې نښه وکړه. هلته، په ونه کې دننه، هغه یو ځای جوړ کړ، او یادښت یې په کې پټ کړ.

وروسته هغه د څه وخت له پاره هلته وه، یوه ورځ، داسې یو سخت باد راوالوت چې د هغه ځای ونې یې په بل مخ واړولې. هغه نشوی کولی چې هغه ونه وپیژني چې هغه په کې یادښت پټ کړی وه. تر هغه وخته پورې چې ونې ولاړې وې هغه کولی شوی چې خپله نښه وپیژني، خو اوس چې ونې لوېدلې وې، دا ونه له ډېرو نورو هغو سره چې لوېدلې وې ګډه شوې وه، او هغه د هغې ځانګړې ونې د پېژندلو هېڅ لاره نه درلوده. د هغه له پاره ناشونې وه چې ټولې سره بېلې کړي او هغه یادښت ومومي، ځکه چې هلته ډېرې زیاتې ونې وې. له دې امله هغه وژړل او ډېرغمجن شو.

د سوداګر زوی پوه شو چې که هغه هلته پاتې شي ښکاره خبره ده چې لېونی به شي، ځکه چې هغه یو ډېرلوی غم لیدلی وه. هغه پرېکړه وکړه چې باید له دغه ځای څخه لاړشي. پروا نه کوي چې که هرڅه ورپېښ شي، خو هغه باید دغه ځای پرېږدي. که هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسې کار ونه کړي، هغه به د خپل ژور خفګان له امله له خطر سره مخامخ شي.

نو هغه يو څه غوښه او مېوه په يوه کڅوړه کې واچول، او په نامعلوم لوري وخوځېد. هغه په هغه ځای کې ننښې ولګولې چې هغه پرېښود. هغه ترهغه لاړ چې يو استوګنځي ته ورسېد. هغه پوښتنه وکړه، «دا کومه ځمکه ده؟» او هغوی ځواب ورکړ. هغه پوښتنه وکړه چې آيا هغوی کله هم د نړۍ د امپراتور په هکله اورېدلي دي.

هغوی ځواب ورکړ«هو».

هغه پوښتنه وکړه چې آيا هغوی د هغه د لور، عظيمې ښکلا په هکله کله اورېدلي دي. هغوی ځواب ورکړ، «هو، خو ناشونې ده چې څوک دې واده ورسره وکړي،» (ځکه چې هغه هره مرکه ردوي).هغه، د دې ټکي په پام کې نيولو سره چې هغه به ونشي کولی چې هغه ځای ته لاړ شي، يوه پرېکړه وکړه. هغه د هغه وطن پاچا ته ورغی، او خپل زړه يې ورته تش کړ. هغه پاچا ته وويل چې هغه د هغې رينښتنی د ژوند ملګری دی، او د ده له امله، هغه له بل چا سره واده نه کوي. دا چې هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

نشـي کولی چې هلته لاړ شـي، هغه به پاچا ته ټولې هغه نښې ورکړي چې هغه يې لري، هغه اوه اوبه دي چې هغې ښودلي دي. هغه پوښتنه وکړه چې پاچا دې هلته لاړ شي او له هغې سره دې کوژده وکړي، او دا چې پاچا دې هغه ته د دغو معلوماتو د ورکولو اجوره ورکړي.

پاچا پوه شو چې هغه رښتيا وايي، ځکه دا ناشونې ده چې داسې کيسه دې جوړه شي، او په دې نظربندۍ هغه خوشحاله شو. هغه سوچ وکړچې هغه له هغې خوا نه شهزادګۍ له ځان سره راولي، خو ځوان لا هم دلته وي، نودا به ښه نتيجه ورنه کړي. آيا بايد ويې وژني؟ هغه دومره زړه نه درلود چې داسې کار وکړي، ځکه ويل يې چې ولې بايد هغه د دې له امله ووژل شي چې ده ته يې يو خدمت کړی دی؟ له دې امله، هغه پرېکړه وکړه چې د سوداګر زوی له دغه ځای نه دوه سوه ميله ليرې وشړي.

هلک په دې کار ډېر خپه شو، ځکه چې هغه د پاچا له پاره د يو خدمت په ترسره کولو وشړل شو، نو هغه بل پاچا ته لاړ او کيسه يې ورته وکړه. (هغه، ځوان سړی، د سوداګر زوی، دا چې هغه لومړني پاچا د هغه د شړلو له امله

(c) ketabton.com: The Digital Library

په قهر کړ، بل پاچا ته لاړ او ټوله کیسه یې ورته له ټولو نښو سره وکړه، چې هغه بل باید بیړه وکړي چې له ښکلا سره واده وکړي.) هغه ټولې نښې دویم پاچا ته وویلې، او هم یې یوه بله نښه پرې ور اضافه کړه. هغه پاچا ته وویل چې هغه باید بیړه وکړي او په چټکۍ سره کار پیل کړي، څو په لومړني پاچا ورمخکې شي او ځان هلته ژر ورسوي خو که هلته ژرهم ونه رسېږي هغه بیا هم له لومړني څخه یوه نښه ډېره لري.

دویم پاچا هم د لومړني هغه په څېر مفکوره درلوده (یعنې چې که ځوان هلته وي دا به د ده له پاره ښه نه وي). هغه هم هغه دوه سوه میله نورهم لیرې وشاړه. هغه بیا ډېرخپه شو نوهغه یو درېیم پاچا ته لاړ. هغه ته یې هم لکه د نورو په څېرټوله کیسه تېره کړه او درېیم ته هغه نورې نښې، ډېرې ښې نښې هم ورکړې.

لومړني پاچا په چټکۍ سره سفر پیل کړ او هغه ځای ته لاړ چې د امپراتور ښکلې لور په کې وه. هغه یوه سندره کمپوز کړه، او په مهارت سره یې ټول هغه ځایونه په کې یاد کړل چې شاهدان نیول شوي ول (چې هغه اوه ډوله اوبه وې، او هغه غټې نښې وې چې هغې د واده له پاره په یوه سړي کې لټولې)، خو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

سندرو د قواعدو په اساس هغه د ځایونو په هکله له هغه څه نه چې په کیسه کې ریښتیا پېښ شوي ول په یوه بېل ترتیب سره وغږېد. هغه د سندرې د فورم په پام کې نیولو سره په دې ډول وغږېد. پاچا هغه ځای ته راغی چې د هغو کسانو له پاره برابر شوی وه چې هغه یې بدرګه کوله او خپل غزل یې ولوست.

کله چې د امپراتور لور د دغو ځایونو، چې اوه ډوله اوبه وې، ذکر واورېد ډېره حیرانه شوه. هغې یقین وکړ چې دا د هغې په تقدیر کې لیکل شوی د ژوند ملګری دی. البته، هغې یو څه ناباوري درلوده ځکه د ځایونو نومونه په صحیح ترتیب سره یاد شوي نه ول، خو هغې فکر کاوه چې ښایي هغه ترتیب د شعري هنر په پام کې نیولو سره بدل کړی وي، نو پرېکړه یې وکړه چې دا به هم هغه شخص وي. هغې هغه ته ولیکل چې هغې خپل ځان د هغه له پاره په نامه کړ. هرې خوا ته خوښي او خوشحالي شوه ځکه چې لویې ښکلا خپله جوړه ومونده. ډېر ژر د واده له پاره تیاری ونیول شو.

په همدې وخت کې هغه بل راورسېد (یعنې هغه بل پاچا چې ځوان هغه ته هم ټولې نښې ورښودلې وې، او یوه بله یې هم ورښودلې

(c) ketabton.com: The Digital Library

وه) او هغه بل هم هلته [د هغې ماښۍ ته] ځان ور ورساوه. هغه ته وویل شول چې هغې لا دوخته له یو کس سره د واده کولو له پاره موافقه کړې ده، خو هغه د دې خبرې پروا ونه کړه. هغه وویل چې هغه داسې څه لري چې هغې ته یې ووایي په حالاتو باندې به اغېزه وکړي. هغه ځان هغې ته ور ورساوه او خپل شعر یې ولوست، اوس نو ټول ځایونه په صحیح ترتیب سره یاد شول او یوه بله نښه هم په کې زیاته شوه.

هغې وپوښتل، «نو لومړنۍ هغه په دا هرڅه څنګه پوهېده؟» که هغه رینښتیا ویل (چې څوان سړي لومړني هغه ته ویلي دي) دا به خامخا د هغه له پاره ښه نه وه، نو هغه وویل چې هغه نه پوهېږي. هغې ته دا حالت ډېرګنګس کوونکی شو او ډېره سربداله شوه، ځکه چې لومړني هغه هم ټول ځایونه یاد کړي ول. له هغې سره پوښتنه دا وه چې خلک څنګه کولی شي چې په دې ټولو نښو باندې وپوهېږي؟

خو چې ویې لیدل چې دویم پاچا نښې په ترتیب سره یادې کړې او دا چې یوه نښه یې اضافه ورکړه، نو دا ورته منطقي ښکاره شوه چې یره دویم پاچا د هغې رینښتنی د ژوند

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملګرى دى. دا ورته ښوونې ښکاره شوه چې ښايي لومړني هغه دغه ځايونه د دې له پاره ياد کړي وي چې د نظم د کمپوزهنر يې ذهن ته وروستي وي، خوهغې پرېکړه وکړه چې هېڅ به نه کوي. (يعنې هغې نشول کولى چې د کوم کار د کولو پرېکړه وکړي، نو هغه چوپ شوه او دا يې رد کړه چې له کوم چا سره دې واده وکړي.)

ځوان سړى، يعنې د سوداګر زوى، هغه وخت چې دويم پاچا ليرې وشاړه، بيا ډېر زيات خپه شو. هغه يو درېيم پاچا ته لاړ او ټوله کيسه يې ورته وکړه، او نورې ښښې، ډېرې قانع کوونکې ښښې يې هم ورته ورکړې. او درېيم ته، هغه خپل ټول زړه تش کړ، ورته ويې ويل چې له هغه سره يو يادښت وه چې په هغه باندې دغه ټول ځايونه (يعنې اوه ډوله اوبه) رسم شوي ول. هغه پاچا ته وويل چې ټول دغه ځايونه د يو کاغذ پرمخ رسم کړي او هغې ته يې ور وړي.

درېيم پاچا هم ځوان سړى له هغه ځاى څخه دوه سوه ميله نورهم ليرې وشاړه، او درېيم پاچا هم هلته وروځغاست. هلته په رسېدلو سره، هغه ته وويل شول چې هغه نور دوه (دوه پاچايان) لا پخوا هلته رسېدلي دي. هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وویل چې هغه بیا هم غواړي چې خپله هڅه وکړي، ځکه هغه داسې څه لري چې حالات به بېخي بدل کړي. خلک نه پوهېدل چې هغې ولې دغه پاچایان تر نورو ډېرغوښتل.

درېیم پاچا [د هغې ماښۍ ته] راورسېد او خپل نظم یې له ډېرو روښانه ښو سره، له لومړنیو دوو ښه، ولوست. بیا هغه هغې ته هغه یادښت وښود چې ټول ځایونه پرې رسم شوي ول (چې هغه په خپله رسم کړي ول.)

هغې ټکان وخوړ، خوځه یې نشول کولی، ځکه چې د لومړني هغه په لیدلو سره هم هغې فکر کړی وه چې هم هغه به وي، او بیا هغه ته ورته د دویم په هکله هم. له دې امله، هغې وویل چې هغه به تر هغه وخته پورې باور ونه کړي چې کوم څوک هغې ته اصلي یادښت راوړي.

په ورته وخت کې ځوان سړي فکر وکړ چې هغه به څومره نور لیرې لېږل کېږي؟ له دې امله هغه فکر وکړ چې هغه به په خپله هلته (د امپراتور لور ته) ورشي. ښایي چې هغه کوم څه وکړي. نو هغه تلو تلو تر هغه چې بالاخره هلته ورسېد. هغه وویل چې هغه کوم څه لري چې په ویلو سره به یې وضعه

(c) ketabton.com: The Digital Library

بېخي بدله شـي او هغه راغلی او خپل غزل يې ولوسـت. هغه نورې نښـې، ډېرې قانع کوونکې نښـې هم وښـودې. هغه هغې ته ښـوونځي ته په ګډه سـره د هغوی د تللو او ورته نورې نښـې وويلې. هغه هغې ته هرڅه وويل يعنې دا چې څنګه هغه نور پاچايان لېږلي او څنګه هغه يادښـت په يوه ونه کې پټ کړی وه، او نور هرڅه چې هغه ته پېښ شـول.

خوهغې د دې ټولو هېڅ پروا ونه کړه. لومړنيو درې پاچايانو هم د يادښـت د نه لرلو له امله خپل معذرتونه وړاندې کړي ول او دا چې هغه دې وپېژندل شـي دا هم په څرګنده شونې نه وه، ځکه چې هغه ډېر پخوا تللی وه. هغې رد کړه چې د ټولو نښـو په هکله دې د څه پروا وکړي ترهغه چې دی هغه اصل يادښـت راوړي چې هغې په خپل لاس ورته ليکلی وه. هغې مخکې هم داسـې فکر کړی وه چې لومړنی هغه په يقين سـره اصل سـړی وه، او په ورته ډول هغه نور پاچايان. له دې امله، هغې نورې نښـې يا مثالونه نه غوښـتل.

ځوان سـړي پرېکړه وکړه چې هغه نشـي کولی چې هلته ايسـار شـي (يعنې هغه نشـي کولی چې تر اوږدې مودې هلته پاتې شـي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځکه چې که معلومه شي چې هغه دلته دی امپراتور به يې ووژني). له دې امله، هغه پرېکړه وکړه چې بېرته په دښته کې خپل ځای ته چې پخوا په کې وه، ستون شي، او خپل پاتې ژوند هلته تېر کړي. هغه تلو تلو چې دې دښتې ته راشي، او بالاخره هغه هلته ورسېد.

په دې موده کې ډېر کالونه تېر شول. ځوان سړي پرېکړه وکړه چې هغه به په دښته کې واوسېږي او خپل عمر به هلته تېر کړي. هغه په دې نړۍ کې د يو انسان د ټول ژوند په هکله فکر کړی وه او دې نتيجې ته رسېدلی وه چې د هغه له پاره به غوره وي چې خپل پاتې ژوند په دښته کې تېر کړي. هغه هلته اوسېده او د پخوا په څېر يې مېوه او داسې نور شيان خوړل.

په ورته وخت کې، هلته يو سمندري غل وه. هغه اورېدلي ول چې داسې يوه ښکلې ښځه موجوده ده، او داسې فکر يې وکړ چې هغه بندي کړي. هغه پخپله له هغې سره څه نشول کولی، ځکه چې هغه خصي وه، خو هغه فکر وکړچې که ويې تښتوي کولی شي چې په يو پاچا باندې يې د ډېرو زياتو پيسو په مقابل کې خرڅه کړي. هغه د عمل له پاره په يوپلان باندې کار پيل کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس یو سمندري غل د خپل سر په هکله فکر نه کوي. که هغه بریالی کېږي، بریالی کېږي به، او که نه، نه، او هغه څه پروا کوي، ځکه چې هغه لکه د نورو سمندري غلو په څېرد بل چا خبرې ته غوږ نه نیسي.

سمندري غل لاړاو یوه زیاته اندازه سودا یې واخیسته، چې په فوق العاده توګه ډېره وه. هغه همدارنګه د سرو زرو مرغان هم جوړ کړل. مرغان په داسې هنر سره جوړ شوي ول چې اصلا داسې ښکارېدل لکه ژوندي چې وي، هغه داسې ښکارېدل فقط لکه د ریښتیانو مرغان. هغه همدارنګه د سرو زرو دانه خوړئ جوړې کړې، چې په هغو باندې به مرغان ودرېدل. مرغانو کولی شوی چې په دانه خوریو باندې بې له دې چې دانه خوړئ ماتې شي، که څه هم چې مرغان به ډېرغټ ول، ودرېږي.

هغه همدارنګه په داسې طریقه کار کړی وه چې مرغان په کې داسې ښکارېدل لکه چې سندرې وایي. یوه به خپله ژبه ټرقوله، یوه به حیک حیک کول، او یوه به سندرې ویلې. دا ټول په چلونو سره کېدل: سړي به د مرغانو ترشا په کشتۍ باندې په یوه کوټه کې ناست ول، او هرڅه به دغو سړیو کول، خو دا داسې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښکارېدل لکه هر څه چې پخپله مرغان کوي، ځکه چې هغه په نه ليدل کېدونکو تارونو باندې سره نښلول شوي ول، او سړي به فکر کاوه چې دا هر څه پخپله مرغان کوي.

په داسې حال کې چې دا هرڅه ورسره ول، سمندري غل هغې ځمکې ته ورسېد چې د امپراتور لور په کې وه. کله چې غل هغه ښار ته راغی چې هغه په کې وه، هغه خپله کشتۍ د لنگر ځای ته وربرابره کړه او لنگر يې واچاوه. هغه خپل ځان د يوه لوی سوداگر په توگه ښکاره کړاو خلک راغلل چې هر ډول ظريف توکي واخلي. هغه له درې مياشتو څخه هم ډېرهلته پاتې شو په داسې حال کې چې خلکو هغه ښايسته شيان چې له هغه نه يې اخيستې ول کورونو ته وړل.

د امپراتور لورهم غوښتل چې له هغه څخه څه واخلي، او هغې يو پيغام ورولېږه، چې په کې يې له هغه څخه غوښتنه کړې وه چې خپل شيان هغې ته وروړي. هغه په يو پيغام سره ځواب ورکړ چې هغه اړتيا نه لري چې خپل د خرځانه توکي د پېرودونکي کور ته، ان که د امپراتور لور هم وي، وروړي. هرڅوک چې د هغه شيان غواړي بايد هغه ته راشي. يو سوداگر مجبورنه دی چې بل ډول کار وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د امپراتور لور پرېکړه وکړه چې هغه ته ورشي. او د هغې دود وه چې، کله به چې هغه د خلکو منځ ته تلله، په خپل مخ باندې به يې يو شال غوړاوه، چې خلک ونشي کولی چې هغه وګوري، که نه هغوی به بې هوښه شي او د هغې د ښکلا د ليدلو له امله به ناروغ شي.

د امپراتور لور په داسې حال کې چې مخ يې په شال پټ وه، بهر ووتله، او خپلې سهيلۍ يې له ځان سره کړې. د سپاهيانو يوې ډلې د هغې ساتنه کوله. هغه په نوم سوداګرته (چې په اصل کې غل وه) ورغله، د هغه ځينې جنسونه يې واخيستل، او خپله مخه يې ونيوله.

سوداګر وويل، «که ته بيا راشې زه به لا ښايسته شيان چې په ريښتيا سره حيرانوونکي دي در وښيم.» په دې سره هغه کورته ستنه شوه.
ترهغه وروسته هغه بيا راغله، ځينې جنسونه يې واخيستل، او بيا کور ته ستنه شوه. سمندري غل تر څه وخته پورې هلته پاتې شو، او هغه د هغه له ليدلو سره بلده شوه. هغه به هغه ته ډېره راتلله.

بيا يوه ورځ هغه سوداګر ته راغله او هغه لاړ او د وړې کوټې لوري ته ور يې پرانست چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

سرو زرو مرغان او داسې نور شیان په کې ول. هغې وکولی شول چې هغوی وګوري، اوهغه یوه حیرانوونکې ننداره وه. نورو خلکو چې له هغې سره ول هم غوښتل چې وړې کوټې ته راشي.

هغه وویل، «نه نه، زه دا له تا پرته بل چا ته نه ښیم ځکه ته د امپراتور لور یې، که نه زه نه غواړم چې نورو ته یې ښخي وښیم.»

هغه دننه یوازې لاړه. هغه هم کوټې ته ورننوت، او له دننه خوا نه یې ورکولپ کړ. بیا هغه یو خام کار وکړ، هغه له هغې څخه کالي واېستل او په یوه بوجۍ کې یې ورتخته کړه.

هغه بیا د خپلو ماهوګانو له ډلې څخه یوه ته د هغې کالي ورواغوستل، د هغه پرمخ یې شال وروغوړاوه، او بهرته یې ټېل واهه، او ورته ویې ویل «ځه.»!

ماهو نه پوهېد چې په هغه باندې څه کېږي. سم چې هغه راووت په داسې حال کې چې مخ یې په شال باندې پټ شوی وه، سپاهیان چې نه پوهېدل چې هغه څوک دی په بیړه له هغه سره روان شول. هغوی فکر کاوه چې هغه د امپراتور لور دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماهو له ډلې سره هغه لوري ته لاړ چې هغوی ورښوده، او هغه نه پوهېده چې هغه چېرې دی. نو هغه د امپراتور د لور کوټې ته راغی. کله چې د هغه مخ لوخ کړای شو هغوی ولیدل چې هغه یو ماهو دی! هلته یوه لویه غوغا جوړه شوه، او د ماهو مخ په څپېړو شین شو، او بهر ته وغورځول شو. هغه ملامت نه وه ځکه چې هغه د دې شیانو په هکله هېڅ نه پوهېده.

سمندري غل چې د امپراتور لور یې نیولې وه پوهېده چې هغه به خامخا تعقیبېږي. هغه کشتۍ پرېښوده او خپل ځان او هغه یې په یوه کنده کې چې د باران له اوبو ډکه وه، پټ کړل تر هغه چې بلوا پای ته ورسېده. هغه خپلو ماهوګانو ته امر وکړ چې لنګر پرې کړي او په چټکۍ سره دغه ځای پرېږدي، ځکه چې بې له شکه چې هغوی به تعقیب شي. په یقین سره چې هغوی به په کشتۍ باندې ډزې ونه کړي، ځکه داسې به وګڼل شي چې د امپراتور لور په کشتۍ کې ده. هغه وویل، «بلکې هغوی به تاسو تعقیب کړي، له دې امله تاسو باید په چټکۍ سره دغه ځای پرېږدئ!، او که هغوی تاسو ونیسي، نو څه؟». هغوی لکه د نورو غلو د خپلوځانونوهېڅ پروا ونه کړه (هغوی هېڅ نه اورېدل).

(c) ketabton.com: The Digital Library

پېښه داسې وشوه لکه چې وړاندوینه یې شوې وه. یوه لویه غوغا جوړه شوه او په چټکۍ سره هغوی تعقیب شول، خوهغوی شهزادګۍ هلته پیدا نه کړه. سمندري غله خپل ځان له هغې سره یو ځای هلته د باران د اوبو په یوه کنده کې پټ کړ اوهغوی هلته پاتې شول.

سمندري غله هغه وګوابنله چې چیغې ونه وهي او خلک یې اواز وانه وري. هغه هغې ته وویل، «ما خپل ژوند ستا له پاره په خطر کې واچاوه چې ودې نیسم، خو که زه تا بېرته له لاسه ورکړم او که ته له ما نه بېرته واخیستل شې، بیا به زما ژوند زما له پاره هېڅ ارزښت ونه لري. له دې امله، ځنګه چې ته چیغې ووهې، سملاسي به زه ستا ستونی خفه کړم.» هغه سخته وېرېدلې وه (د امپراتور لور چې له غله سره په کنده کې پرته وه د هغه د ګواښ له امله وېرېدلې وه چې چیغې ونه وهي).

وروسته هغه له هغې سره یو ځای له دغه ځای څخه لاړ او هغه یې یوه ښار ته راوړه. هغوی تلل تلل ترهغه چې داسې یو ځای ته ورسېدل چې هلته قاتل پوه شو چې خلک د هغه لټه کوي. هغه بیا خپل ځان له هغې سره یو ځای، دا ځل په یو مذهبي حمام کې پټ کړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته هغه دا ځای هم پرېښود او یو بل ځای ته راغی، او هلته هم هغه له هغې سره په یو بل ډول اوبو کې پټ شو. په دې توګه هغه هر ځل له هغې سره په یو بل ډول اوبو کې پټېده، تر دې چې هغه له هغې سره په اوو ډوله داسې اوبو کې پټ شو چې سوداګر د هغې له مور سره پټ شوی وه، چې اوه شاهدان او داسې نورهم له هغو څخه تشکیل شوي ول.

بالاخره، هغه له هغې سره سیند ته راغی. هغه هڅه وکړه چې لېترلېږه یوه د کب نیونکي کشتۍ پیدا کړي چې له هغې سره پرې له سیند پورې تېر شي. هغه یوه کشتۍ ومونده، او د امپراتور لور یې له ځان سره کړه.

هغه پخپله هغې ته اړتیا نه درلوده، ځکه چې هغه خصي و، بلکې غوښتل یې چې په یو پاچا باندې یې خرڅه کړي، او وېره یې لرله چې ښایي کوم څوک هڅه وکړي او له هغه څخه یې په زور سره واخلي. له دې امله هغه هغې ته د یو ماښو کالي ورواغوستل، چې د یو سړي په بڼه ښکاره شي.

سمندري غله له هغې سره په سیند کې سفر وکړ (یعنې د امپراتور له لور سره، چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس به یې مونږ د یو نارینه په توګه یادوو، ځکه چې سمندري غله د هغې جامو ته همداسې تغیر ورکړی وه) بیا یو توپاني باد راغی او کشتۍ یې یو ساحل ته واپسته، او کشتۍ ماته شوه. هغوی د هماغې دښتې ساحل ته ورسېدل چې ځوان سړی په کې اوسېده. کله چې هغوی هلته راغلل، غله د سفر د لارو په هکله تجربې درلودې او پوه شو چې دا په دښته کې داسې یو ځای دی چې کشتۍ هېڅکله ورته نه دي راغلي. نو هغه پوه شو چې هلته څوک نشته چې دی ترې ووېرېږي، او هغه هغې ته اجازه ورکړه چې خواوشا وګرځي. نو هغه (غل) په دې لاره او هغه (شهزادګۍ) په هغې لاره روان شول چې خواړه ولټوي. هغه له یاغي ځخه ډېره لیرې شوه، او یاغي په خپله لاره لاړ.

کله چې هغه پوه شو چې هغه نور د هغه په سیمه کې نه ده، هغه هغې ته غږونه پیل کړل، خو هغې پرېکړه وکړه چې هېڅ ځواب ورنه کړي. هغې له ځان سره فکر وکړ، « زما برخلیک دا دی چې هغه به ما ویلوري. ولې باید زه هغه ته ځواب ورکړم؟ که هغه ما بیا ومومي، زه به ځواب  ورکړم چې ما د هغه اواز نه دی اورېدلی، په ځانګړې توګه دا چې هغه نه غواړي چې ما ووژني، ځکه هغه غواړي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما خرڅه کړي» هغې هغه ته ځواب ورنه کړ، او نورهم وړاندې لیرې لاړه. غله هرې خوا ته د هغې لټون وکړ، خو هغه یې ونه موندله. هغه وګرځېد او بیا یې هم د هغې کومه نښه ونه مونده، او ښایي چې هغه ځناورو وخوړ. نو هغه نوره او نوره هم سرګردانه شوه.

هغې وکولی شول چې خواړه ومومي او ترهغه وړاندې لاړه چې هغه ځای یې وموند چې ځوان سړی (یعنې د سوداګر زوی) په کې اوسېده. له دې امله چې د هغې وېښتان اوږده شوي ول، د سړیو کالي یې اغوستي ول او ځان یې د یوه ماهو په څېر سمبال کړی وه، هغوی یو بل ونه پېژندل.

سم چې هغه راورسېد، ډېر خوشحال شو چې بل انسان هم هلته راغی. هغه له هغې څخه پوښتنه وکړه، «ته دلته څنګه راغلې؟»

هغې ځواب ورکړ، «زه له یو سوداګر سره په سیند باندې روانه وم، او داسې نور. ته دلته څنګه راغلې؟»

هغه هم ځواب ورکړ، «د یو سوداګر له لارې...». دواړه هم هلته سره یو ځای پاتې شول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته له هغه چې د امپراتور لور له امپراتور څخه واخیستل شوه، ملکې د خپلې لور په له لاسه ورکولو سره سخت ماتم وکړ، اوخپل سر یې پر دېوال واهه. هغې امپراتور ملامتاوه، او ورته ویل یې، «تا د خپل کبر له امله ځوان سړی له لاسه ورکړ، او اوس زمونږ لور ورکه شوه»!

هغې هغه ته ویل، «هغه زمونږ ټوله نېکمرغي او بریالیتوب وه! اوس مونږ هغه له لاسه ورکړه! اوس ما ته څه پاتې شول!» هغې ډېر په سختۍ سره د هغه ملامتولو ته دوام ورکړ.

امپراتورپخپله هم د خپلې لور د له لاسه ورکولو له امله ډېر زیات غمجن شو او سربېره پر دې، ملکې هم ډېرې ستغې سپورې ورته وکړې او سخت یې وکړاوه، او په دې توګه د هغوی ترمنځ سختې شخړې او جنجالونه رامنځته شول. هغې هغه ته ډېرې بدې خبرې وکړې، او هغه یې ډېر زیات په قهر کړ، تر دې چې هغه پرېکړه وکړه چې هغه له ځانه لیرې کړي. هغه قاضیان وټاکل چې ملکه محاکمه کړي او هغوی د هغې له پاره د تبعید حکم صادر کړ او په دې توګه هغه تبعید کړای شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر دې سملاسي وروسته، امپراتورجګړې ته لاړ او برى يې په برخه نه شو. نو هغه د دې پېره پر يو جنرال ورواچوله: «دا چې تا داسې وکړل، جګړه دې بايلله.» بيا هغه جنرال تبعيد کړ.

تر هغه وروسته هغه بيا جنګ ته لاړاو بيا بريالى نشواوهغه بيا جنرال تبعيد کړ. په دې توګه يو شمېرجنرالان تبعيد کړاى شول.

د رعيت وګړي پوه شول چې هغه يوعجيب او غريب چلند کوي. لومړى هغه ملکه تبعيد کړه، او اوس جنرالان. هغوى (ولس) پرېکړه وکړه چې وضعه بېرته پر خپل ځاى واړوي، هسې چې ملکه بېرته راوغواړي او دى تبعيد کړي. ملکه کولى شي چې په خاوره واکمني وکړي.

هغوى همداسې وکړل. امپراتور تبعيد کړى شو اوملکه بېرته واک ته ورسول شوه، اوهغې په خاوره باندې واکمني پيل کړه.

ملکې سملاسي يو حکم صادر کړ چې سوداګر او د هغه مېرمن دې (چې امپراتور کمزوري کړي او په فقيرانو باندې اړولي ول) بېرته په خپل حال کړاى شي. هغې هغوى خپل حرم ته وروستل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې امپراتور لیرې بوول کېده، هغه له هغو کسانو څخه چې دی یې بووه غوښتنه وکړه چې خوشې یې کړي. هغه ورته وویل، «زه ستاسو امپراتور وم او بې له شکه چې ما ستاسو له پاره ښه کارونه وکړل. اوس پر ما رحم وکړئ او پرې مې ږدئ چې لاړ شم. زه به په قطعي توګه دې پاچايۍ ته بیا رانشم. تاسو باید له هېڅ څه نه هم ونه وېرېږئ. پرېږدئ چې زه لاړ شم، او زه به دا ځای ترک کړم. پرېږدئ چې لږ ترلږه دا څو کاله چې ژوندی یم ازاد وګرځم». هغوی هغه پرېښود او هغه په خپله مخه لاړ. هغه تلو تلو، چې په دې کې څو کالونه تېر شول او امپراتور سرګردان شو، تر دې چې یو سیند ته ور ووت.

یوه باد د هغه کشتۍ په مخه کړه، او هغه هم هغې دښتې ته راغی [چې نور ورته رارسېدلي ول]. هغه بالاخره هغه ځای ته راغی چې هغه نور دوه په کې اوسېدل. (هغوی هغه ځوان سړی وه چې د سوداګر زوی وه او د هغه [خپله] ښایسته لور وه، چې اوس یې د سړیو کالي اغوستي ول). هغوی یو بل ونه پېژندل، ځکه چې د امپراتور وېښتان ډېر اوږده شوي ول او له هغه وخت نه چې هغه روان شوی وه ډېر کالونه تېر شوي ول. د هغوی وېښتان هم ډېراوږده شوي ول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغوی له هغه نه پوښتنه وکړه، «دلته ځنګه راورسېدې؟»
هغه ځواب ورکړ، «د یو سوداګر په واسطه.»

هغوی هم د هغه پوښتنو ته ورته ځوابونه ورکړل اوهغوی درې واړه سره یوځای هلته پاتې شول او د مخکې په څېر یې خوراک او څښاک کاوه. هغوی هلته د موسیقۍ آلې غږولې ځکه هغوی ټولو کولی شوی چې ویې غږوي؛ په دې سبب چې هغه یو امپراتور وه، او هغه نورو هم غږولی شوای. اوهغه، ځوان سړی، په هغوی کې تر ټولو کلک وه، ځکه چې هغه ډېره اوږده موده هلته وه. هغه هغوی ته غوښه راوړه او هغوی به خوړه. هغوی داسې لرګي سوزول چې د یوې متمدنې سیمې تر سرو زرو ډېر ظریف ول.

ځوان سړي هڅه وکړه چې هغوی پر دې قانع کړي چې دا د هغوی له پاره یو ډېر ښه ځای دی چې د خپل عمر پاتې موده په کې تېره کړي. د هغو ګټو په نسبت چې خلک یې معمولا په متمدنو سیمو کې لري غوره دا ده چې سړی دلته پاتې شي او خپل عمر دلته تېر کړي.

هغوی له هغه څخه پوښتنه وکړه، «مخکې تر دې چې ته دلته راشې تا څه ګټې درلودې چې ته وایې چې دا ځای ښه دی؟»

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه هغوی ته ځواب ورکړ او هغه څه یې ورته وویل چې هغه ته پېښ شوي ول چې څنګه هغه د یوه نېکمرغه سوداګر زوی وه او داسې نور، او دا چې څنګه هغه بالاخره دغه ځای ته راغی او دا چې څومره ښه وه چې دی د یوسوداګر زوی وه. هغه هرهغه څه درلودل چې اړتیا یې ورته لرله، او دلته هم هغه هرهغه څه لري چې ورته اړتیا لري. (په دې توګه ځوان سړي هغوی ته هرڅه وویل.) هغه هغوی ته وښوده چې ښه به وي چې که خپل پاتې ژوند په دې ځای کې تېر کړي.

امپراتور پوښتنه وکړه، «آیا کله دې د ځمکې د امپراتور په هکله اورېدلي دي؟» د سوداګر زوی ځواب ورکړ چې هو اورېدلي یې دي. بیا هغه له هغه ځخه د ښکلا پوښتنه وکړه، چې آیا د هغې په هکله یې اورېدلي دي. هغه ځواب ورکړ، «هو».

ځوان سړي پیل وکړ چې په قهر سره وغرېږي، «هغه قاتل!» لکه یو کس چې بل ته غاښونه چیچي، ځوان سړی د امپراتور په هکله په قهر سره غږېد، ځکه چې هغه نه پوهېد چې امپراتور په خپله له هغه سره خبرې کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

امپراتور پوښتنه وکړه، «ولې هغه قاتل دی؟»
هغه ځواب ورکړ، «زه چې اوس دلته یم دا د هغه د ظلم نتیجه ده!»
امپراتور پوښتنه وکړه، «هغه ځنګه پېښ شول؟»

ځوان سړي فکر وکړچې دلته خو داسې څوک نشته چې دی ترې ووېرېږي، نو د هغه څه ټوله کیسه یې وکړه چې پرې تېر شوي ول. [په ښکاره خو مخکې هغه یوازې دومره هغوی ته ویلي ول چې هغه د یو سوداګر زوی وه، خو هغه اصلي کیسه نه وه ویلې.]

امپراتور له هغه ښځه پوښتنه وکړه، «که امپراتور تا ته په لاس درشي، ته به ترې اوس هم هسې غچ واخلې؟»

دا چې ځوان سړی زړه سواند وه نو ځواب یې ورکړ، «نه. بالکل په معکوس ډول هسې چلند به ورسره وکړم لکه له تا سره مې چې وکړ.»

اوس نو امپراتور افسوس او فریاد پیل کړل، «دا امپراتور به اوس ځنګه سخت او تریخ عمر ولري!» هغه اورېدلي چې د هغه لور، عظیمه ښکلا ورکه شوې ده، او هغه په خپله تبعید کړای شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا ځوان سړي په حیرانتیا سره وویل، «دا د هغه د ظلم او کبر له امله ول! هغه هم خپل ځان خراب کړ او هم خپله لور. او زه یې دلته راوغورځولم، دا ټول د هغه له امله وشول.»

نو هغه له هغه (امپراتور له ځوان سړي) څخه پوښتنه وکړه، «که هغه ستا لاس ته درشي، ته به ترې غچ واخلې؟»

هغه ځواب ورکړ، «نه. بالکل په معکوس ډول هسې چلند به ورسره وکړم لکه له تا سره مې چې وکړ؟»

امپراتوربیا خپل هویت وښود. هغه ځوان ته وویل چې هغه پخپله امپراتور وه، او بیا یې ټول هغه څه وویل چې په هغه باندې تېر شوي ول. ځوان سړی هغه ته ورنژدې شو، ښکل یې کړ او په غېږ کې یې ونیو. او هغې، یعنې ښکلا، چې هغه هم هلته حاضره وه، او یوازې قیافه یې بدله وه هرهغه څه واورېدل چې هغوی پرې یو له بل سره خبرې کولې.

ځوان سړي خپل عادت جوړ کړی وه چې هره ورځ به تلواو په درې ونو باندې به یې نښې کولې او هلته به یې د یادښت لټون کاوه. دا چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هلته په زرګونو ونې وې، نو هغه به درې هغه ونې لټولې چې هغه به په نښه کولې، چې بله ورځ یې بیا ونه لټوي. هغه هره  ورځ دا کار کاوه چې ښایي بیا هم هغه یادښت ومومي (هغه یادښت چې هغې هغه ته لیږلی وه او هغه د ونو په منځ کې ورک کړی وه). کله به چې هغه له هغه ځای څخه بېرته راوګرځېد، سترګې به یې له اوښکو ډکې وې، ځکه هغه به چې لټون وکړ او څه به یې ونه موندل، ژړل به یې.

هغوی (یعنې امپراتوراو ښکلا) له هغه څخه پوښتنه وکړه، «ته د ونو په منځ کې څه لټوې؟ او ولې د بېرته راستنېدلو پر وخت ستا په سترګو کې اوښکې وي؟»

نوهغه هغوی ته ټوله کیسه وویله چې څنګه د امپراتور لور، عظیمې ښکلا، هغه ته یو یادښت لیږلی وه، څنګه هغه له ونو څخه په یوه ونه کې پټ کړی وه، او څنګه یو توپاني باد راغلی وه، او داسې نور. او اوس دی هغه لټوي، او ښایي چې ویې مومي...

هغوی هغه ته وویل، «سباته چې کله ته ځې چې ویې لټوې، مونږ به هم له تاسره یوځای لاړ شو. ښایي مونږهغه یادښت ومومو».

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغوی همداسې وکړل. هغوی له هغه سره لاړل، او د امپراتور لور یادښت په یوه ونه کې وموند. کله چې هغې پرانیست، ویې لیدل چې د هغې خپل یادښت دی، چې د هغه په لاس لیکل شوی دی.

هغې له خپل ځان سره فکر وکړ، که هغه سملاسي خپل هویت هغه ته وښیي، هغه مجبوره ده چې خپله قیافه بدله کړي، او خپل اصلي جاذبیت ته بېرته وروګرځي. او که هغه بیا لکه د پخوا په څېریوه عظیمه ښکلا شي، کېدی شي چې هغه چپه او مړشي او هغې هیله لرله چې دا باید د دود له مخې په سمه توګه وشي (یعنې، هغه نشي کولی چې له هغه سره دلته په دښته کې واده وکړي، ځکه چې هغه باید یو ځانګړی واده ولري.) نوپه دې توګه هغې هغه یادښت یوازې هغه ته ور وګرځاوه، او هغه ته یې وویل چې هغې هغه موندلی دی.

هغه سمدلاسه چپه او رنځور شو. هغوی د هغه درملنه وکړه او بېرته یې ورغاوه او د هغوی ترمنځ لویه خوښي رامنځته شوه. ځوان سړي وویل، «په دې یادښت باندې زه څه وکړم؟ آیا تر دې وروسته به کله هم زه هغه ومومم؟ معلومه ده چې هغه به اوس له کوم پاچا سره وي (ځکه هغه فکر کاوه چې غله به لکه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

امپراتورهغه ته ویلي ول لا دوخته هغه خرڅه کړې وي). ولې زه دې ته اړتیا لرم؟ پرېږده چې خپل پاتې ژوند همدلته تېر کړم.

هغه لاړ او یادښت یې بېرته هغې ته ورکړ، او هغې ته یې وویل، «ته یادښت درسره واخله، ته کولی شې لاړ شې او له هغې سره واده وکړې»، ځکه چې هغې خپل ځان د نارینه په څېر جوړکړې وه.

هغې ومنله چې لاړه شي، خو له هغه نه یې غوښتنه وکړه چې هغه هم له هغې سره لاړ شي. هغې وویل، «دا چې زه به خامخا له هغې سره واده کوم، هر څه به زما له پاره سم شي، نو زه به تا ته هم د خپل بریالیتوب له امله یو څه درکړم».

ځوان سړی پوه شو چې «هغه» (د امپراتور لور چې هغه فکر کاوه چې سړی دی) ډېر هوښیار دی، او هغه به خامخا د هغې په ودولو کې بریالی کېږي. له دې امله هغه ومنله چې له هغه سره لاړ شي.

امپراتور پلان ونیوه چې هلته یوازې پاتې شي، ځکه چې هغه خپلې پاچایۍ ته له ستنېدلو څخه ډارېده. هغې له هغه څخه هم غوښتنه وکړه چې راشي، ځکه چې هغه به

(c) ketabton.com: The Digital Library

خامخا ښکلا ترلاسه کړي، «اوس نو داسې څه نشته چې ته دې ترې ووېرېږې.» (هغې هغه ته داسې ووېل چې، «زه به خامخا ښکلا [چې فکر کېږي چې بندی ده] ومومم ، نو ته نور له هیڅ شي څخه هم باید ونه ډار شې، ځکه چې د هغې په موندلو سره به ستا بخت بېرته ښه شي.او له تا نه به هم غوښتنه وشي چې بېرته ستون شې.»)

درې واړه په ګډه روان شول. هغوی یوه کشتۍ په کرایه ونیوه او هغې پاچایۍ ته راغلل چې ملکه په کې اوسېدله. هغوی کشتۍ پرېښوده اوهغه ښار ته راغلل چې هغه په کې وه. د امپراتور لور پوه شوه چې که هغه خپل ځان سم دلاسه خپلې مور ته وښيي او ورته ووايي چې هغه بېرته راغله کېدی شي چې د هغې مور مړه شي. له دې امله، هغه لاړه او خپلې مور ته یې یو پیغام ورولېږه چې یو سړی پیدا شوی دی چې د [ورکې شوې] نجلۍ په هکله څه معلومات لري.

بیا هغه پخپله ملکې ته ورغله اوهغې ته یې د ټولې کیسې په هکله هغه څه ووېل چې د هغې په لور باندې تېر شوي ول. کله چې هغې خبرې پای ته ورسولې، هغې ووېل، «هغه هم همدلته ده.» هغې بیا حقیقت څرګند کړ: «هغه زه یم، زه هغه یم».

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغې بیا وویل چې د هغې شاوو، د سوداګر زوی، هم همدلته دی، خوهغې خپلې مور ته وویل چې دا د هغې یو شرط دی چې د هغې پلار امپراتور بېرته په خپل ځای شي. د هغې مور نه غوښتل چې داسې کار دې وشي، ځکه چې هغه لا تر اوسه پورې له دې امله هغه ته په قهر وه چې دا هر څه د هغه غلطي وه، خو بیا هم هغه مجبوره وه چې د خپلې لور غوښتنه ومني. هغوی غوښتل چې هغه (امپراتور) بېرته راولي خو کله چې هغوی وکتل چې هغه به چېرې وي، پوه شول چې هغه ورک دی. نجلۍ بیا ښکاره کړه چې امپراتور هم له هغې سره دی.

واده وشو او خوشحالي بشپړه شوه. جوړې پاچايي ونیوله او سلطنتي القاب یې ترلاسه کړل. یعنې د سوداګر زوی او ښکلا سره واده شول او هغوی لوی واکمن شول، یعنې په ټوله نړۍ واکمن شول.

تر دې وروسته، زوړ امپراتور کوم واقعي عظمت نه درلود، ځکه چې هر څه د هغه د غلطۍ له امله پېښ شوي ول، خو سوداګر ډېر لوړه مرتبه درلوده، ځکه چې هغه د نوي امپراتور چې اصلي اهمیت یې درلود، پلار وه. ماښو په مخ باندې په څپېړو ووهل شو او ایسته وشړل شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# اوه سوالګر

زه به درته ووایم چې یو وخت خلکو څنګه خوښي کوله.

یو وخت په یو ځای کې یو پاچا وه. پاچا یوازې یو زوی درلود. پاچا غوښتل چې پاچایي په خپل ژوند خپل زوی ته وسپاري، نو یو لوی مجلس یې جوړ کړ، او کله چې پاچا یو مجلس جوړوي بې له شکه چې دا یوه د خوشحالۍ [موقع] وي. او دا چې هغه پاچایي په خپل ژوند خپل زوی ته سپارله؛ دا نو بې له شکه چې یو خوندور کار وه، او مجلس ته راغلي خلک ټول وزیران، مشران او لویان وو.

دغه کارپه مجلس کې ډېر خوند کاوه. د وطن خلک ډېر خوشحاله وو چې پاچا په خپل ژوند کې پاچایي خپل زوی ته سپارله، ځکه چې د پاچا له پاره دا یوه ډېره لویه خبره [ګڼل کېږي چې پاچایي وسپاري]، نو مجلس ډېرخوندور وه. هلته په مجلس کې هر ډول ساعت تېرۍ؛ شاعران، ټوکیان او نور داسې څه چې سړی به یې خوشحالاوه موجود وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه وخت چې ټوله فضا خوشحالۍ نیولې وه، پاچا پاڅېد او خپل زوی ته یې وویل: دا چې زه یو نجومي یم، زه پوهېږم چې یوه ورځ به ته تخت له لاسه ورکړې، نو [کله چې داسې پېښه وشوه] پام به کوې چې خپه [یعنې پرېشان] نشې چې تا پاچایي له لاسه ورکړې ده. د خفګان پرځای خوشحاله اوسه.

او کله چې ته خوشحاله یې، زه به هم خوشحاله یم خوکه ته خپه هم شې زه به بیا هم خوشحاله یم چې ته پاچا نه یې، ځکه چې که ته خوشحاله نشې پاتې کېدلی، ته بیا د پاچایۍ وړتیا نه لرې. (په بله وینا، که ته داسې څوک یې چې د پاچایۍ په له لاسه ورکولو سره هم همېشه خوشحاله نشي پاتې کېدلی بیا نو [داسې ښکاري] چې ته د تخت لایق نه یې)، خو که ته خوشحاله پاتې شې، زه به ډېر زیات خوښ اوسم.

د پاچا زوی په بري سره د پاچایۍ کنټرول ترلاسه کړ او وزیران یې وټاکل. هغه لویان، مشران او یو لښکرهم لرل. د پاچا زوی یو هوښیار سړی وه، او په ریښتیا سره یې له پوهې سره مینه لرله. د هغه خواوشاته لوی لوی پوهان راټول وو. هغه به هر هغه چا ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې هغه ته به يې ښه نظرونه راوړل اهميت ورکاوه. هغه به هغوی ته د هغوی د پوهې په اساس ډېرعزت او مال او هرهغه څه چې هغوی به غوښتل ورکول. که چا به پيسې غوښتې هغه ته به يې پيسې ورکولې؛ که چا به عزت غوښت هغه ته به يې د هغه د پوهې په وجه عزت ورکاوه. او دا چې پوهه د هغه له پاره ډېره مهمه وه، هرچا د [اکاډميکې] پوهې لاره ونيوله، او ټولې پاچايۍ ځانونه د پوهې[يعنې استدلال] لارويان وګرځول. چا به چې پيسې غوښتې هغه ته به يې پيسې ورکولې او چا به چې عزت او درناوی غوښت هغه ته به يې عزت او درناوی ورکاوه، او دا چې په هغه وطن کې هرچا خپل ځان له [اکاډميکې] پوهې سره په ځانګړې توګه تړلی ګاڼه نو هغوی د جنګ هنر بېخي هېر کړ. دا چې هغوی ټولو خپل ځانونه د حکمت لارويان ګڼل، له دې امله د هغه وطن هغه ترټولو کم هوښيار به په بل هر وطن کې ترټولو لوی حکيم ګڼل کېده.

د دغه وطن پوهان په فوق العاده توګه لوی هوښياران وګرځېدل او د [نظري يا تيوريکي] پوهې د تعقيبولو له امله د وطن پوهانو الحاد يا د خدای له وجود څخه انکار ته مخه کړه، او هغوی وليعهد الحاد [منلو] ته برابر کړ، خو دغه کار په

(c) ketabton.com: The Digital Library

عامو خلکو باندې اثر ونه کړ. هغوی له خدای نه منکرنه شول ځکه چې د حکیمانوحکمت ډېرپېچلی وه اوعامو خلکو نشوای کولی چې د هغوی نظریات وڅېړي. له دې امله هغوی په دې کار سره متاثر نشول، خو پوهان او د پاچا زوی د خدای له وجود نه منکر شول.

له دې امله چې د پاچا زوی په خپل ځان کې «ښه» درلودل (ځکه چې هغه د «ښو» په لوري [په یوه میلان سره] پیدا شوی وه، او ښه خصوصیتونه یې لرل) نو په منظمه توګه به یې له ځان سره فکر کاوه چې، «زه په دنیا کې چېرې یم؟ [یعنې زه په څه ډول حالت کې یم؟] زه [مې له ځان سره] څه کوم؟»

هغه به اوږده آهونه اېستل، او په زوره به یې ورسره چیغې وهلې. هغه په حیرانتیا سره وویل «دا څه معنی چې زه مې وخت په داسې شیانو باندې تېروم؟ دا پرما څه کېږي؟ په دې دنیا کې زه چېرې یم؟ او ډېرآهونه به یې اېستل.

خو څنګه به چې هغه د خپل عقل کارول پیل کړل، غیرسالم حکمت به یې فکربیا په خپله غېږه کې ونیو. دا کارڅو ځلې وشو، چې هغه به په منظمه توګه فکر کاوه چې هغه په څه

(c) ketabton.com: The Digital Library

حالت کې دی؟، هغه څه کوي؟، او داسې نور. هغه به آهونه واېستل او چیغې به یې کړې، خو سمدلاسه به چې هغه له خپل عقل څخه کار اخیستل پیل کړل، الحادي فکر به یې بیا په مغز باندې منګولې خښې کړې.

یوه ورځ راغله چې په یوه وطن کې یوه لویه تېښته پیل شوه – هرچا منډې وهلې. هغوی به چې تښتېدل نو له یوه ځنګله څخه به تېرېدل. دوه ماشومان چې یو هلک وه او یوه نجلۍ وه هلته ورک شول. یوه کس یو هلک ورک کړ او بل یوه نجلۍ. هغوی په دغه وخت کې واړه ماشومان وو چې څلوریا پنځه کاله عمرونه یې لرل. له ماشومانو سره هېڅ شی نه وو چې ویې خوري. هغوی وژړل او چیغې یې ووهلې ځکه چې خواړه ورسره نه وو.

په دې وخت کې یو سوالګر هغوی ته راغی؛ هغه له خپلو د خیرات کڅوړو سره راروان وه. ماشومانو هغه ته ورمنډه کړه او ځانونه یې ورپورې ونښلول. هغه هغوی ته ډوډۍ ورکړه او هغوی وخوړه.

هغه له هغوی نه پوښتنه وکړه «تاسو څنګه دلته راغلئ؟»

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغوی ځواب ورکړ، «مونږ نه پوهېږو» (ځکه چې هغوی واړه ماشومان وو).

هغه هغوی پرېښودل. هغوی وغوښتل چې هغه هغوی هم له ځان سره بوځي.

هغه هغوی ته وویل، «زه نه غواړم چې تاسو له ماسره لاړشئ».

کله چې هغوی [له هغه سره خبرې کولې] هغوی ولیدل چې سوالګر ړوند دی. هغوی په دې خبره حیران شول چې هغه ړوند دی نو هغه څنګه خپله لاره پیدا کوي؟ (او په حقیقت کې، دا پخپله یوه لویه خبره وه، چې ماشومان [د هغه په ړندوالي] پوه شول، دا چې هغوی واړه ماشومان وو نو دا ورته نا اشنا ښکاره شوه. په حقیقت کې، هغوی هوښیارماشومان وو، نو ځکه هغوی په دې کار باندې حیران شول). نو هغه (ړانده سوالګر) هغوی ته دعا وکړه، [هغه هغوی ته وویل]، «تاسو دې ښېخي داسې شئ لکه زه چې یم – تاسو دې داسې زاړه شئ لکه زه چې یم». هغه هغوی ته څه نوره ډوډۍ هم پرېښوده او په خپله مخه لاړ. ماشومان پوه شول چې خدای پاک هغوی ساتي، او هغه هغوی ته یو ړوند سوالګر د همدې له پاره ورولېږه چې هغوی ته ډوډۍ ورکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

وروسته د هغوی ډوډۍ بیا خلاصه شوه. بیا هغوی د خوړو له پاره چیغې پیل کړې. بیا شپه راغله اوهغوی شپه همالته تېره کړه. سهار بیا هم هغوی څه نه لرل چې ویې خوري، نو په چیغو شول او ویې ژړل.

بیا یو سوالګر راغی- چې کوڼ وه. هغوی له هغه سره خبرې پیل کړې. هغه په خپلو لاسونو باندې حرکتونه وکړل چې هغوی پوه کړي چې هغه څه نه اوري. دغه سوالګرهم هغوی ته ډوډۍ ورکړه چې ویې خوري او هغوی یې پرېښودل او روان شو. هغوی غوښتل چې هغه یې له ځان سره بوځي، خو هغه نه غوښتل چې داسې کار وکړي. هغه هم هغوی ته دعا وکړه چې هغوی دې داسې شي لکه هغه چې دی. هغه هم هغوی پرېښودل او په خپله مخه لاړ.

وروسته د هغوی ډوډۍ بیا خلاصه شوه، اوهغوی بیا د مخکې په څېر ژړا پیل کړه، او بیا یو سوالګرهغوی ته راغی. هغه خبرې سمې نشوې کولی (یعنې په ژبه تتله وه). هغوی له هغه سره خبرې پیل کړې اوهغه په نیمه ژبه ورسره خبرې کولې. هغوی نه پوهېدل چې هغه څه وایي، خو هغه په هغه څه چې هغوی ویل پوهېده. دغه سوالګر هم هغوی ته ډوډۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورکړه چې ویې خوري، او هغه هم لاړ. هغه هم هغوی ته دعا وکړه چې هغوی دې داسې شي لکه هغه چې دی، او بیا یې د هغو نورو په څېر خپله لاره ونیوه او لاړ.

وروسته بیا یو سوالګر راغی - چې غاړه یې کږه وه، او هر څه داسې وشول لکه مخکې چې شوي وو. وروسته بیا یو بل سوالګر راغی - چې په ملا کړوپ وه، او وروسته بیا بل راغی چې لاسونه یې نه وو. بیا بل سوالګر راغی چې پښې یې نه لرلې. هغو ټولو دوی ته ډوډۍ ورکړه، او [دغو ماشومانو] ته یې دعا وکړه چې دوی دې داسې شي لکه هغه چې دی. هر یوه په ورته ډول چلند وکړ.

وروسته د دوی ډوډۍ بیا خلاصه شوه. دوی روان شول او ابادۍ ته یې مخه کړه، یوه سرک ته ورسېدل. سرک یې ونیوه او تلل تلل چې یوه کلي ته ورسېدل. ماشومان یوه کورته [ننوتل]. هغوی په دوی باندې شفقت وکړاو دوی ته یې ډوډۍ ورکړه. دوی یوه بل کور ته [ورغلل] ، هلته هم هغوی دوی ته ډوډۍ ورکړه. نو دوی کور په کورګرځېدل پیل کړل، او ویې لیدل چې دا کار د دوی له پاره ښه دی چې دوی ته ډوډۍ ورکول کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماشومانو یو له بل سره هوکړه وکړه چې د تل له پاره به سره یوځای پاتې کیږي. هغوی د ځانونو له پاره د سوالګرو لویې کڅوړې جوړې کړې. هغوی کورونو ته تلل، او هغوی ټولو مجلسونو لکه د سنتیٔ مراسمو او ودونو ته تلل. او هغوی مخکې لاړل، او ښارونو ته تګ یې پیل کړ.

هغوی به د خلکو کورونو ته تلل، سوداګریزو مېلو ته به تلل او د سوالګرو په منځ کې به کېناستل، د ودانیو د دېوالونو ترڅنګ به له ملنګانو سره کېناستل. په پای کې دغه ماشومان د ټولو ملنګانو په منځ کې ډېر مشهور شول، ځکه چې هرچا هغوی پېژندل، او پوهېدل چې هغوی هغه ماشومان دي چې (لکه چې مخکې یاده شوه) په ځنګله کې ورک شوي وو.

یو ځل په یوه لوی ښار کې یوه لویه مېله وه. ټول سوالګر هلته لاړل، او دغه ماشومان هم هلته لاړل. سوالګرو له ځانونو سره سوچ وکړ چې دغه ماشومان یوه ډېره ښه جوړه ده او دا چې هغوی باید یو له بل سره واده وکړي. څنګه چې یو شمېر سوالګرو په دې هکله خبرې پیل کړې دا د هغوی ټولو له پاره یوه لویه خبره وګرځېده، نو جوړه سره جوړه شوه. خو هغوی واده څنګه تیارولی شوای؟ هغوی پرېکړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وکړه چې څنګه چې په یوه ټاکلې نېټه پاچا د زېړکلیزې یوه لویه مېلمستیا لري نو ټول سوالګر به هلته لاړ شي او د ښو خوړو او غوښې غوښتنه به وکړي. په هغې باندې هغوی کولی شي چې واده تیار کړي. او همداسې وشول، چې ټول سوالګرهغې مېلمستیا ته لاړل، او هلته یې د غوښې او ډوډۍ غوښتنه وکړه.

سربېره پر دې، هغوی هغه غوښه او ښه ډوډۍ چې تر مېلمستیا وروسته پاتې شوې وه هم له ځانونو سره واخیسته. هغوی لاړل او یوه دومره لویه کنده یې واېسته چې سل کسه په کې ځایېدل. هغوی هغه د نی په بوټو، خاوره او خوشایو باندې پټه کړه. ټول په کې ورننوتل، او هلته یې د ماشومانو واده جوړ کړ او د ماشومانو له پاره یې یو د واده چتر ودراوه.

هغوی ډېر زیات خوشحاله وو. شاوو او ناوې هم ډېر خوشحاله وو. شاوو او ناوې د خدای پاک د هغې لویې مهربانۍ یادونه پیل کړه چې په هغوی باندې یې هغه وخت ولوروله چې هغوی په ځنګل کې وو، او هغوی ژړا پیل کړه، او د زړه له تله یې داسې هیله وکړه [ویپ ویل] «څنګه کېدی شي چې مونږ هغه لومړنی سوالګر دلته راولو، هغه ړوند سړی چې مونږ ته یې په ځنګله کې ډوډۍ راوړه؟»

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لومړی ورځ

هغوی چې د ړانده سوالګر هیله کوله، هغه ناڅاپه پورته شو او غږ یې وکړ: زه دلته یم! زه ستاسو واده ته راغلی یم. او ما تاسو ته یو «د واده د وینا سوغات» [یو د واده سوغات] راوړی دی چې تاسو دې زما په څېر زاړه شئ. پخوا ما [یوازې] داسې هیله لرله چې تاسو دې زما په څېر زاړه شئ. اوس یې زه پر تاسو د یوه پوره سوغات په توګه لوروم، یو «د وینا سوغات»،چې تاسو دې زما په څېر زاړه شئ.

تاسو فکر کوئ چې زه یو ړوند سړی یم - زه بالکل ړوند نه یم! یوازې دا ده چې زما له پاره، د ټولې نړۍ [دپاینبست موده] د یوې سترګې له یوه رپ څخه ډېره نه ده. (هغه د دې له پاره د یوه ړانده سړي بڼه جوړه کړې وه چې هغه نړۍ ته هېڅ نه کتل ځکه چې نړۍ [په هغې کې د ټولو پېښو تېرېدنه] هغه ته د یوې سترګې د یوه رپ په اندازه هم نه ښکارېده، نو نړۍ ته کتلو د هغه له پاره هېڅ اهمیت نه درلود). دا چې زه ډېر زیات زوړ یم، او زه لا تر اوسه هم پوره ځوان یم؛ که څه هم چې زه ډېر زیات زوړ یم خو ما لا ژوند هېڅ نه دی پیل کړی خو دا زه یوازې د خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځان په هکله نه وایم بلکه په دې خبره باندې لوی شاهین هم شاهد دی. زه به تاسو ته یوه کیسه ووایم (دا ټول ړانده سوالګر وویل).

یو وخت په یو ځای کې څه خلک وو چې په یو شمېر کشتیو باندې سمندر ته ووتل. یو توپان راغی او کشتۍ یې دړې وړې کړې، خو خلکو نجات وموند. هغوی یوه برج ته راغلل او وروختل. هلته هغوی هر ډول خوراک، څښاک، کالي، او هرڅه چې ورته اړتیا وه وموندل. په هغه ځای کې بې شمېره نعمتونه او د دنیا خوشحالۍ موجودې وې.

هغوی اعلان وکړ چې هرسړی باید یوه داسې پخوانۍ کیسه ووایي چې هغه ته له خپل لومړني یاد نه په یا وي، یعنې څه چې د هغه له هغه وخت نه په یاد وي چې د هغه حافظې د لومړي ځل له پاره کار پیل کړ. په هغه ځای کې هم زاړه خلک موجود وو او هم ځوانان، او هغوی په خپل منځ کې له تر ټولو زاړه سړي څخه هیله وکړه چې [خپله کیسه] لومړی ووایي.

هغه (یعنې تر ټولو زاړه مشر) خپل اواز پورته کړ او ویې ویل، «زه به تاسو ته څه ووایم؟ زما په یاد دي چې منه له څانګې نه پرې شوه.»

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیڅوک پوه نشو چې هغه څه وايي، خو هلته هوښیار خلک ناست وو، هغوی وویل، «په حقیقت کې، دغه یوه ډېره پخوانۍ کیسه ده!» [یعنې، یوه ډېره لرغونې خاطره ده].

هغوی بیا بل مشر ته چې له لومړني نه يې عمر کم وه بلنه ورکړه چې خپله کیسه ووايي. هغه په یوه حیرانوونکي ډول غږ پورته کړ، «هغه یوه لرغونې کیسه ده؟! دغه کیسه زما په یاد ده، او زما دا هم په یاد دي چې شمع بلېده.» هغوی څرګنده کړه چې دا ترلومړنۍ هغې هم زړه کیسه ده. او د هغوی له پاره دا د یاد وړ وګرځېده چې دویم کس له لومړني نه ځوان وه خو تر هغه يې هم ډېره زړه کیسه په یاد وه.

تر هغه وروسته هغوی درېیم مشر ته بلنه ورکړه چې خبرې وکړي. د درېیم کس عمر تر هغوی کم وه. درېیم مشر وویل، «زما دا هم په یاد دي چې مېوې د جوړښت نیول پیل کړل، یعنې چې مېوې د لومړي ځل له پاره پیل وکړ چې مېوه شي.»

هغوی ځواب ورکړ چې، «دغه کیسه لاډېره پخوانۍ ده!».

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا څلورم کس خبرې وکړې چې د هغه عمرترمخکنیو هم لږ وه. هغه وویل، «زما هغه وخت یاد دی چې تخم یې ځنګه راوړ چې ویې کري اومېوه شي».

بیا پنځم کس چې د هغه عمر تر مخکنیو هم لږ وه غږ پورته کړ او ویې ویل، «زما هغه پوهان هم په یاد دي چې د تخم په هکله یې نظر ورکړ».

شپږم کس چې تر یادو ټولو ځوان وه اواز پورته کړ او ویې ویل، «زما ان د مېوې خوند په یاد دی، مخکې تر دې چې خوند مېوې ته ورننوت».

اوم کس په لوړ اواز وویل، «زما د مېوې بوی په یاد دی، مخکې تر دې چې بوی مېوې ته ورننوت».

اتم کس غږ کړ او ویې ویل، «زما حتی د مېوې بڼه په یاد ده، مخکې تر دې چې د مېوې بڼه برابره شوه».

او په هغه وخت کې زه وړوکی ماشوم وم (ړانده سوالګرچې دا ټوله کیسه یې وکړه وویل) او زه هم هلته وم. ما غږ پورته کړ او

(c) ketabton.com: The Digital Library

ومې ویل، «زما دا ټولې کیسې په یاد دي، او ان عدم  یا هغه وخت چې هېڅ مخلوق نه وو، هم زما په یاد دی».

هغوی اعلان وکړ چې، «دغه یوه بېخي لرغونې کیسه ده، ترټولو پخوانۍ!». او د هغوی له پاره ډېره په زړه پورې وه چې ماشوم تربل هر چا ډېر څه په یاد لرل.

دا وخت لوی شاهین راورسېد او برج یې وټکاوه. هغه هغوی ته وویل، «ځانونه دومره خوارول بس کړئ! خپلو خزانو ته ورشئ! له خپلوخزانو څخه کار واخلئ!» او هغه هغوی ته وویل چې هغوی باید له برج څخه ترټولو مشراول او [ترټولو کشر] په اخر کې لاړ شي. هرڅوک چې ترټولو زوړ وي باید لومړی لاړ شي. هغه ټول له برج څخه واپستل. لومړی هغه ماشوم واپست، ځکه چې په حقیقت کې، هغه د هغوی ترټولو ډېر زوړ وه، او هر څوک چې ځوان وه، هغه یې په ترتیب سره مخکې واپست. او ترټولو زوړیې د ټولو په پای کې واپست، ځکه څوک چې ځوان وه هغه [په حقیقت کې] زوړ وه (ځکه هرهغه کس چې عمر یې کم وه هغه پخوانۍ کیسه ویلې وه) او تر ټولو ډېر زوړ ترټولو ډېر ځوان وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوی شاهین هغوی ته اعلان وکړ: زه به تاسو ته ټولې هغه کیسې چې هر کس وویلې تحلیل کړم. هغه کس چې ویې ویل چې هغه وخت د هغه په یاد دی چې هغوی منه له ځانګې نه پرې کړه، د هغه هدف دا دی چې د هغه ان هغه وخت په یاد دی چې هغوی د هغه له نامه [سره رابطه] پرې کړه. (په دې معنی چې، هغه څه چې د هغه په پیدایښت پسې سملاسي وروسته هغه ته پېښ شول، یعنې هغه وخت یې په یاد دی چې هغوی د هغه نوم پرې کړ.) او هغه ورپسې کس چې ویې ویل چې د هغه ان هغه وخت په یاد دی چې شمع بلېده، د هغه هدف دا دی چې هغه ته هغه وخت یاد دی چې هغه په رحم کې وه، ځکه چې په هغه وخت کې د یو چا په سربانديې دپاسه شمع بلېږي (وايي کله چې یو ماشوم د مور په رحم کې وي، د هغه پر سر یوه شمع بلېږي، چې د هغې په واسطه هغه د نړۍ له یوه سره تربل سرپورې ویني.) او هغه کس چې ویې ویل چې د هغه ان هغه وخت په یاد دی چې مېوې په مېوه کېدلو باندې پیل وکړ، په دې معنی چې، هغه ته هغه وخت په یاد دی چې د هغه وجود د لومړي ځل له پاره جوړېدل پیل کړل، هغه وخت چې جنین جوړ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د هغه کس چې هغه وخت يې په ياد دی چې هغوی تخم راوړ چې مېوه وکړي، هدف دا وه چې، هغه ته ان هغه وخت يادېږي چې ثاخکی ځنګه [د امېدوارۍ پر وخت] واخيستل شو. او هغه کس چې هغه وخت يې يادېږي چې حکيمانو د تخم په هکله نظر ورکړ داسې ښيي چې د هغه ان هغه وخت ياد دی چې ثاخکی په ذهن کې وه [ځکه چې د پلار ذهن ثاخکی رامنځته کوي]. او هغه چې خوند يې په ياد دی هغه [ټيټه] اروا ده. او بوی چې ده هغه [منځنۍ] اروا ده. او بڼه چې ده، هغه [جيګه] اروا ده. او ماشوم وويل چې د هغه عدم الوجود په ياد دی، ځکه چې هغه تر تاسو ټولو ډېر مشردی، ځکه د هغه ان تر هغه مخکې وخت په ياد دی چې [ټيټه] اروا، [منځنۍ] اروا، او [جيګه] اروا [پيدا شوه]. له دې امله دی هغه وخت ته اشاره کوي چې عدم الوجود ګڼل کېږي (يعنې د هغه ان هغه وخت په ياد دی چې هېڅ شي هم وجود نه درلود؛ هغه ته هغه څه په ياد دي چې هغه په هغه ځای کې وکړل چې ترهرڅه لوړ دی.)

لوی شاهين هغوی ته وويل، «خپلو کشتيو ته بېرته ورستانه شئ، هغه ستاسو بدنونه دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې مات شوي دي؛ هغه به بېرته جوړشي. اوس هغوته بېرته ور وګرځئ». او هغه هغوی ته دعا وکړه.

او ما ته هم (يعنې هغه ړانده سوالګر ته چې دا ټوله کيسه يې وکړه) هغه (يعنې لوی شاهين) وويل، «ته له ما سره راشه ځکه چې ته زما په څېريې، هغه داسې چې ته ډېر زوړ او بېخي ځوان يې. او تا لا تر اوسه پورې ژوند کول نه دي پيل کړي، او له دې سره هم، ته ډېر زوړ يې. زه هم همداسې يم – ځکه چې زه ډېر زوړ يم، او زه لا هم بالکل ځوان يم [او داسې نور]».

په دې توګه مونږ وينو چې زه د لوی شاهين خاطره لرم، يعنې چې زه ډېر زوړ، او بالکل ځوان يم. اوس زه دا پر تاسو د يوه پوره سوغات په توګه لوروم، د «واده له پاره د وينا سوغات»، چې تاسو بايد زما په څېر پخواني شئ. هلته ډېره لويه خوښي او خوشحالي وه او هغوی ډېر خوشحاله وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دویمه ورځ

د اوه ورځني [واده] د مراسمو پر بله ورځ شاوو او ناوې بیا د دویم سوالګر، چې کوڼ وه، او هغوی ته یې د ډوډۍ په ورکولو سره هغوی له لوږې څخه ژغورلي وو، خاطرې پیل کړې. هغوی ژړل او د هغه غوښتنه یې کوله، [هغوی ویل] «څنګه کېدی شي چې مونږ هغه کوڼ سوالګر چې مونږ ته یې نجات راکړی وه دلته راولو؟» په داسې حال کې چې هغوی د هغه غوښتنه کوله هغه ناڅاپه راننوت او ویې ویل، «زه دلته یم». اوهغوی یې په غېږ کې ونیول او ښکل یې کړل.

هغه هغوی ته وویل: اوس به زه تاسو ته یو سوغات درکړم، چې تاسو باید ښېخي داسې شئ لکه زه چې یم، یعنې تاسو باید داسې ښېخي زما په څېر ښه ژوند ولرئ. په داسې حال کې چې پخوا ما تاسو ته د دې دعا کړې وه، اوس زه خپل ښه ژوند پر تاسو د یوه پوره سوغات په توګه لوروم - یو «د واده د وینا سوغات».

تاسو فکر کوئ چې زه کوڼ یم. زه هېڅ کوڼ نه یم! بلکه، دا ټوله دنیا زما له پاره هېڅ اهمیت

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه لري، نو زه نه غواړم چې د هغې عیبونه واورم ځکه چې د نړۍ ټول اوازونه – ټول له عیبونو نه راپورته کېږي. هرشخص د یوه عیب، کمي له امله فریاد کوي. او ان چې د نړۍ ټولې خوشحالۍ له عیبونوڅخه راپورته کېږي، ځکه چې یو څوک له دې امله خوشحالېږي چې [پخوا] یې څه نه درلودل، او وروسته یې داسې څه ترلاسه کړي وي چې پخوا یې نه لرل. او زما له پاره، ټوله نړۍ دومره اهمیت نه لري چې زه یې باید عیبونه واورم. نو زه یو داسې ښه ژوند کوم چې هېڅ په کې کم نه دي، او زه یو شاهد لرم چې زه د شتو له وطن نه یو ښه ژوند کوم. د هغه ښه ژوند دا وه چې هغه ډوډۍ خوړه او اوبه یې څښلې.

هغه یوه کیسه وویله: هلته یو وطن دی چې ډېره زیاته شتمني لري. هغوی سترې زېرمې لري. یوه ورځ شتمن خلک سره ټول شول، او هریوه د خپل ښه ژوند په هکله، چې هغه دغه ژوند څنګه کوي، ستاینې پیل کړې. هر یوه د خپل ښه ژوند کړنلارې بیان کړې.

زه (یعنې کوڼ سوالګر چې دا کیسه یې کوله) پورته شوم او هغوی ته مې وویل: زه یو ښه ژوند لرم - تر تاسو ښه! او شاهد هم دلته شته: که

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاسو داسې ښه ژوند وکړئ، بیا راځئ وګورو چې آیا تاسو له هغه وطن سره مرسته کولی شئ؟ ځکه چې هلته یو وطن دی چې په هغه کې هغوی یو باغ درلود، او په باغ کې داسې مېوه وه چې د دنیا ټول خوندونه په کې وو. او [په باغ کې] هغوی [همدارنګه] د نړۍ ټوله خوشبویي لرله او هلته هر ډول منظرې – د نړۍ ټول رنګونه او ګلونه وو. په باغ کې هر څه موجود وو.

او د باغ مسؤل یو باغوان وه. د دغه باغ له امله د هغه وطن خلکوښه ژوند درلود. خو بیابه باغوان ورک شو نوطبیعي وه چې څه چې هلته په هغه باغ کې وه هغه باید له منځه تللي وای ځکه چې هلته باغوان نه وه او دا له دې امله چې هغه مسؤل وه چې د باغ څوکیوالي وکړي او وګوري چې هلته باید څه وشي.

په هرحال، هغوی بیا هم کولی شوای چې د نباتاتو هغه په خپل سر وده حمایه کړي. خو یو ظالم پاچا راغی چې په دغه وطن باندې حمله وکړي، خو پاچا د هغوی له پاره هېڅ ونشول کولی. نو هغه لاړ او د وطن ښه ژوند چې هغوی د هغه باغ له امله درلود هغه یې پای ته ورساوه. هغه داسې نه چې هغه باغ ویجاړ کړ؛ هغه یوازې په هغه وطن کې خپل درې ګروپه چاپلوسان

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرېښودل. هغه هغوی ته وویل چې هغوی باید هغه څه وکړي چې هغه ورته امر کوي.

هغوی د پاچا د حکمونو په تعقیبولو سره د خپلو عملونو له لارې هلته خوند له منځه وېووړ. هغوی داسې عمل وکړ چې داسې یو [حالت] یې رامنځته کړچې کله به چې چا غوښتل چې یو خوند وڅکي هغه به د یوه وراسته جسد د خوند په څېر وه. همدارنګه هغوی د بوی حس هم له منځه وېووړ؛ هغوی ټولې خوشبویۍ داسې کړې چې د ګالبانوم [چې یو مردار بویه بوټی دی] بوی یې کاوه. او په همدې توګه هغوی د لیدلو حس هم خراب کړ، څکه هغوی د خلکو سترګې داسې تیاره کړې لکه په مخکې یې چې ټینګې ورېځې وي (دا ټول کارونه د چاپلوسانو د هغو درې ګروپونو په واسطه وشول چې په وطن کې موجود وو، او لکه چې یاده شوه هغوی به هرهغه څه کول چې ظالم پاچا به ورته حکم کاوه). اوس، دا چې تاسو داسې ښه ژوند کوئ، دا وطن وساتئ! (دا ټول کانه سوالګر د شتمنیو وطن ته وویل، چېرې چې هغوی لاپې وهلې چې هغوی ښه ژوند کوي، لکه چې مخکې یاده شوه.)

او زه تاسو ته وایم، که تاسونشئ کولی چې له هغوی سره مرسته وکړئ، تاسو به هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

ژوبل شئ. (په بله وینا، هغه څوک چې د وطن لید، خوند، او بوی یې خراب کړي وو هغوی به تاسو هم ژوبل کړي.)

نو هغو شتمنوخلکو پیل وکړاو وطن ته لاړل، او زه هم له هغوی سره لاړم. او په لاره کې هم، هرچا د خپل ښه ژوند ستاینه کوله، څکه چې هغوی (لکه چې مخکې یاده شوه) خزانې لرلې، خو چې هغوی وطن ته ورنژدې شول د هغوی خوند او نورو حسونو په خرابېدو پیل وکړ. هغوی خپل ځانونه خرابېدونکي احساس کړل. ما هغوی ته اعلان وکړ، «دا چې اوس، چې تاسو لا وطن ته نه یئ ننوتي، ستاسو خوند، لید او بوی لا له وخته خراب دي، که تاسو دننه ورشئ ستاسو به څه حال وي؟ او سربېره پر دې، څنګه تاسو کولی شئ چې له هغوی سره بیا مرسته وکړئ؟»

ما مې ډوډۍ او اوبه واخیستې او هغوی ته مې ترې څه ورکړل. زما په ډوډۍ او اوبو کې هغوی هرډول خوند (او هربوی، او داسې نور) وموندل او څه چې په هغوی کې خراب شوي وو (یعنې خوند، لید، او بوی) هغه سم شول.

په هغه وطن کې، هغه وطن چې باغ یې درلود (چېرې چې د هغوی د خوند او داسې نور

(c) ketabton.com: The Digital Library

حسونه خراب شوي وو) هغوی پر دې پوهېدل پيل کړل چې هغوی اړتيا لري چې د خپلو خلکو علاج وکړي، ځکه چې د هغوی د خوند (او داسې نورو) حس خراب شوی وه. هغوی پوه شول چې هلته يو د شتمنۍ وطن موجود دی (يعنې د شتمنۍ هغه وطن چې سوالګر ورسره خبرې کړې وې). او له هغوی سره داسې نظريه پيدا شوه (يعنې د هغه وطن له خلکو سره چې يو باغ يې درلود، داسې نظريه پيدا شوه) چې د هغوی باغوان، چې ورک شوی وه (چې د هغه له وجې هغوی يو ښه ژوند درلود) د شتمنۍ له وطن سره، چې هلته هم هغوی يو ښه ژوند لري، يوه ګډه ريښه لري. نو هغوی داسې فکر وکړچې هغوی بايد د شتمنۍ وطن ته لاس ور اوږد کړي [په دې فکر چې] هغوی خامخا کولی شي چې له هغوی سره مرسته وکړي.

او هغوی همداسې وکړل. هغوی د شتمنۍ وطن ته استازي ولېږل. استازي لاړل او هغوی يو له بل سره مخامخ شول (يعنې، په لاره کې [د باغ لرونکې ځمکې] استازي د شتمنۍ د وطن له خلکو سره مخامخ شول ځکه چې د شتمنۍ د وطن خلکو اراده لرله چې هغوی ته راشي [چې له هغوی سره مرسته وکړي] لکه چې مخکې ياده شوه.)

(c) ketabton.com: The Digital Library

«تاسو چېرې ځئ؟» هغوی [شتمنو خلکو] له استازو [د باغ لرونکې ځمکې] څخه پوښتنه وکړه.

هغوی [د شتمن وطن هیئت ته] ځواب ورکړ«مونږ ځو د شتمنی وطن ته چې له مونږ سره مرسته وکړي».

هغوی غږ کړ، «مونږ پخپله د شتمنو خلکو له وطنه یو، او مونږ ستاسو خوا ته درځو!».

نو ما غږ پورته کړ(یعنې کوښ سوالګر چې دا ټوله کیسه یې کوله) او [د شتمنی د وطن استازو] ته مې وویل، «تاسو ماته اړتیا لرئ، ځکه چې تاسو نشئ کولی چې ننوځئ او له هغوی سره مرسته وکړئ.» (ځکه سم چې هغوی هغه وطن ته ورسېږي، هغوی مخکې ترمخکې [لکه چې مخکې یاده شوه په خرابو شویو حسونو] اخته کېدل پیلوي.) «نو تاسو دلته پاتې شئ او زه به [د باغ لرونکي وطن له] استازو سره لاړ شم چې ویې ساتم.»

زه له استازو سره لاړم او وطن ته داخل شوم. زه یوه ښار ته راغلم. ما خلک ولیدل چې مخې ته راتلل، او یوه یې یوه کیسه کوله. او وروسته، نور هم راغلل، تر هغه چې د خلکو یوه حلقه جوړه شوه، او هغوی ټوکې کولې او خندل یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما کولی شواى هغه څه واورم چې هغوى پرې خبرې اترې کولې. ما واورېدل چې هغوى کنځلې کولې. يوه به يوه خرابه ټوکه وکړه، بل به په ماهرانه توګه تاييد کړه، بل به وخندل، او د هغه ملګري به هغه ساعت تېري وګڼله او همداسې به نورو خلکو هم کول.

ترډې وروسته زه (د هغه وطن) يوه بل ښارته لاړم. ما دوه سړي وليدل چې په يوه تجارتي معامله باندې يې يو له بل سره جګړه کوله. هغوى لاړل محکمې ته چې حل يې کړي، او د محکمې فيصله داسې وه چې يو سپين او بل ګرم يا مسؤل دى. هغوى محکمه ترک کړه او بيا يې جګړه پيل کړه، اوهغوى وويل چې هغوى نه غواړي چې پخوانۍ محکمې ته لاړ شي، بلکه پرځاى يې هغوى يوه بله محکمه غواړي.

هغوى يوه بله محکمه انتخاب کړه، او محکمې د هغوى فيصله وکړه. وروسته د دعوې يوه طرف بيا له بل کس سره جګړه پيل کړه، او بيا هغوى يوه بله محکمه انتخاب کړه. او هلته هغوى يو له بل سره، او هغه [بياهم] له يوه بل سره جنګ ته دوام ورکړ، او هرځل هغوى د بلې محکمې غوښتنه کوله تر دې چې ټول ښار له محکمو نه ډک شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما هغوی وکتل او ومې لیدل چې دا ځکه پېښ شول چې هلته ریښتیا نه وو. یوې [محکمې] به فیصله کړه وکړه او یوه کس ته به یې ځانګړې پاملرنه وکړه. وروسته به بیا هغه کس چې پاملرنه به ورته شوې وه له هغه کس سره علاقه لرله چې له هغه سره به یې مرسته کړې وه، ځکه چې هغوی به رشوت اخیستی وه او هلته ریښتیا نه وو.

وروسته زه پوه شوم چې هغوی له شهوانیتوب ډک وو، او هلته دومره ډېر شهوانیتوب وه چې هغه د منلو وړ وګرځېد، نو ما هغوی ته وویل، «دا دلیل دی چې د خوند، بوی، او لید حسونه خراب شوي دي، ځکه چې ظالم پاچا هلته خپل درې ګروپه چاپلوسان پرېښي چې هغوی ته وظیفه ورکول شوې ده چې لاړ شي او (لکه چې مخکې یاده شوه) وطن خراب کړي».

په دې دلیل چې هغوی به هرې خوا ته تلل نو په خپلو کې به یې کنځلې کولې، او په دې توګه هغوی په دغه وطن کې کنځلې دود کړې. د چټلې ژبې له لارې هغوی وکولی شول چې د خوند حس خراب کړي، چې په دې توګه ټول خوندونه د وراسته جسد د خوند په څېر وګرځېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدارنګه، هغوی دغه وطن ته رشوت خوري هم راوړه، او د هغې له لارې هغوی د لیدلو حس خراب کړ او هرڅه د هغوی سترګو ته تیاره ښکارېدل. لکه چې ویل شوي دي: «رشوت د نېک سړي سترګې ړندوي».

په همدې توګه چاپلوسانو دغه وطن ته شهوانیتوب هم راوړ، او د هغه له لارې د بوی خوند خراب شو ځکه شهوانیتوب د بوی خوند خرابوي. (او په هماغه دلیل ظالم پاچا په دغه وطن کې خپل درې ګروپه چاپلوسان پرېښودل، او هغه هغوی ته وظیفه ورکړه چې لاړ شي او په یاد وطن کې درې ګناهونه دود کړي، او [لکه چې یاده شوه] په دې طریقو سره، هغوی د لید، خوند او بوی حسونه خراب کړل.)

په دې توګه، تاسو باید هغه ته وګورئ او وطن د دغو درې ګناهونو په پام کې نیولو سره جوړ کړئ او باید دغه خلک (یعنې، چاپلوسان چې وطن ته یې، لکه چې مخکې یاده شوه، درې ګناهونه راوړل) وباسئ. که تاسو دا کار وکړئ، او تاسو وطن له دغو درې ګناهونو څخه پاک کړئ، بیا زه په ډاګه وایم، چې نه یوازې ستاسو د خوند، لید او بوی حس به جوړ شي، بلکه تاسو به وکولی شئ چې ورک باغوان هم بېرته پیدا کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو هغوی دا ټول وکړل. هغوی له دغو درې ګناهونو څخه د وطن پاکول پیل کړل. هغوی دغه خلک (یاد شوي چاپلوسان) واپستل؛ هغوی به خلک ونیول او ترې وبه یې پوښتل، «ته د کوم ځای یې؟» [یعنې، هغوی پلټنه کوله او هغه خلک به یې په ګوته کول چې د ستونزو سبب ګرځېدلي وو] تر هغه چې هغوی د ظالم پاچا ملګري (یعنې لکه چې مخکې یاده شوه د چاپلوسانو درې ګروپونه) بندیان کړل. هغوی دغه خلک واپستل او وطن یې له دغو ګناهونو څخه پاک کړ.

په ورته وخت کې هلته [د خلکو په منځ کې] یو څه ګډوډي وه. [هغوی وویل] «کېدی شي چې هغه لېونی باغوان چې خواوشا د یوه لېوني په څېر ګرځي او هر چاته وایي چې دی هغه [ورک شوی] باغوان دی، او هغه کس دی چې هرڅوک یې لېونی ګڼي (او خلک یې په تیږو ولي، او له ځانونو نه یې شړي) ښایي چې هغه په رېښتیا هم [زمونږ] باغوان وي!».

هغوی لاړل او هغه یې راوست، او ما (کوږ سوالګر چې داکیسه یې کوله) وویل، «ای، هغه بې له شکه هماغه باغوان دی!» (یعنې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه چې هغوی مخکې ویل چې لېونی دی). نو مونږ ګورو، زه [د شتمنۍ د وطن په هکله] چې زه په کې ښه ژوند لرم یوه خاطره لرم، ځکه چې ما وطن رغولی دی. (او د هغه له لارې، هغوی ان باغوان پیدا کړ، او لکه چې یاده شوه بیا یې ښه ژوند کول پیل کړل.) اوس زه خپل ښه ژوند په تاسو باندې لوروم. هلته یوه لویه خوښي او خوشحالي وه، او هغوی له خوښۍ نه په کالیو کې نه ځایېدل. لومړني [سوالګر] په هغوی باندې یو اوږد ژوند ولوراوه، او ورپسې هغه په هغوی باندې یو ښه ژوند ولوراوه. تر دې وروسته، ټول سوالګر واده ته راغلل او هغوی ته یې یو «د واده د وینا» سوغات ورکړ. څه چې هغوی پخوا د دوی له پاره هیله کوله، چې هغوی [ماشومان] دې د هغوی په څېر وي، اوس هغوی په دوی باندې د یوه بشپړسوغات («د واده د وینا» سوغات) په توګه ولوراوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دربیمه ورځ

په دربیمه ورځ، شاوو او ناوې بیا خاطرې پیل کړې، او په ژړا شول، او سخته هیله یې کوله [ویل یې چې] «څنګه کېدی شي چې مونږ هغه سوالګرچې خبرې یې سمې نشوې کولی (یعنې تتله وه) دلته راولو؟» دا وخت هغه راننوت او ویې ویل، «زه دلته یم!» او هغه هغوی په غېږ کې ونیول او ښکل یې کړل.

هغه هم لکه د هغو نورو په څېر له هغوی سره خبرې وکړې: مخکې ما تاسو ته دعا کړې وه چې زما په څېر دې شئ. اوس زه تاسو ته «د واده وینا» سوغات درکوم چې تاسو دې زما په څېرشئ. تاسو فکر کوئ چې زه په خبرو کولو کې ستونزه لرم؛ زه په خبرو کولو کې هېڅ ستونزه نه لرم! خبره دا ده چې د دنیا خبرې چې د خدای ستاینه په کې نه وي په هېڅ وجه بشپړې نه دي (یعنې هغه داسې ښکاري لکه تتله، چې نشي کولی خبرې وکړي، یوازې له دې امله چې هغه نه غواړي چې دنیوي خبرې وکړي داسې خبرې چې د خدای ستاینه په کې نه وي ځکه چې هغه خبرې چې د خدای ستاینه په کې نه وي هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

هېڅ کمال نه لري. له دې امله کله چې هغه خبرې کوي ژبه یې نښلي.)

په حقیقت کې زه هېڅ تتله نه یم! بلکه زه یو ویناوال او وياند یم، یو ډېر قابل، او فوق العاده لایق وياند. زه کولی شم چې ډېرې ښې غزلې، شعرونه او سندرې ووايم. په ټوله نړۍ کې داسې څوک نشته چې نه غواړي چې هغه څه ته غوږ ونیسي چې زه یې وایم. او په هغو کې (یعنې په دغو غزلو او شعرونو کې چې هغه یې وايي) ټول حکمت [چې په ځمکه کې دی] موجود دی، او زه په دې هکله له هغه لوی شخص څخه چې د خیر حقیقي شخص ګڼل کېږي یوه خاطره لرم:

یو وخت ټول هوښیارکسان سره یوځای ناست وو، او هریوه د خپل حکمت په هکله په افتخار سره خبرې کولې. یوه وویل چې هغه اوسپنه په خپل حکمت سره جوړه کړې ده (یعنې په هغه طریقه چې یو څوک اوسپنه د اوسپنې له کانې نه راباسي). بل وویل چې هغه یو بېل ډول فلز (لکه قلعي یا سرپ او داسې نور) کشف کړی دی. بل وویل چې هغه په خپل حکمت سره سپین زر رامنځته کړي دي چې تر یادو هغو ډېر مهم دي. یوه بل هم د خپل

(c) ketabton.com: The Digital Library

تخلیق په هکله لاپه وکړه او ویې ویل چې هغه کولی شي چې سره زر جوړکړي.

یوه بل لاپه وکړه چې هغه وسلې (لکه توپکونه، توپونه او داسې نور) کشف کړي دي – هغه وښوده چې داسې پوهه لري چې دغه وسلې جوړې کړي. یوه بل لاپه وکړه چې هغه پوهېږي چې څنګه دغه ټول فلزونه رامنځته کړي، خو له داسې [ورته] موادو څخه نه چې دا [نور] خلک یې په خپل حکمت سره استعمالوي. یوه بل د پوهې د نورو ډولونو د لرلو په هکله لاپه وکړه، ځکه چې په نړۍ کې یو شمېر نور داسې شیان شته چې د حکمت له لارې کشف شوي دي، لکه ښوره او باروت، او دې ته ورته نور څیزونه. هغه د دغو [شیانو] له جملې څخه د ځینې هغو په هکله د خپلې پوهې لاپې ووهلې.

یوه کس ننګونه وکړه او ویې ویل، «زه له تاسو ټولو نه ډېر هوښیار یم ځکه چې زه د ورځې په څېر روښانه یم». هلته ناست خلک پوه نه شول چې «د ورځې په څېر روښانه» څخه د هغه هدف څه دی.

هغه هغوی ته مخ ورواړاوه او ویې ویل: دا چې ستاسو ټولو پوهه له یوه ساعت څخه ډېر وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه نیسي، که څه هم چې د پوهې هر ډول له یوې بېلې ورځې څخه واخیستل شي، د هغه څه په اساس چې [خدای پاک] [د نړۍ د پیدایښت د ورځو] [په برابره] ورځ پیدا کړي دي. دا چې د حکمت ټول ډولونه سره ترکیب شوي دي (یعنې یو یې یو شی له بل سره ګډوي او له هغه څخه یو بل شی جوړېږي)، په دې توګه، د حکمت هر ډول [د شیانو د تولید په اساس] له هغې ورځې څخه منشأ اخلي چې خدای پاک هغه شیان [یعنې خام مواد] پیدا کړل چې دغه [مصنوعي] شیان ترې راوځي یا جوړېږي. د حکمت په کارولو سره یو څوک دغه مواد سره ګډوي او داسې شیان ترې جوړوي چې غواړي یې لکه: سپین زر، مس یا ورته نور.)

[د ایډیټر یادښت: ښکاره خبره ده چې د پیدایښت ورځې د کایناتو ریښه ده. هرڅه چې د نړۍ په تاریخ کې وجود لري، او په نړۍ کې موجود ټول حکمت، یوازې د نړۍ د پیدایښت د ورځو د یوې نتیجې او امتداد په توګه پایي. داسې ښکاري چې د پیدایښت ورځې تل ترتله وي، او تل د حقیقت سرچینه وي.]

خو د پوهې [د یوه بل ډول] له لارې دا ممکنه ده چې د هغوی د پوهې ټول ډولونه [د خدای

(c) ketabton.com: The Digital Library

له خوا د نړۍ د پيدا کولو د ورځو] په يوازې [يوه ساعت] کې سره خلاصه کړي خو زه لکه د ټولې ورځې په څېر روښانه يم. (په دې توګه دی د هوښيارو خلکو په لړ کې وروستی سړی وه چې خبرې يې وکړې.)

ما (يعنې، هغه تتله چې دا ټوله کيسه يې وکړه) هغه ته ځواب ورکړ، «لکه کومه ورځ؟» (يعنې د هغه پوهه [د خلقت] له کومې ورځې سره برابره ده؟)

هغه، [هغه پوه چې هغه ترې پوښتنه وکړه] غږ کړ: هغه [سړی چې په وينا کې يې عيب وه] تر ما ډېر هوښيار دی، ځکه چې هغه پوښتنه کوي، «لکه کومه ورځ؟». په داسې حال کې چې، [د هغه د پوښتنې ځواب دا دی چې] زه د هرې ورځې په څېر چې يو څوک يې انتخابوي روښانه يم نو ولې دا [تتله] بيا [له مونږ څخه] يوازې په دې چې ويې پوښتل چې «لکه کومه ورځ» ډېر هوښيار دی. (ځکه چې هغه هوښيارسړی هم د هرې هغې ورځې په څېر دی چې هغه يې غواړي.

خو دلته يوه پوره کيسه پرته ده چې دا [شرحه کوي] چې خير اصلي سړی يو ډېر لوی سړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دی. او زه (یعنې تتله چې دا کیسه کوي) هر چېرې ځم او د مینې- مهربانۍ [یعنې ورکړې] ټول ریښتني [عملونه] راټولوم ، او د خیر اصلي سرې ته یې راوړم، او د «وخت» اصلي اړخ د خیر له حقیقي [عملونو څخه] جوړشوی دی (یعنې هلته داسې یو شی دی لکه پخپله «وخت»، او دا چې هلته د نړۍ کالونه او ورځې موجود دي – دا پخپله د خدای له خوا پیدا شوي دي)، او زه ګرځم راګرځم او د اصلي خیر ټول [عملونه] راټولوم، او د خیر اصلي سرې ته یې راوړم. او له دې نه «وخت» رامنځته کېږي.

هلته یو غر دی او په غره کې یوه ډېره ده او له ډېرې څخه یوه چینه رابهېږي، او هر شی یو زړه لري، او ټوله نړۍ هم یو زړه لري، او د نړۍ زړه یو پوره بدن لري، چې مخ او لاسونه، او پښې، او داسې نور لري خو د نړۍ د زړه د پښې د ګوتې یو نوک هم د بل هر زړه په نسبت ډېر له عاطفې څخه ډک دی. او هغه غر چې چینه په کې ده هغه د نړۍ یو سر دی، او د نړۍ زړه د نړۍ په بل سر کې دی. او زړه د چینې په مقابل کې پروت دی، او په دوامداره توګه هیله او ارزو لري چې چینې ته راشي او چینه د زړه هیله او ارزو ډېر په شدت سره څرګندوي. زړه همېشه چیغې وهي او غواړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې چینې ته راشي، او چینه هم د زړه له پاره همداسې هیله لري.

زړه اوس دوه کمزورتیاوې لري یعنې هغه شیان چې د ستړیا سبب ګرځي؛ یوه دا چې لمرهغه تعقیبوي اوسوزوي یې (ځکه چې هغه همېشه هیله کوي چې چینې ته راشي) او بله د هغه د هیلې کولو او ارزو لرلو، ځکه چې زړه همېشه د ستړ یا تر وروستي ټکي پورې د چینې هیله او ارزو لري. هغه همېشه چیغې وهي چې چینې ته راشي، ځکه چې زړه همېشه د چینې په لوري ګوري او چیغې وهي، «رحم!»، ځکه چې هغه همېشه د چینې ډېره زیاته هیله لري.

کله چې زړه اړتیا لري چې لږ ارام وکړي اوساه واخلي یو لوی مرغه راځي او په هغه باندې خپل وزرونه غوړوي چې هغه له لمر څخه مصؤن شي. بیا نو زړه کولی شي چې یو څه ارام وکړي، خوکله چې هغه ارام کوي هغه بیا هم د چینې په لوري ګوري او په دوامداره توګه د چینې د لیدلو هیله کوي، خو که هغه د چینې له پاره ډېره هیله لري ولې چینې ته نه ورځي؟ ځکه سم چې زړه د هغه غره خوا ته مخه کوي چې چینه په کې واقع ده هغه نشي کولی چې نور د غره

(c) ketabton.com: The Digital Library

څوکه ویني. په دې توګه هغه نورنشي کولی چې چینه ویني، او څومره ژر چې هغه چینې ته کتل ودروي، هغه بیا مړ شي، ځکه چې د زړه د ژوند ټول زور یوازې له چینې څخه راوځي.

نو دا چې هغه غره ته مخامخ پروت دی، هغه کولی شي چې د هغه غره څوکه چې چینه په کې پرته ده ویني، خو سم چې هغه د غره خوا ته ځي، هغه نور نشي کولی چې د غره څوکه ویني (ځکه چې د جیګ غره طبعیت همداسې دی. کله چې یو سړی لیرې ولاړ وي، کولی شي چې لوړه څوکه ویني، خوچې ورنژدې شي، بیا نونشي کولی چې لوړه څوکه ویني). له دې امله هغه نشي کولی چې چینې ته په ځیر سره وګوري، له دې وېرې چې (خدای مه کړه) هغه مړ شي.

که، خدای مه کړه، زړه مړ شوی وای، ټوله نړۍ به ورانه شوې وه، ځکه چې زړه د هرشي د ژوند زور دی، او څنګه کېدی شي چې نړۍ له زړه پرته پاتې شي؟ په دې توګه، زړه نشي کولی چې چینې ته لاړ شي، هغه یوازې دا کولی شي چې خپل ځان چینې ته مخامخ پرېباسي او (لکه چې مخکې یاده شوه) همېشه چینې ته د ورتګ هیله وکړي او چیغې ووهي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوس چينه بېخي وخت نه لري، ځکه چې چينه په وخت کې دننه نه ده موجوده. (په نورو ټکو، چينه ورځې نه لري او نه په نړۍ کې د وخت [تېرېدل] لري، ځکه چې د هغې سويه د نړۍ د «وخت» د سويې په مقايسه ډېره لوړه ده). نو بيا څنګه کېدی شي چې چينه دې په نړۍ کې دوام وکړي؟ (ځکه چې په نړۍ کې هېڅ شی له وخت پرته دوام نه کوي). [البته مونږ وينو چې] يوازنی وخت چې چينه يې لري هغه وخت وي چې زړه په چينه باندې يوه ورځ د يوه سوغات په توګه ولوروي، او کله چې ورځ پای ته رسېږي، او ورځ نوره نه وي پاتې، بيا به نو چينه هېڅ وخت ونه لري، او چينه به بيا نړۍ [ترک] کړي. او که چينه نوره پاتې نشي، (خدای مه کړه) زړه به هم مړ شي او (لکه چې مخکې ياده شوه) ټوله نړۍ به (خدای مه کړه) پناه شي.

نو کله چې د ورځې پای رارسېږي هغوی، زړه او چينه، يو له بل سره د خدای په اماني کوي او يو بل ته بوللې، نظمونه او سندرې وايي-ډېرې ښايسته بوللې او سندرې، په ډېره مينه او يو د بل په وړاندې په ډېره هيله، زړه د چينې له پاره، او چينه د زړه له پاره.

د دې ټولو مسؤل د خير ريښتنی سړی دی. د ورځې په بېخي وروستۍ برخه کې، کله چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

[ورځ] پای ته رسېدلو ته نژدې شي (او سم چې ورځ پای ته رسېږي او، لکه چې یاده شوه، چینه هېڅ ورځ نه لري، هغه به مړه شي، او په پای کې به – خدای مه کړه – زړه هم مړ شي، او ټوله نړۍ به ایسته ورانه شي)، نو د خیر رینښتنی سړی راځي او زړه ته یوه ورځ ورکوي. زړه ورځ چینې ته ورکوي، او په دې توګه چینه بیا «وخت» ترلاسه کوي (یعنې، ورځ چینې ته دا وړتیا ورکوي چې وجود یې دوام ومومي، او زړه هم په دې توګه دوام مومي، او داسې نور).

اوس کله چې ورځ له هرهغه ځایه چې راځي راورسېږي، ورځ هم په بوللو او ښایسته نظمونو سره چې د پوهې او حکمت ټول ډولونه په کې وي راځي، او هره ورځ له بلې څخه فرق لري، څکه چې یکشنبه، او دوشنبه، او داسې نور په کې وي، او بیا د نوې میاشتې لمانځنه او رخصتۍ وي (یعنې د هرڅه له پاره چې ورځ رارسېږي، د هغې ورځې ځانګړي نظمونه ورسره وي).

ټول وخت چې د خیر رینښتنی سړی یې لري، هغه ټول زما (یعنې د تتله سړي چې دا ټوله کیسه یې کوله) له لارې کېږي، څکه چې زه ځم او د خیر ټول رینښتني [عملونه] راټولوم، چې د هغو له لارې (لکه چې مخکې یاده شوه) پخپله

(c) ketabton.com: The Digital Library

«وخت» رامنځته کېږي. (په دې توګه تتله سړی ان له هغه هوښیار سړي څخه هم ډېر هوښیار دی چې لاپې یې وهلې چې هغه د هرې هغې ورځې په څېر روښانه دی چې په ګوته کېږي ځکه چې «وخت» پخپله او ورځې یوازې د هغه له لارې، [په داسې حال کې چې] ورځ لکه چې مخکې یاده شوه له سندرو او بوللوسره راځي چې د حکمت او داسې نورو ټول ډولونه په کې وي.) [هغه (تتله) د مینې کولو- مهربانۍ هغه رینښتني عملونه چې «وخت» ترې راوتلی دی ټولوي، او د خیر رینښتني سړي ته یې راوړي، چې هغه بیا یوه ورځ زړه ته ورکوي، او زړه یې چینې ته ورکوي، او له دې لارې ټوله نړۍ کولی شي چې دوام وکړي.]

مونږ وینو چې د خیر رینښتني سړي ما ته دا تصدیق کړې ده چې زه کولی شم چې داسې بوللې او شعرونه ووایم چې د پوهې او حکمت ټول ډولونه لري (ځکه چې لکه چې مخکې یاده شوه د ورځې ټولې بوللې او نظمونه د هغه له خوا دي)، اوس زه دا په تاسو باندې د یوه پوره سوغات، «د واده د وینا سوغات» په توګه لوروم، چې تاسو دې زما په څېر اوسئ. هلته لویه خوښي او خوشحالي جوړه وه، او هغوی یو لوی جشن درلود!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## څلورمه ورځ

هغوی د هغې ورځې د خوښۍ مراسم پای ته ورسول او کټ ته سره لاړل. سهارهغوی [جوړې] بیا خاطرې پیل کړې او د هغه سوالګر د لیدو هیله یې کوله چې غاړه یې کړه وه. په همدغه وخت کې هغه ورننوت او ویې ویل، «زه دلته یم» [او داسې نور].

پخوا ما [یوازې] داسې هیله لرله چې تاسو دې زما په خبر اوسئ. اوس یې زه پر تاسو د «واده د یوه سوغات» په توګه لوروم چې تاسو دې زما په څېرشئ. تاسو فکر کوئ چې زما غاړه کړه ده. زما غاړه هېڅ کوړوالی نه لري! بلکه زه یوه ډېره سمه غاړه لرم، یوه ډېره ښایسته غاړه. هغه [ځکه] چې په نړۍ کې بخارونه (یعنې د نړۍ بې عقل او مزخرف څیزونه) دي او زه نه غواړم چې خپل هېڅ نفس په دې نړۍ کې وباسم. (نو د هغه غاړه له دې امله کړه ښکارېده چې هغه غونجه کړې وه څو پرې نه ږدي چې د هغه کوم نفس [یعنې د هغه اروا] د نړۍ بخارونو [مزخرفاتو] ته ور ونه وځي). په حقیقت کې زه یوه ډېره ښایسته غاړه لرم، یوه خاصه غاړه. له دې امله زه یو ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځانګړی غږ لرم. د نړۍ ټول اوازونه چې خبرې نه دي واخلئ، زه کولی شم چې په خپل غږ کې د د دغو ټولو اوازونو پېښې وکړم ځکه چې زه یوه ډېره خاصه غاړه او غږ لرم.

په دې هکله زه د یوه خاص وطن یوه خاطره لرم. هلته یو وطن دی چې په هغه کې هرڅوک په موسیقۍ (یعنې لوبولو او سندرو ویلو) کې ډېره لویه تجربه لري، اوهلته هرڅوک – ان واړه ماشومان – د پوهې په دې برخه کې مشغول دي. هلته داسې ماشوم نشته چې یوه د موسیقۍ آله دې نه غږوي. او د هغه وطن ترټولو کم لاسته راوړونکی د موسیقۍ په پوهه کې په بل وطن کې د موسیقۍ ترټولو لوی استاد وي، او د هغه وطن هوښیارخلک او پاچا، او سرودغږوونکي ټول د [موسیقۍ] په برخه کې ډېره لویه پوهه لري.

یو وخت د هغه وطن د موسیقۍ استادان سره ګډ کېناستل او هر یوه د موسیقۍ په برخه کې د خپلې پوهې لاپې کولې؛ یوه لاپه وکړه چې هغه کولی شي چې د موسیقۍ یوه ځانګړې آله وغږوي، بل لاپه وکړه چې هغه کولی شي چې یوه بېله آله وغږوي. په داسې حال کې چې بل بیا د یوې ځانګړې وسیلې په هکله د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپلې تجربې لاپه وکړه. بل لاپه وکړه چې هغه کولی شي چې د موزيک د وسايلو بېلابېل ډولونه وغږوي. ورپسې کس لاپه وکړه چې هغه کولی شي چې هره آله وغږوي، او يوه لاپه وکړه چې هغه کولی شي چې په خپل غږ کې د موسيقۍ د آلو په څېر اوازونه وباسي، بل لاپه وکړه چې هغه کولی شي چې په خپل غږ کې د موسيقۍ د يوې بېلې وسيلې په څېر اوازونه جوړ کړي. او يوه بل لاپه وکړه چې هغه کولی شي چې په خپل غږ کې د موسيقۍ د بېلابېلو نورو آلو په څېر اوازونه جوړ کړي. يوه بل لاپه وکړه چې هغه کولی شي چې په خپل غږ کې د يوه ډول په څېر- بېخي داسې لکه ډول چې وهل کېږي اوازونه وباسي. او يوه بل لاپه وکړه چې هغه کولی شي چې په خپل غږ کې د توپ د ډز په څېر اواز جوړ کړي. او زه هم هلته وم (يعنې هغه کس چې غاړه يې کږه وه او دا کيسه يې کوله). ما په لوړ اواز هغوی ته وويل: زما اواز ستاسو له اوازونو څخه ډېر ښه دی، او دا يې هم ثبوت. که تاسو د موسيقۍ په برخه کې دومره ښه يئ، بيا نو له دوه وطنونو سره مرسته وکړئ.

هلته دوه وطنونه دي، او هغه دوه وطنونه يو له بل څخه زرميله ليرې دي او هلته په دواړو

(c) ketabton.com: The Digital Library

وطنونو کې، کله چې شپه راځي، هېڅ څوک هم نشي کولی چې ویده شي، ځکه کله چې شپه شي، هرڅوک – سړي، ښځې او ماشومان – فریاد کوي او چیغې وهي ځکه چې د شپې پر وخت هلته سخت فریاد (یعنې د ژړا او فریاد غږ) اورېدل کېږي او په دې توګه هرڅوک: مېړونه، مېرمنې او واړه ماشومان مجبورېږي چې فریاد وکړي، داسې یو حالت وي چې که هلته څوک یوه ذبره واچوي ویلې به شي.

نوتاسو هغو دواړو وطنونو ته داخل شئ، ځکه کله چې هغوی په هغه وطن کې فریاد واوري، لکه چې یاده شوه هرڅوک مجبورېږي چې ماتم وکړي. او په هغه بل وطن کې هم ورته شی پېښېږي. او د دغو دواړو وطنونو ترمنځ زرمیله فاصله ده نو که تاسو په موسیقۍ کې دومره ماهریئ، له هغو دواړو وطنونو سره مرسته وکړئ؛ یا، راځئ چې وګورو چې آیا تاسو کولی شئ چې لږ ترلږه د عین اواز پېښې وکړئ (یعنې د هغه فریاد اواز چې هلته اورېدل کېږي).

هوښیارانو له هغه ښځه پوښتنه وکړه «ته به مونږ هلته ورولې؟»

هغه وویل، «هو. زه به تاسو هلته بوځم.»

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغوی ټولو تیاری ونیو چې هلته لاړ شي. هغوی لاړل او هلته ورسېدل (یعنې، له هغو دوو وطنونو څخه چې پورته یاد شول یوه ته لاړل). کله چې شپه شوه، بیا د تل په څېر وشول: هغوی ټولو فریاد پیل کړ. هنرپوهانوهم فریاد پیل کړ. (نو هغوی ولیدل چې هغوی نشي کولی چې [له هغه وطن سره] مرسته وکړي). هغه هغوی ته وویل (یعنې هغه کس چې غاړه یې کړه وه هنرپوهانوته وویل) «لړترلړه، ما ته دا ووایئ چې د دغه فریاد چې هلته اورېدل کېږي ریښه په څه کې ده- دا شور له کومه راځي؟» هغوی له هغه څخه پوښتنه وکړه «او ته پر دې پوهېږې؟» هغه ځواب ورکړ، «هو، زه پوهېږم».

ځکه چې هلته دوه مرغان دي، چې یو یې نر دی او بل ښځه. او په نړۍ کې د هغوی یوازې یوه جوړه ده،ښځینه یې ورکه شوې ده. هغه د هغې لټون کاوه او هغې د هغه لټون کاوه. هغوی د اوږدې مودې له پاره یو د بل لټون وکړ، تر دې چې هغوی خپله لاره ورکه کړه، نو هغوی ولیدل چې هغوی نشي کولی چې یو بل ومومي. په دې توګه هغوی په هغو ځایونو کې پاتې شول چېرې چې وو او ځانونو ته یې ځالې جوړې کړې. نارینه د دوو وطنونو له جملې څخه یوه ته نژدې یوه ځاله جوړه کړه. هغه د

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه [یعنې وطن] په څنګ کې نه وه. یوازې د مرغه اواز نژدې وه، چې له هغه ځای څخه چې هغه په کې ځاله جوړه کړې وه یو کس کولی شوای چې په هغه وطن کې د هغه غږ واوري. همدارنګه هغې هم د هغه بل وطن سره نژدې یوه ځاله جوړه کړه (یعنې، هغه هم بېخي د هغه په څنګ کې نه وه، یوازې هسې چې له هغه ځای څخه د هغې اواز اورېدل کېده). او کله به چې شپه راوخته، جوړه مرغانو به فریاد پیل کړ، څکه چې هغه به د هغې په بېلتون فریاد کاوه، اوهغې به د هغه په بېلتون فریاد کاوه. هغوی ډېر زیات فریاد وکړ، ډېر په زور او نا ارامۍ سره، او هغه د هغه فریاد اواز دی چې په دواړو وطنونو کې اورېدل کېږي.

د هغه اواز له امله، هغوی ټول ځانونه مجبور ګڼي چې فریاد وکړي، او نشي کولی چې ویده شي، (دا خبرې ټولې هغه سړي وکړې چې غاړه یې کړه وه.) خو هغوی په هغه باندې باور ونه کړ.

هغوی له هغه څخه پوښتنه وکړه، «آیا ته به مونږ هلته (یعنې مرغانو ته) بوځې؟»

هغه ځواب ورکړ، «هو. زه کولی شم چې تاسو هلته بوځم.»

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو ځنګه تاسو کولی شئ چې هلته لاړ شئ [هغه پسې وغزوله]؟ چې [ان دلته] تاسو نشئ کولی چې د فریاد اواز تحمل کړئ، او تاسو ټول ځانونه مجبور احساسوئ چې ماتم وکړئ، بیا نو کله چې تاسو هلته لاړ شئ، ښکاره خبره ده چې بیا به تاسو ونشئ کولی چې د فریاد اواز ته ټینګ شئ.

خو د ورځې په جریان کې یو ځوک نشي کولی چې هلته خوښي تحمل کړي. ځکه چې هلته د ورځې په جریان کې مرغان سره ټولیږي، یعنې، په هغه او په هغې ورټولیږي. هغوی دوی ته ډاډینه ورکوي او په ډېرې خوښۍ سره تسلیت ورکوي. هغوی دوی ته ډاډینه ورکوي او دوی ته وایي چې دوی به یو بل پیدا کړي. هغوی هلته ډېره خوښي جوړوي، داسې چې د ورځې یې ځوک خوښۍ ته نشي ټینګېدلی.

اوس د خوښۍ اواز له لیرې ځای څخه نه اورېدل کېږي، بلکه یوازې هغه وخت چې ځوک هلته نژدې راشي. خو د فریاد اواز– له لیرې څخه اورېدل کېږي. نو تاسو نشئ کولی چې هلته لاړ شئ.

هغوی له هغه څخه پوښتنه وکړه، «آیا ته کولی شې چې [دغه حالت] سم کړې؟»

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه ځواب ورکړ، «هو. زه کولی شم چې هغه سم کړم، ځکه چې زه کولی شم چې په نړۍ کې د ټولو اوازونو پېښې وکړم».

سربېره پردې [هغه دوام ورکړ] زه کولی شم چې اوازونه ولېږدوم، یعنې، زه کولی شم چې خپل غږ ولېږدوم، ځکه په هغه ځای کې چې زه یو اواز جوړوم، یو څوک نشي کولی چې اواز بېخي واوري؛ خو یو څوک کولی شي چې له لیرې څخه اواز واوري. په دې توګه زه کولی شم چې د هغې اواز هغه ته ور ولېږدوم. یعنې هغه اواز چې زه په کې د هغې پېښې کوم هغه به هغه ځای ته نژدې راشي چې هغه په کې دی. په ورته ډول، زه کولی شم چې د هغه اواز داسې ولېږدوم چې هغې ته نژدې ورشي. په دې توګه به زه هغوی یو بل ته سره نژدې کړم.

خو څوک دی چې په هغه باندې باور وکړي؟

نو هغه هغوی یوه ځنګله ته بوتلل. او هغوی داسې یو اواز واورېد لکه یو څوک چې یوه دروازه پرانیزي او بیا یې په درزسره بندوي، او یو څوک په یوه توپک باندې ډزې کوي، او یوڅوک سپی

(c) ketabton.com: The Digital Library

بهرلېږي چې [ښکار] وومومي. او بیا سپی په واوره کې ننوځي.

هغوی دا ټول واورېدل، او هغوی خواوشا وکتل، خوهېڅ شی یې هم ونه لید. او نه هغوی واورېدل چې له هغه ځخه دې کوم اواز راوځي. (یوازې دا چې هغه، هغه سړي چې غاړه یې کږه وه، خپل غږ له نورو بېلابېلو غږونو سره ولېږداوه. هغوی په دې توګه وپوهېدل چې هغه کولی شي چې د اوازونو ټول ډولونه جوړ کړي، او کولی شي چې خپل غږ ولېږدوي.) [ د کیسې ویونکي نور څه ونه ویل، او ښکاره خبره ده چې هغه د کیسې یوه برخه پرېښوده.]

مونږ ګورو چې زه د هغه وطن په هکله یوه خاطره لرم، چې زه یو حیرانوونکی غږ لرم، او (لکه چې مخکې یاده شوه) زه کولی شم چې په نړۍ کې د ټولو اوازونو پېښې وکړم. اوس زه دا په تاسو باندې د یوه پوره سوغات په توګه لوروم، یو «د واده د وینا سوغات» چې تاسو دې ببخي زما په څېرشئ. هلته ډېره لویه خوښي او لویه خوشحالي روانه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پنځمه ورځ

په پنځمه ورځ هم هغوی خوشحاله وو. هغوی د هغه سوالګر خاطرې پیل کړې چې په ملا کړوپ وه. هغوی ډېره هیله لرله [او ویل یې] «ځنګه کولی شو چې مونږ هغه سوالګر چې ملا یې کړوپه وه دلته راولو؟ ځکه چې که هغه دلته وای، ډېر خوند به یې کړی وای.» او بیا هغه رانوت!

هغه وویل «زه دلته یم! زه تاسو ته ستاسو د واده له پاره راغلی یم». هغه هغوی په غېږ کې ونیول اوښکل یې کړل. (هغه هغوی ته وویل) پخوا ما تاسو ته دعا کړې وه چې تاسو دې زما په څېرشئ. اوس زه په تاسو باندې یو «د واده د وینا سوغات» لوروم چې تاسو دې ښېخي زما په څېر شئ ځکه چې زه په ملا باندې هېڅ کړوپ نه یم، بلکه زه داسې اوږې لرم چې د «وړوکی چې ډېر څه لري» یوه ځانګړتیا ده، او زه په دې هکله یوه خاطره لرم.

یو وخت هلته داسې بحث کېده چې خلکو په کې لاپې وهلې چې هغه د «وړوکی چې ډېر څه لري» دغه ځانګړتیا لري. هغوی یو په بل پورې خندل. نورو به چې لاپې یې وهلې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغوی د «وړوکی چې ډېر څه لري» دا ځانګړتیا لري هغوی ته به ښه راغلاست ویل کېده خو د «وړوکی چې ډېر څه لري» په برخه کې زما ځانګړتیا له هغوی ټولو څخه لویه ده.

له هغوی څخه یوه لاپه وکړه چې د هغه مغز د «وړوکی چې ډېر څه لري» یو اړخ دی، ځکه چې هغه په زرګونو او په لسګونو زروخلکو ته د هغوی د ټولو اړتیاوو، او د هغوی د ټولو چلندونو، د هغوی د ټولو تجربو، او د هغوی د ټولو حرکتونو په پام کې نیولو سره پام کوي. هغه دا ټول په خپل مغز کې ساتي! هغه د «وړوکی چې ډېر څه لري» [یو اړخ] دی ځکه چې یو [واحد] مغز دومره ډېر خلک د هغوی له اړتیاوو او داسې نورو سره ساتي. (په دې توګه هغه د «وړوکی چې ډېر څه لري» په کټګورۍ کې دی. یعنې یو کوچنی ځای له خپل ظرفیت څخه ډېر څه ترسره کوي، په دې معنی چې په یوه [واحد] مغزکې ډېر خلک لکه چې پورته یاده شوه د هغوی له ټولو ډولونو او داسې نورو سره ځای شوي وي).

خلکو په هغه پورې وخندل. هغوی په هغه باندې ورغږ کړ «ته هېڅ څوک هم نه یې! او ستا خلک هېڅ څوک هم نه دي!».

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو بل چا غبرګړ، «ما په حقیقت کې د «وړوکی چې ډېر څه لري» [یو مثال] لیدلی دی». [هغه زیاته کړه]، یو وخت ما په یوه غره کې مزل کاوه. ما ولیدل چې هلته په غره کې ډېره زیاته اندازه کثافت او ککړتیا وه. زه د هغو په لیدلو حیران شوم چې څنګه په هغه غره باندې دومره ډېر کثافت او ککړتیا ده؟ هلته له غره سره نژدې یو سړی وه. هغه وویل، «دا ټول زما له لاسه شوي دي». هغه هلته په غره کې اوسېږي، او هغه دا ټول کثافت او اضافي مواد چې د هغه له خوراک او څښاک څخه پاتې کېږي په هغه غره کې غورځوي. هغه کثافت او ککړتیا ټول د هغه له لاسه رامنځته شوي دي. له دې امله، دغه سړی یو «وړوکی چې ډېر څه لري» دی، ځکه چې یوه کس دومره کثافت رامنځته کړی دی. او دا هم (د هغه د «وړوکی چې ډېر څه لري» د [پخواني] سړي د [ځانګړتیا] یو مثال دی، د هغه سړي چې لاپه یې کړې وه چې د هغه په مغز کې ډېر زیات خلک، او داسې نور موجود دي).

یوه بل لاپه وکړه چې هغه د «وړوکی چې ډېر څه لري» کیفیت لري ځکه چې، هغه د یوه داسې وطن یوه ټوټه ځمکه لري چې یوه ډېره زیاته اندازه مېوه تولیدوي. کله چې یو څوک د هغې مېوې مقدار حسابوي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه وطن يې توليدوي، هغه ګوري چې وطن هومره ډېره ساحه نه لري چې هغه مېوه په کې ځای شي. په وطن کې داسې کافي ځای نشته چې مېوه يې نيسي. له دې امله، دا د «وړوکی چې ډېر څه لري» يو شکل دی. هغوی هغه څه چې هغه وويل تاييد کړل، ځکه چې دا په روښانه توګه د «وړوکی چې ډېر څه لري» يوه بېلګه ده.

يوه بل وويل، دا چې هغه يو ډېر ښايسته باغ لري چې بېلابېلې مېوې او داسې نور شيان لري له دې امله يو زيات شمېر خلک او لويان هلته ورځي او ګوري يې ځکه چې هغه يو ډېر ښايسته باغ دی. او کله چې اوړی رارسېږي، [ټول دغه] ډېر، ډېرخلک او لويان هلته ورځي چې هلته خواوشا ته وګرځي راوګرځي. په حقيقت کې هلته په باغ کې په کافي اندازه ځای نشته چې دومره ډېر خلک په کې ځای شي. دا د «وړوکی چې ډېر څه لري» يو ډول دی. هغوی [هغو خلکو چې سره ګډ ناست وو او غوږ يې نيولی وه] دا هم تاييد کړه.

يوه بل وويل چې د هغه وينا د «وړوکی چې ډېر څه لري» يو مثال دی. هغه د يوه لوی پاچا سکرتر دی، او ډېر زيات خلک پاچا ته راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو یې راځي چې د پاچا ستاینه وکړي، بل راځي چې له پاچا نه څه وغواړي، او داسې نور. او بې له شکه چې پاچا نشي کولی چې د هغوی ټولې خبرې واوري. زه د هغوی ټوله وینا یوازې په یو څو ټکو کې راټولوم او پاچا ته یې یوازې په یو څو ټکو کې وایم. د هغوی ټوله ستاینه او د هغوی ټولې غوښتنې – هرڅه چې هغوی یې وایي – ټول په کې شامل وي، او په هغو څو ټکو کې وي چې زه یې پاچا ته وایم. په دې توګه زما وینا د «وړوکی چې ډېر څه لري» یو مثال دی.

یوه بل وویل چې د هغه چوپتیا د «وړوکی چې ډېر څه لري» یو شکل دی، ځکه چې هلته یوه لویه ډله نقدکوونکي او دروغجن خلک دي چې د هغه پر ضد ډېرې زیاتې خبرې کوي او دا له دې امله چې خلک په هغه باندې حمله کوي او د هغه پر ضد ډېرې خبرې کوي، او هغه د هغو ټولو چې د هغه په هکله خبرې کوي په چوپه خوله ځواب وایي. دغه [چوپتیا] د ټولو هغو [ښکاره کېدونکو] کمیوځواب وایي چې هغوی یې په هغه کې ګوري او ټولې هغه اوازې چې هغوی د هغه په هکله جوړې کړې دي. یوازې د هغه په چوپتیا سره هغه د هر څه ځواب وایي. له دې امله د هغه چوپتیا د «وړوکی چې ډېر څه لري» یوه بېلګه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه بل وویل چې هغه د «وړوکی چې ډېر څه لري» یو مثال دی، ځکه چې هلته یو غریب سړی دی، هغه غریب سړی ړوند دی، او هغه ډېر غټ دی. او هلته یو ډېر وړوکی سړی دی، او هغه دا غټ غریب ړانده سړي ته لاره ښيي. نو ویلی شو چې هغه د «وړوکی چې ډېر څه لري» یو مثال دی، ځکه چې کېدی شي چې ړوند سړی وښویږي او ولوېږي، او هغه په لارښوونې سره د ده مرسته کوي نو ویلی شي چې هغه د «وړوکی چې ډېر څه لري» یو ډول دی، ځکه چې هغه یو وړوکی سړی دی، او هغه له دغه غټ ړانده سړي سره مرسته کوي.

زه (یعنې په ملا کړوپ چې دا کیسه یې کوله) هم هلته وم. ما ورغبږ کړ: دغه خبره سمه ده چې تاسو د «وړوکی چې ډېر څه لري» یوه ځانګړتیا لرئ او زه د هغه څه په معنی پوهېږم چې تاسو ټولو وویل (یعنې هغه پوه شو چې د «وړوکی چې ډېر څه لري» [د ځانګړتیا] په هکله له لاپو وهلو څخه د هغوی هدف څه وه).

وروستي کس چې لاپه یې وکړه چې هغه غټ ړانده سړي ته لارښوونه کوي، هغه له تاسو ټولو څخه غټ دی، خو زه له هغه څخه هم ډېرغټ او لوړ یم، ځکه چې هغه چې لاپه

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې وکړه چې هغه غټ ړانده سړي ته لاره ښيي، د هغه هدف دا دی چې هغه د سپوږمۍ کرې ته (د هغې په اسماني مدار) لارښوونه کوي. له دې امله کېدی شي چې سپوږمۍ ته «ړوند سړی» وويل شي، ځکه چې د هغې هېڅ رڼا پخپله له هغې څخه نه راوځي. [هغه له خپل ځانه هېڅ هم نه لري] او که څه هم چې هغه ډېر کوچنی دی اوسپوږمۍ ډېره لويه ده بيا هم هغه سپوږمۍ ته لارښوونه کوي او د [سپوږمۍ] په وجه ټوله نړۍ کولی شي چې دوام وکړي، ځکه چې نړۍ سپوږمۍ ته ضرورت لري. مونږ بيا ګورو چې هغه په ښکاره د «وړوکی چې ډېر څه لري» يو صحيح شکل دی، خو له «وړوکی چې ډېر څه لري» څخه زما [ځانګړتيا] له بل هرچا څخه ډېره لوړه ده، او دايې هم ثبوت دی:

هلته داسې يو ګروپ وه چې د داسې حقيقت پلټنه يې کوله چې هر مخلوق يو سيوری لري، او هغه غواړي چې يوازې په هغه ځانګړي سيوري کې واوسېږي. نو هرمخلوق په سيوري کې خپل ځانګړی ځای لري، ځکه چې هر مخلوق د ځان له پاره يو سيوری انتخابوي، او هغه به يوازې په هغه ځانګړي سيوري کې اوسېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدارنګه هرمرغه یوه ځانګړې ځانګه لري چې هغه غواړي په هغې باندې کېني – او نه په بله ځانګه باندې، اوهر مرغه یوه بېله ځانګه لري چې هغه پرې یوازې کېني، او په بله ځانګه باندې نه کېني. او هرمرغه خپله ځانګړې ځانګه لري. د دغه ټکي [په پام کې نیولو] سره، ګروپ لټون کاوه چې ایا هغوی کولی شي چې داسې یوه ونه پیدا کړي چې د هغې په سیوري کې ټول مخلوق واوسېږي – چېرې چې ټول مخلوقات وغواړي چې د هغې ونې په سیوري کې واوسېږي، او چېرې چې ټول مرغان وکولی شي چې د هغې ونې په ځانګو کې کېني.

هغوی د خپلو څېړنو له لارې داسې یوه ونه کشف کړه. هغوی غوښتل چې هلته هغې ونې ته ورشي، ځکه چې هلته له هغې ونې سره موجود خوند بې اندازې دی. د مرغانو په شمول ټول حیوانات هلته شته او هېڅ مخلوق هلته له ستونزې سره نه مخامخ کېږي (یعنې هلته شته مخلوق یو بل نه ژوبلوي). ټول مخلوق هلته سره یوځای دی؛ هغوی ټول سره ګډ لوبې کوي، او بې له شکه چې ډېره د نېکمرغۍ خبره ده چې څوک هلته له هغې ونې سره نژدې واوسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو هغوی پلټنه پیل کړه چې یو څوک باید چېرې لاړ شي چې هلته هغې ونې ته ورسېږي. د هغوی په منځ کې د مسئلې په سر اختلاف وه، او د هغوی ترمنځ هېڅ داسې څوک نه وه چې په دې هکله تصمیم ونیسي، ځکه چې یوه ویل چې هغوی کولی شي چې شرق خوا ته په تګ سره هلته ورسېږي، بل ویل چې غرب خوا ته په تګ سره کولی شي چې هلته ورسېږي. یوه ویل چې په دې لوري، او بل ویل چې په هغه لوري، تر دې چې هغوی ونشوای کولی چې د داسې صحیح لوري په هکله تصمیم ونیسي چې د هغه له لارې ونې ته ورسېږي.

یو پوه راغی او هغوی ته یې وویل: ولې تاسو داسې لوری امتحانوئ چې د هغه له لارې تاسو کولی شئ چې ونې ته ورسېږئ؟ لومړی فکر وکړئ چې هغه خلک څوک دي چې کولی شي چې ونې ته ورنژدې شي (ځکه چې هرڅوک ونې ته نشي ورتللی). هرڅوک نشي کولی چې دې ونې ته ورنژدې شي؛ یوازې هغه کسان چې د ونې د خوی ځانګړتیاوې ولري کولی شي چې ورشي، ځکه چې ونه درې ریښې لري: یوه ریښه یې «ایمان» ده (یعنې که د خدای رضا وي، یو څوک باید په خدای عقیده ولري، خدای پرې

(c) ketabton.com: The Digital Library

رحم وکړي)، بله ریښه یې «تقوی» [له خدای نه وېره] ده، او درېیمه ریښه یې «عاجزي» ده (یعنې یو څوک باید ځان داسې ونه ګڼي چې ډېر لوی دی). او «ریښتیا» د ونې تنه ده - یعنې، پخپله ونه حقیقت دی او له هغه ځایه څانګې خپرېږي.

له دې امله، هېڅ څوک نشي کولی چې ونې ته ورنژدې شي مګر دا چې یوڅوک په خپل ځان کې د ونې صفتونه ولري. یعنې، «ایمان» (په خدای عقیده)، «تقوی» (له خدای نه وېره)، «عاجزي» (په دې معنی چې هغه باید خپل ځان داسې ونه ګڼي چې تر ټولو لوی دی) او«حقیقت»، (هوښیارسړي مجلس ته داسې خبرې وکړې). خو په مجلس کې هېڅ چا هم د خوی دغه ډول ځانګړتیاوې نه درلودې. یوازې یو شمېر خلکو په خپلو ځانونو کې یاد شوي صفتونه لرل، خو د هغوی ترمنځ ډېر لوی یووالی وه (یعنې هغوی یو له بل سره مینه او ملګرتیا لرل). هغوی نه غوښتل چې یو له بله بېل شي، یعنې د هغوی هغه برخه دې ونې ته لاړه شي (چې له پخوا یې د ونې صفتونه لرل) په داسې حال کې چې نورترې ببرته پاتې شي. هغوی داسې نه غوښتل ځکه چې هغوی ډېر په کلکه سره پېیل شوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

او متحد وو. د دې پر ځای هغوی غوښتل چې تر هغه وخته انتظار وباسي چې هغوی ټول مبارزه وکړي او یاد شوي صفتونه ترلاسه کړي، او په دې توګه هغوی ټول وکولی شي چې ونې ته راشي.

هغوی همداسې وکړل. ترهغه وخته پورې یې خپلو هڅو ته دوام ورکړ چې هغوی ټولو یاد شوي کوایف ترلاسه کړل (یعنې هر یوه ترهغه وخته پورې د خپل ملګري انتظار وکړ چې هغوی ټولو کوشش وکړ او صحیح ځانګړتیاوې یې ترلاسه کړې، یعنې چې هغوی ټولو «ایمان»، «هیبت» او داسې نور ترلاسه کړل). وروسته له هغه چې هغوی ټولو دغه ځانګړتیاوې ترلاسه کړې، هغوی ټول [په طبیعي ډول] سره ورته نظریې ته ورسېدل، او ټولو په داسې یوه واحده لاره سره توافق وکړچې د هغه له لارې ونې ته ورسېږي.

هغوی ټول [هلته] روان شول، تر یوه وخته پورې یې سفر وکړ، تر دې چې ویې کولی شول چې له لیرې څخه ونه وګوري. سم چې د هغوی سترګې پر ونه ولګېدې، [هغوی ولیدل چې] ونه په هېڅ ځای باندې نه ده ولاړه ځکه چې ونه هېڅ ځای نه لري. او دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې هغه هېڅ ځای نه لري، بیا نو څنګه کېدی شي چې څوک دې ورشي؟ او زه (یعنې په ملا کړوپ چې دا ټوله کیسه یې کوله) هم هلته له هغوی سره وم. ما غږ وکړ او هغوی ته مې وویل: زه ډاډه یم چې زه کولی شم چې تاسو ونې ته راولم، ځکه چې ونه هېڅ ځای نه لري، او په دې وجه چې ونه له فضا څخه لوړه ده (یعنې هغه په نړۍ کې د فضا تر [لوړوالي] ډېره لوړه ده – هغه هېڅ ځای نه لري). په توپیر سره، د «وړوکی چې ډېر څه لري» اړخ بیا هم د فضا په سرحدونو کې دننه پاتې کېږي، ځکه چې په هره بیه هغه لا هم دومره فضا لري چې ډېرڅه لري (یعنې د فضا یوه لږه اندازه چې له هغه څه څخه ډېر څیزونه لري چې باید په کې دننه ځای شي)، خو دغه مفهوم لا هم د فضا [د بعد په واسطه] محدود شوی دی، ځکه چې هغه لا هم [د فضا یوې لږې اندازې] ته اړتیا لري.

او زه (یعنې په ملا کړوپ) په حقیقت کې د «وړوکی چې ډېر څه لري» یوه ځانګړتیا لرم چې په هغه کې هغه کوچنۍ اندازه چې ډېرمقدارساتي د فضا په وروستۍ یا نهایي برخه کې [واقع] ده. له هغه ځای او له لوړ ځای څخه هېڅ فضا وجود نه لري. په دې توګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه کولی شم چې تاسو ټول ونې ته چې له «فضا» څخه لوړه ده، انتقال کړم. (ځکه چې په ملا کړوپ سړی د «فضا» او له هغه څه څخه چې تر «فضا» لوړ دي د منځګړي رول لري. هغه په حقیقت کې د «وړوکی چې ډېر څه لري» یو [ژوندی ثبوت] دی. دا د «فضا» بېخي وروستۍ برخه ده، او دا له هغه ځای څخه لوړه ده چې هلته هېڅ «فضا» وجود نه لري. په دې توګه په ملا کړوپ سړی کولی شي چې هغوی له «فضا» څخه بېل کړي، او له «فضا» څخه پورته یې وېسي).

ما هغوی واخیستل او ونې ته مې انتقال کړل. تاسو ګورئ چې زه یوه خاطره لرم چې زه په رېښتیا سره د «وړوکی چې ډېر څه لري» یوه ځانګړتیا لرم. (په دې توګه، هغه داسې ښکاري لکه په ملا چې کړوپ وي، ځکه چې هغه ډېر زیات انتقالات کوي، او دا له دې وجې چې هغه د «وړوکی چې ډېر څه لري» یو [استازی یا نماینده] دی. اوس زه دا په تاسو باندې د یوه سوغات په توګه لوروم چې تاسو باید بېخي زما په خبر شئ. هلته لویه خوښي او خوشحالي روانه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# شپېرمه ورځ

په شپېرمه ورځ هم هغوی خوشحاله وو. هغوی بیا په دې هیله وو [او ویل یې] چې «ښنګه کولی شو چې مونږ هغه کس دلته راولو چې لاسونه یې نه وو؟» دا وخت هغه سړی راننوت او ویې ویل، «زه دغه یم! زه ستاسو د واده له پاره دلته راغلی یم».

او هغه هم هغوی ته لکه د نورو هغو په څېرخبرې وکړې، او په هغوی باندې ورښکته شو ، هغوی ته یې وویل: تاسو فکر کوئ چې زما په لاسونو باندې څه چل شوی دی؟ زما لاسونو باندې هېڅ هم نه دي شوي! زه په ریښتیا سره قوي لاسونه لرم. خبره دا ده چې زه اصلا په دې دنیا کې له خپلو لاسونو څخه کار نه اخلم، ځکه چې زه د خپلو لاسونو قوت ته د یوه بل کار له پاره اړتیا لرم. او زه په دې هکله د اوبو له کلا نه یوه خاطره لرم.

یو ځل زه له یو شمېرخلکو سره ناست وم. هر یوه د خپلو لاسونو د قوت په هکله لاپې کولې. یوه لاپه وکړه چې هغه په خپلو لاسونو کې یو خاص قوت لري، یوه بل وویل چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه په لاسونو کې يو ځانګړی قوت موجود دی. په همدې ډول نورو هم د خپلو لاسونو د څواک په هکله لاپې وهلې. يعنې يوه لاپه وهله چې هغه په خپلو لاسونو کې دومره زور او څواک لري چې کله چې هغه يو غشي وولي کولی شي چې بېرته يې [هغه ځای ته چې ترې تللی وه] راوګرځوي، څکه چې هغه په خپلو لاسونو کې دومره څواک لري چې ان که هغه غشی خوشې کړی وي بيا هم کولی شي چې بېرته يې راوګرځوي، هغه کولی شي چې غشی [مخکې تر دې چې په نښه باندې ولګېږي] بېرته د خپل ځان لور ته راکش کړي.

ما (يعنې هغه سړی چې لاسونه يې نه وو او دا کيسه يې کوله) له هغه څخه پوښتنه وکړه: څه ډول غشی ته کولی شې چې بېرته راوګرځوې؟ څکه چې غشي خو په لس ډوله دي، او لس ډوله زهر دي. کله چې يو څوک غواړي چې يو غشی وولي هغه يې په يو ډول زهرو باندې ککړوي. د زهرو لس ډولونه موجود دي. کله چې يو څوک زهر په غشي باندې لګوي، غشی هم د [زهرو د ډول له مخې] خرابېږي، او کله چې يو څوک غشی په يوه بېل ډول زهرو باندې ککړوي، هغه ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library

زیان اړوي. په دې توګه د زهرو لس ډولونه دي؛ چې هر ډول یې له بل څخه ډېر قوي دي، یعنې، هغه ډېر زیان اړوي.

هغه پوښتنه وکړه «څه ډول غشي ته کولی شې چې بېرته راوګرځوې؟»

هغه بله پوښتنه وکړه چې – آیا هغه کولی شي چې [یوازې] هغه غشی مخکې له هغه بېرته راوګرځوي چې په نښه شوي شخص باندې ولګېږي که نه هغه وخت هم کولی شي چې بېرته یې راوګرځوي چې هغه په نښه شوی شخص وولي؟ په ځواب کې د هغوی له جملې څخه یوه وویل، «زه کولی شم چې غشی وروسته له هغه هم بېرته راوګرځوم چې یو څوک وولي». [پوښتونکي پوښتنه وکړه]، «خو کوم ډول غشی ته کولی شې چې بېرته راوګرځوې؟»

هغه ځواب ورکړ، «زه کولی شم چې [دا ډول او دا ډول] غشی بېرته راوګرځوم».

هغه ته ما (یعنې بې لاسونو سړي چې دا کیسه یې کوله) وویل، «ته نشې کولی چې د ملکې د لور علاج وکړې. دا چې ته نشې

(c) ketabton.com: The Digital Library

کولی چې له یوه څخه ډېر ډولونه غشي بېرته راوګرځوې، نوته نشې کولی چې د ملکې د لور علاج وکړې».

یوه بل لاپه وکړه چې هغه په خپلو لاسونو کې داسې قوت لري چې کله چې هغه [له چا څخه څه] ترلاسه کوي هغه یې په حقیقت کې [هغوی ته] ورکوي (یعنې ویل کېدی شي چې د هغه له پاره، پخپله ترلاسه کول یو د ورکولو عمل دی). هغه یو نېک انسان دی.

ما له هغه نه پوښتنه وکړه «ته څه ډول خیرات ورکوې؟»

هغه ځواب ورکړ « زه مې د خپلې ګټې په سلو کې لس یا عشر ورکوم.

نو ما هغه ته وویل، «که خبره داسې وي، بیا نو ته نشې کولی چې د ملکې د لورعلاج وکړې، ځکه چې ته بالکل نشې کولی چې د هغې ځای ته ورورسېږې [په دې دلیل چې ته یوازې په سلو کې لس عشر ورکوې]. ته کولی شې چې یوازې له یوه دېوال څخه [چې په هغه ځای باندې چاپېر دی چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

ملکې لور په کې ده] تېر شې، نو ته نشې کولی چې هغه ځای ته ورسېږې چې هغه په کې ده».

یوه بل لاپه وکړه چې د هغه په لاسونو کې زور دی، ځکه چې په نړۍ کې داسې چارواکي (یعنې داسې خلک چې مشران دي چې په یوه ښار یا وطن او داسې نورو باندې واکمني کوي) شته. هر یو یې حکمت ته اړتیا لري. زه په خپلو لاسونو کې داسې زور لرم چې کولی شم چې په یو چا باندې یوازې په لاس لګولو سره هغه ته پوهه ور وبخښم.

ما له هغه څخه پوښتنه وکړه «ته په خپلو لاسونو باندې هغه ته څه ډول پوهه وربخښلی شې؟ ځکه چې لس درجې پوهه وجود لري» (یعنې لس بېلابېل ډولونه پوهه وجود لري).
هغه ځواب ورکړ چې هغه کولی شي چې یو ځانګړی ډول پوهه وروبخښي.

نو ما هغه ته وویل، «ته نشې کولی چې د ملکې د لور علاج وکړې، ځکه چې ته نشې کولی چې د هغې نبض تشخیص کړې او دا له دې امله چې لس ډوله نبضونه وجود لري او ته نشې کولی چې له یو څخه ډېر ډولونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

نبض تشخیص کړي. ته کولی شې چې په خپلو لاسونو باندې یوازې یو ډول پوهه ورکړې».

یوه بل لاپه وکړه چې هغه په خپلو لاسونو کې قدرت لري، ځکه چې هلته یو باد دی او هغه کولی شي چې باد په خپلو لاسونو باندې ایسارکړي. هغه کولی شي چې باد په خپلو لاسونو کې ونیسي او په یوه ځانګړي ځواک سره یې بیا رامنځته کړي او د ځواک په یوه مناسبه درجه یې والوزوي. ما له هغه څخه پوښتنه وکړه، «ته څه ډول باد په خپلولاسونو نیولی شې؟ ځکه چې لس ډوله بادونه وجود لري».

هغه ځواب راکړ چې هغه د باد یو خاص ډول [کولی شي ونیسي].

ما ورته وویل، «ته نشې کولی چې د ملکې د لور علاج وکړې ځکه چې ته نشې کولی چې د هغې نغمې وغږوې. او دا له دې امله چې نغمې په لس ډوله دي، او د ملکې د لور علاج د نغمو له لارې کېږي، په داسې حال کې چې ته نشې کولی چې له یوې څخه ډېرې نغمې ولوبوې».

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغوی پوښتنه وکړه، «ته څه کولی شې؟»

هغه ځواب ورکړ «زه کولی شم چې داسې څه وکړم چې تاسو ټول یې نشئ کولی. یعنې زه کولی شم چې د هرې هغې کټګورۍ چې تاسو یې په هکله لاپې وکړې نهه [پاتې] برخې چې تاسو نشئ کولی ترسره یې کړئ بشپړې کړم».

په دې هکله یوه کیسه موجوده ده: یو ځل یو وخت یو پاچا وه چې د یوې ملکې د یوې خاصې لور سخته هیله یې لرله. هغه ډېرې هڅې وکړې او پلانونه یې جوړ کړل چې هغه ترلاسه کړي. په پای کې هغه د هغې په ترلاسه کولو بریالی شو، او هغه له هغه سره شوه. یو ځل پاچا خوب ولید چې هغه د ملکې لور په هغه باندې دپاسه ولاړه ده او هغې هغه وواژه. هغه وحشت وهلی پاڅېد، او خوب په ژوره توګه د هغه زړه ته لاره وکړه. هغه د خوب ټول تعبیروونکي وروغوښتل، او هغوی خوب ټکی په ټکی تعبیر کړ، چې خوب به ریښتیا راوځي – یعنې هغه به دی ووژني.

پاچا هېڅ نه پوهېده چې له هغې سره څه وکړي. آیا دی باید هغه ووژني؟ دا کار به هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library

غمجن کړي. آیا دی باید هغه تبعید کړي؟ دا کار به هغه ډېر سخت نا ارام کړي، ځکه چې یو بل ځوک به یې ونیسي. په دې کار سره به هغه ډېر زیات خپه شي ځکه چې هغه د هغې د خپلولو له پاره ډېر زیات کوشش کړی دی، او اوس به هغه د کوم بل چا لاس ته ورشي. سربېره پر دې، که دی هغه وشړي او هغه له کوم بل چا سره یوځای شي، بیا به نو خوب بې له شکه ریښتیا شي. هغه به وکولی شي چې دی ووژني، ځکه چې هغه به له یو بل چا سره وي. آیا دی باید هغه له ځان سره نژدې وساتي؟ هغه له خوب نه وډار شو چې نه چې هغه دی ووژني. نو پاچا نه پوهېد چې له هغې سره څه وکړي.

په عین حال کې، د خوب له وجې له هغې سره د هغه مینه ورو ورو په کمېدو شوه. له هغې سره د هغه په مینه کې کمی په دوامداره توګه ډېرېده. همدارنګه د هغې له خوا نه [له هغه سره هم] د هغې د مینې کمی په دوامداره توګه زیاتېده، تر دې چې هغې له هغه څخه کرکه پیل کړه. نو هغه له هغه څخه وتښتېده. پاچا ځواکونه ولېږل چې هغه ولټوي. یو ځوک راغی او هغه ته یې حال راوړ چې هغه د اوبو د کلا په چاپېر ګرځی راګرځي، او دا چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هلته یوه د اوبو کلا ده چې لس دېوالونه لري او یو یې د بل دننه دی، او لس واړه دېوالونه یې له اوبو نه جوړ دي. د کلا فرش چې خلک پرې ځي راځي هم له اوبو نه جوړ دی. په انګړ کې یې د مېوې ونې دي – او نور هر څه یې له اوبو نه جوړ دي. او د کلا د ښکلا او عجبوالي په هکله ویلی شي چې په دقت سره شرحه کولو ته یې اړتیا نشته، هغه بې له شکه چې یو حیرانوونکی اعجاز دی، ځکه چې ټوله کلا له اوبو نه جوړه ده.

کلا ته څوک هېڅ ننوتلی نشي، ځکه چې ډوبېږي، او دا په دې چې ټوله کلا له اوبو نه جوړه شوې ده. د ملکې لور تښتېدلې، هغې کلا ته رسېدلې ده، او هلته له کلا نه دورې وهي.

نو یو چا پاچا خبر کړ چې هغه د اوبو د کلا په خواوشا کې دورې وهي. پاچا له خپل لښکر سره ووت چې هغه راونیسي. کله چې د ملکې لور ولیدل (چې پاچا او د هغه لښکر غواړي چې هغه ونیسي) هغې پرېکړه وکړه چې کلا ته ورننوځي، ځکه چې هغې د دې په ځای چې پاچا هغه ونیسي او له ځان سره یې وساتي غوره ګڼله چې غرقه شي. او [هغې

(c) ketabton.com: The Digital Library

فکر کاوه] چې ښايي داسې يو چانس ترلاسه کړي چې هغه ژوندۍ پاتې شي، او دا چې هغه به وکولی شي چې د اوبو کلا ته ننوځي.

کله چې پاچا وليدل چې هغه اوبو ته منډې وروهي هغه ووېل، اوس نو بله لاره نه ده پاتې نو حکم يې وکړ چې هغوی بايد هغه وولي، [ويې ويل] «او که هغه مړه کېږي مړه کېږي به».

هغوی په هغې باندې ګزارونه وکړل او ټول غشي چې د زهرو په لسو واړو ډولونو باندې ککړ شوي وو په هغې باندې ولګېدل. هغې، د ملکې لور، د اوبو کلا ته ورمنډه کړه او وردننه شوه. هغه د اوبو د دېوالونو له ټولو دروازو نه تېره شوه، ځکه چې د اوبو دېوالونه دروازې لري، او هغه د اوبو د کلا د لس واړو دېوالونو له ټولو دروازو څخه تېره شوه، تر دې چې هغه په خپله کلا ته ورننوته. هغه هلته پرېوته، او له زور نه بېخي ولوېده او ما (يعني هغه سړي چې لاسونه يې نه لرل او دا ټوله کيسه يې کوله) د هغې علاج وکړ.

نو هغه [څوک چې نشي کولی] چې په خپلو لاسونو باندې د خير لس واړه ډولونه ترسره

(c) ketabton.com: The Digital Library

کړي، نشي کولی چې د اوبو د کلا له لسو واړو دېوالونو څخه تېر شي – ځکه چې هغه به په اوبو کې غرق شي. پاچا او د هغه عسکرو د ملکې لور تعقیب کړه، او هغوی ټول په اوبو کې غرق شول، او ما وکولی شول چې د کلا له لسو واړو دېوالونو څخه تېر شم.

اوس د اوبو دېوالونه د سیند څپې دي، چې ځانونه د دېوال په څېر پورته کوي، ځکه چې بادونه د سیند څپې ټېله کوي، او هغوی څپې پورته کوي. او څپې، چې لس دېوالونه دي، هلته په دوامداره توګه ودرېږي – داسې چې بادونه هلته څپې نیسي او پورته یې ساتي.

زه د اوبو د کلا له لسو واړو دېوالونو څخه تېرېږم، او کولی شم چې له هغې (یعنې د ملکې له لور نه) د غشو لس واړه ډولونه لیرې کړم، او کولی شم چې د خپلو لاسونو د لس واړو ګوتو په واسطه د نبض لس واړه ډولونه وپېژنم، ځکه چې د یو چا د لس واړو ګوتو څخه د هرې یوې په واسطه یو څوک کولی شي چې د نبض له لسو ډولونو څخه یو ډول احساس کړي، او زه کولی شم چې د نغمې په لسو ډولونو د ملکې د لورعلاج وکړم (ځکه لکه چې یاده شوه د هغې علاج د نغمو په واسطه کېږي).

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې توګه زه کولی شم چې په رینښتیا سره د ملکې د لور علاج وکړم. نو وګورئ چې زه په رینښتیا سره په خپلو لاسونو کې قوت لرم. اوس زه دا په تاسو باندې د یوه سوغات په توګه لوروم. هلته ډېره زیاته خوښي او خوشحالي وه، او هغوی له خوښۍ نه په کالیوکې نه ځایېدل.

کله چې لیکوال د دغې کیسې ویل پای ته ورسول، هغه زیاته کړه:

د دې کیسې ویل زما له پاره ډېر سخت دي، خو دا چې ما یې ویل مخکې پیل کړي وو، نو باید پای ته یې ورسوم.

که زه له دې کیسې پرته په بل څه نه پوهېدم، زه به بیا هم یو حیرانوونکی اعجاز وم، ځکه چې دا کیسه یوه ډېره حیرانوونکې عجوبه ده.

د اصلي پلي کوونکي تبصره:

د کیسې پای، یعنې څه چې په اومه ورځ د بې پښو سوالګر له پاره پېښ شول، او د کیسې په پیل کې د پاچا د زوی د برخې ادامه، هغه ونه ویله، نو نتیجه به مونږ [د ورځو تر پایه] پورې وانه ورو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پندونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پیل مرغ شهزاده

یو سلطنتي شهزاده یو وخت لېونی شو او فکر یې کاوه چې له هغه څخه پیل مرغ جوړ شوی دی. هغه ځان مجبور ګاڼه چې ترمېز لاندې لوڅ کېني، او د پیل مرغ په څېر په هډوکو او د ډوډۍ په میده ګیو کې خوله ووهي. سلطنتي ډاکټرانو د تل لپاره دا هیله له لاسه ورکړه چې هغه دې له دې لېونتوب څخه بېرته ورغېږي، او پاچا په ډېر لوی غم اخته شو.

دا وخت یو حکیم راغی او ویې ویل، «زه د ده د درملنې مسؤلیت پرغاړه اخلم».
حکیم خپلې جامې واېستلې او تر مېز لاندې لوڅ د شهزاده ترڅنګ کېناست، او د ډوډۍ په میده ګیو او هډوکو کې یې لاس وهل پیل کړل. شهزاده ترې وپوښتل«ته څوک یې؟ ته دلته څه کوې؟»
«او ته؟» حکیم ځواب ورکړ. «ته دلته څه کوې؟»
شهزاده وویل«زه پیل مرغ یم»، «حکیم ځواب ورکړ، زه هم پیل مرغ یم»

هغوی د څه وخت لپاره په ګډه په دې ډول کېناستل، تر دې چې په خپلو کې سره ښه ملګري شول. یوه ورځ، حکیم د پاچا خدمتګارانو ته اشاره وکړه چې هغه ته کمیسونه ورواچوي. هغه شهزاده

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته وویل، «ته ولې فکر کوې چې یو پیل مرغ نشي کولی چې کمیس واغوندي؟ ته کولی شې چې کمیس واغوندې او بیا هم پیل مرغ واوسې» په دې سره هغوی دواړو کمیسونه واغوستل.

څه وخت وروسته، هغه بیا هغوی ته اشاره وکړه، او هغوی هغه ته پرتوګونه ورواچول. د مخکې په څېر هغه وویل،«ته ولې فکر کوې چې که ته پرتوګ واغوندې ته به پیل مرغ ونه اوسې؟»

حکیم دې کار ته ترهغه دوام ورکړ چې هغوی دواړه په کالیو ښه پوره پټ شول. هغه بیا اشاره وکړه، او هغوی ته له مېز څخه منظم خواړه ورکول شول. حکیم بیا وویل، «ته ولې فکر کوې چې که ته ښه خواړه وخورې ته به پیل مرغ نه ګڼل کېږې؟ ته کولی شې هرهغه څه چې زړه دې یې غواړي وخورې او بیاهم پیل مرغ و اوسې» هغوی دواړو خواړه وخوړل.

په پای کې، حکیم وویل، «ته ولې فکر کوې چې یو پیل مرغ باید ترمېز لاندې کېني؟ پیل مرغ هم کولی شي چې پرمېز دپاسه کېني.»

حکیم ترهغه دې چلند ته دوام ورکړ چې شهزاده ښه پوره روغ شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خزانه

یوه سړي یو وخت خوب ولید چې په [یوه ځانګړي ښارکې] تر یوه پله لاندې یوه لویه خزانه ده. نو هغه [هلته] لاړ، او له پله سره نژدې ودرېد، او هڅه یې کوله چې څرګنده کړي چې څه وکړي. هغه نشوای کولی چې خزانه د ورځې له مخې ولټوي ځکه چې هلته نورو خلکو په منظمه توګه تګ راتګ کاوه.

یو پولیس چې له هغه ځایه تېرېده ترې پوښتنه وکړه، «ته څه کوې چې دلته ولاړ یې او فکر کوې؟» سړي پرېکړه وکړه چې دا به ترټولو ښه وي چې هغه ته ټوله کیسه ووایي، د هغه مرسته ترلاسه کړي، او بیا هغوی خزانه سره شریکه کړي. هغه پولیس ته ټوله کیسه وکړه. پولیس ځواب ورکړ، «[تاسو خلک] یوازې خوبونو ته اهمیت ورکوئ! ما هم یو خوب لیدلی وه، او ما هم یوه خزانه ولیده. هغه په [داسې او داسې یوه ځای] کې وه.»

د هغه د خوب په اړه، پولیس د سړي د ښار نوم او د سړي نوم ذکر کړل، او داسې یې پای ته ورسوله، «په خوب کې هلته په تلخونه کې یوه خزانه وه، خو ته فکر کوې چې [زه دومره کم عقل یم] چې هلته دې سفر وکړم؟»

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو سړی بېرته کور ته ستون شو، خپله تلخونه یې وکیندله، او خزانه یې ومونده. هغه وویل، «اوس زه پوهېږم چې ما لا له پخوا نه خزانه لرله، خو د دې له پاره چې ویې مومم، ما باید سفر کړی وای...»

## قېمتي کاڼی

یو وخت یو سړی وه چې د ژوند لګښت به یې د خاورې له کیندلو اوپلورلو څخه ترلاسه کاوه. یوه ورځ، چې هغه خاوره کیندله یو قېمتي کاڼی یې وموند چې ډېر زیات ارزښت یې درلود. دا چې هغه د کاڼي په ارزښت نه پوهېده نو یوه پوه کس ته یې وروړ چې ارزښت یې ورته معلوم کړي. هغه ده ته وویل، «په دې وطن کې یې هېڅ څوک هم وس نه لري. ته باید د لندن امپراتوري ښار ته سفر وکړې.»

خو هغه یو غریب سړی وه! هغه د سفر اسانتیاوې نه لرلې، نو څه یې چې لرل هغه یې خرڅ کړل، او کور په کور وګرځېد او پیسې یې ټولې کړې. په پای کې هغه دومره پیسې ترلاسه کړې چې کولی یې شوی د سمندر تر غاړې پورې پرې ورسېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه غوښتل چې په یوه کښتۍ کې سپور شي خونورې پیسې یې نه لرلې، نو هغه کښتیوان ته ورغی او هغه ته یې قېمتي کاڼی وروښود. کښتیوان سمدلاسه هغه ته په ډېر درنښت سره په کښتۍ کې د سپرېدلو له پاره ښه راغلاست وویل، او ویې ویل، «بې له شکه چې ته یو ډېرشتمن او مهم سړی یې.» هغه ده ته یو د لومړۍ درجې کابین ورکړ او داسې چلند یې ورسره وکړ لکه هغه چې د پاچایي کورنۍ سړی وي.

د هغه کابین د سمندر لوري ته یوه لاره لرله، او هغه هلته کېناست، چې په منظمه توګه یې قېمتي کاڼي ته کتل او خوند یې ترې اخیست. هغه به په ځانګړې توګه د خوړو پر وخت دا کار کاوه، ځکه چې په ارام او خوښۍ سره خواړه خوړل د هاضمې له پاره ډېر ګټور دي.

یوه ورځ هغه کېناست چې خواړه وخوري، په دې وخت کې الماس د هغه مخ ته پر مېز پروت وه چې هغه کولی شوی چې خوند ترې واخلي. هغه هلته ناست وه چې خوب وړووړ. په همدغه وخت کې، د کابین هلک (په داسې حال کې چې له الماس نه خبر نه وه) سرمېزي او د خوړو میده ګي پورته کړل او هر څه یې په سیند کې وشنډل. کله چې سړی ویښ شو او پوه شو چې څه پېښ شوي دي، دومره

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپه شو- چې ان د لېونتوب تر حده پورې ورسېد. هغه څه کولی شوی؟! کښتیوان داسې یو قاتل انسان وه چې په دې کې هېڅ شک نه پاتې کېده چې د کرایې د نه ورکولو له امله دې دی ووژني. په دې توګه، هغه خپل چلند ته په خوښۍ سره دوام ورکړ، او داسې یې ښودله لکه هېڅ چې هم نه وي پېښ شوي.

کښتیوان چې داسې عادت یې اخیستی وه چې هره ورځ به یې له هغه سره د ورځې څو ساعته خبرې کولې، هم په دې ورځ راغی. هغه خپل مورال داسې لوړ وښود چې کښتیوان پوه نشو چې څه بده پېښه دې شوې وي. کښتیوان هغه ته وویل، «زه په دې پوهېږم چې ته یو ښه او باوري سړی یې. زه غواړم چې ډېر زیات غنم واخلم او په لندن کې یې خرڅ کړم او ډېره ګټه په کې وکړم، خو زه ډارېږم چې په ما باندې به داسې تور ولګېږي چې د پاچا له خزانو نه مې غلا کړې ده، نو زه به داسې ترتیب ونیسم چې غنم ستا په نوم واخیستل شي. زه به ستا د په تکلیف کېدلو له امله تا ته ښه اجوره درکړم.»

غریب سړي هوکړه وکړه او معامله ترسره شوه، خو سم چې هغه لندن ته ورسېد، کښتیوان مړ شو. د کښتۍ د غنمو ټول بار د غریب سړي په ملکیت کې پاتې شو، چې ارزښت یې د الماس تر ارزښت ډېر زیات وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خرابه دانه

يو پاچا يو وخت خپل لومړي وزيرته چې د هغه ښه ملګری هم وه، وويل، «زه په ستورو کې وينم چې هرڅوک چې هره غله دانه چې سږکال شنه کېږي وخوري هغه به لېونی شي. ستا مشوره څه ده؟»

لومړي وزير ځواب ورکړ، «مونږ بايد دومره غله وساتو چې دې ته مو اړتيا پېښه نشي چې د سږکال د فصل غله وخورو.»

پاچا مخالفت وکړاو ويې ويل، «خو بيا به مونږ يوازني کسان يو چې روغ به پاتې شو، نوربه ټول خلک لېوني شي. په دې توګه، هغوی به فکر وکړي چې مونږ لېوني يو. زمونږ له پاره دا ناشونې ده چې د هرچا لپاره کافي اندازه غله وساتو. نو مونږ هم بايد د دې کال غله وخورو، خو مونږ بايد په خپلو تنديو باندې يوه نښه ولګوو، چې لږترلږه په دې پوه شو چې مونږ لېوني يو. زه به ستا تندي ته وګورم، او ته به زما تندي ته وګورې، او کله چې مونږ دغه نښه وګورو، مونږ به پوه شو چې مونږ دواړه لېوني يو.»

(c) ketabton.com: The Digital Library

# باران

یو پاچا یو وخت ښکار کولو ته لاړ، او سفر ته یې د یوه عام سړي په څېر کالي واغوستل، څو خپل کار په ښه ډول ترسره کړي. ناڅاپه یو سخت باران په ورېدو شو– یو سېلاو راغی! د پاچا وزیران یو په یوه لاره لاړ او بل په بله، او پاچا له سخت خطر سره مخامخ شو. هغه لټون پیل کړ تر دې چې یو ساده غوندې کور یې پیدا کړ. هغه کلیوال چې هلته اوسېده هغه پاچا کورته دننه بوته، کالي یې ورته بدل کړل، او هغه ته یې هغه د وربشو خواړه په مخکې کېښودل چې په کورکې یې لرل. هغه بخارۍ ولګوله او پرې یې ښود چې پاچا له بخارۍ سره نژدې په هوارو شویو تختو باندې ویده شي.

دا د پاچا له پاره ډېره خوږه او په زړه پورې ولګېده. هغه دومره ستړی او ستومانه وه چې داسې یې احساس کړه لکه هغه چې هېڅکله هم داسې خوندور حالت نه وي لیدلی. په دې وخت کې، پاچايي وزیرانو پاچا ولټاوه ترهغه چې په دې کور کې یې پیدا کړ او چې ویې لیدل نو پاچا ویده وه.

هغوی غوښتل چې هغه له هغوی سره یوځای بېرته کور ته ستون شي. پاچا وویل، «تاسو دومره

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم ونه کړل چې ماته نجات راکړئ. تاسو هر یوه منډه کړه چې خپل ځان بچ کړئ، خو دغه سړي زه خلاص کړم. دلته ما تر ټولو خوږه تجربه ولیده، نو دی به ما په خپله بګۍ کې په دغو کالیو کې درولي او همدی به ما زما په تخت باندې کېنوي».

## پمپ

یو وخت په یوځای کې یو سړی وه چې د خلکو په دې خبرو به یي باور نه کاوه چې په دوزخ کې داسې ټوکي شیطانان هم شته چې کله کله راځي او خلک بې لارې کوي. هلته یوشمېر داسې پیښې شوې هم وي، خو بیا هم دغه کس پرې باور نه کاوه.

یوه شپه یو ټوکي شیطان هغه ته راغی او غږ یې وروکړ چې دباندې وروځي. هغه دباندې ورووت، او شیطان هغه ته یو ښایسته اس چې د خرځلاو له پاره وه، ورښکاره کړ. هغه اس وکوت او ویې لیدل چې هغه په رښتیا هم چې ډېرښایسته اس دی. هغه پوښتنه وکړه: « په څو یې خرڅوې؟»

شیطان ځواب ورکړ: «په څلور روپۍ»

(c) ketabton.com: The Digital Library

سړی پوه شو چې د اس قیمت خو لیترلیره اته روپۍ دی. هغه یو اصلي او د ښه ذات اس وه. هغه اس په څلور روپۍ واخیست او فکر یې وکړ چې ښه ګټوره معامله یې وکړه.

بله ورځ، هغه اس را واپست چې خرڅ یې کړي. خلک راغلل، او غوښتل یې چې هغه ته د اس په سر یو څه ګټه ورکړي. هغه له ځان سره وویل، «ښکاره خبره ده چې که هغوی غواړي چې ماته هغه پیسې راکړي بې له شکه چې هغه د دې دوه برابره ارزښت لري». نو هغه د اس له خرڅولو نه تېر شو.

هغه اس بل ځای ته راوست، او خلک دې ته هم تیار ول چې هغه ته د هغه د غوښتي قیمت دوه برابره ورکړي. هغه له ځان سره وویل، «داسې ښکاري چې د هغه ارزښت د دغې اندازې پیسوله دوه برابره څخه هم ډېر دی».

هغه اس همداسې مخکې راوست راوست تر دې چې د هغه قیمت زرګونو ته ورسېد. هغه بیا هم ونه منله چې په چا باندې یې خرڅ کړي، ځکه چې هر څو به ورته وستول شوې، هغه به تل ویل، «داسې ښکاري چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغه ارزښت د دې دوه برابره دی». په پای کې داسې وشول چې له پاچا پرته بل هیچا د هغه وس نه درلود.

کله چې هغه اس پاچا ته راوست، پاچا هغه ته د اس په بدل کې د ډېرو زیاتو پیسو وړاندیز وکړ، ځکه چې هرچا دا منله چې هغه یو ډېر ښه اس وه خو ان له پاچا سره هم هغه هوکړې ته ونه رسېد، ځکه چې هغه ویل، «داسې ښکاري چې د هغه قېمت تر دې هم ډېر دی». په دې ډول، ان پاچا هم ونشو کولی چې له هغه نه اس واخلي.

هغه پاچا پرېښود او اس یې بوته چې اوبه ورکړي. هغه هلته یو پمپ وموند چې څارویو ته یې اوبه ورکولې. اس سم له لاسه پمپ ته ورټوپ کړ او ورک شو او له منځه لاړ (یعنې هغه ته داسې ښکاره شوه، که نه په حقیقت کې د اس ټوله موضوع یو خیال وه چې ټوکي شیطانانو جوړ کړی وه).

سړي د ورپېښ شوي حالت له امله چیغې پیل کړې، او خلکو چیغې واورېدې او په هغه باندې ورټول شول. هغوی ترې پوښتنه وکړه، «ولې چیغې وهې؟» هغه ځواب ورکړ چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه اس په پمپ کې ورټوپ کړ. خلکو هغه سخت وواهه ، ځکه چې هغوی فکر کاوه چې هغه لېونی دی. د پمپ خوله ډېره وړه وه. څنګه کېدای شوای چې اس دې په هغه کې ورټوپ کړی وي؟!

هغه پوه شو چې هغوی دی د دې له پاره وهي چې هغوی ته لېونی ښکاري، او ده غوښتل چې له هغه ځای څخه لاړ شي. سم چې هغه تیاری کاوه چې لاړ شي، اس له پمپ نه خپل سر را واېست! هغه بیا چیغې پیل کړې، «آه آه!» ځکه چې هغه داسې خیال وکړ چې د هغه اس هلته دی. خلک بیا د هغه په چاپېر ورټول شول او هغه یې بیا وواهه، ځکه چې هغه د مخکې په څېر بیا لکه د لېوني غوندې کار کاوه.

بیا هغه وغوښتل چې لاړ شي، خو سم چې هغه ځان تګ ته تیاراوه، اس بیا خپل سر له پمپ نه را واېست. هغه بیا لکه د مخکې په څېر چیغې پیل کړې، او خلک پرې ورټول شول او هغه یې یو ځل بیا وواهه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مرغه

یو وخت په یو ځای کې یو پاچا وه چې نجومي وه. یو کال هغه [په ستورو کې] ولیدل چې که غنم له یوه ټاکلي وخت څخه مخکې لو نشي، ټول غنم به خراب شي او داسې نور. هغه ولیدل چې وخت ډېر کم دی.

هغه داسې پرېکړه وکړه چې هغه به لوګرو ته هر ډول اسانتیا برابره کړي او د هغوی ټولې اړتیاوې به پوره کړي چې هغوی په پوره ارام سره شپه او ورځ کار وکړي او په دې توګه هغوی پسل تر ټاکلې نېټې مخکې ترلاسه کړي.

خو کارکوونکو له هغوی نه د شوې تمې خلاف کار وکړ، او دومره خوشحاله شول چې په پسل باندې کار کول یې هېر شول. وخت راغی، غنم نه وو رېبل شوي، او هغه ټول خراب شول.

خلک نه پوهېدل چې څه وکړي. هغوی پوه شول چې پاچا به هغوی ته سخت په قهر شي. یوه پوه سړي هغوی ته یو نظر ورکړ چې پاچا له یوه ځانګړي مرغه سره سخته مینه لري. که هغوی هغه ته هغسې یو مرغه وروړي، هغه به دومره

(c) ketabton.com: The Digital Library

خوښ او خوشحال شي چې هغوی ته به هر څه وبخښي. خو د هغه مرغه نیول ډېر سخت وه، ځکه چې هغه په هوا کې ډېر جېګ اوسېده. هغوی زینه نه لرله، او بلې خوا ته وخت هم لږ پاتې وه.

یوه [یوځل بیا] هغوی ته یو نظر ورکړ. دا چې په هغوی کې سړي ډېر ول، کېدی شي چې یو یې د بل دپاسه ودرېږي، او دومره لوړ شي چې تر مرغه پورې ور ورسېږي.

خو هغوی یو له بل سره لانجې پیل کړې، ځکه چې هر یوه غوښتل چې پاس په سر کې اوسي، داسې چې ملګري یې ترې لاندې وي. هغوی په خپلو کې د شخړو له امله هېڅ هم ونشو کولی، تردې چې مرغه په خپله مخه والوت. پاچا هغوی ته هماغسې په قهر وه ځکه چې هغوی پسل په وخت ټول نه کړ.

## هوسۍ

یو ځل یوه پاچا یوه هوسۍ پسې اخیستې وه، خو نیولی یې نشوه. پاچایي وزیرانو هغه ته مخ کړ او ورته ویې ویل، «اعلیحضرته، ځئ چې بېرته وګرځو».

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاچا ځواب ورکړ، «زه باید دغه هوسۍ ونیسم، خو هرڅوک چې غواړي چې بېرته وګرځي کولی شي چې وګرځي».

## قندیل

یو وخت یوه زوی خپل پلار پرېښود او ډېرکالونه په یوه لیرې سیمه کې له نا اشنا خلکو سره و اوسېد. څه وخت وروسته هغه خپل پلار ته بېرته ورستون شو. هغه ځان ته په دې مغرور وه چې یو ښه هنر، چې ښکلې قندیلونه جوړ کړي، یې زده کړی وه. هغه [خپل پلار] ته وویل چې د دغه هنر ټول [ځایي] استادان وروغواړي چې هغه ورته خپل هنر څرګند کړي.

د هغه پلار ټول قندیل جوړوونکي راټول کړل چې هغه وړتیا وویني چې د هغه زوی له نورو سره د اوږدې مودې د تېرولو پر وخت ترلاسه کړې وه، خو کله چې زوی هغه ډیوه راواېسته چې هغه جوړه کړې وه، هغوی ټول پوه شول چې هغه ډېره زیاته بدرنګه وه. ترهغه وروسته پلار هغوی ته ورغی او له صنعتګرانو څخه یې د هغوی د رېښتنې نظریې پوښتنه وکړه. هغوی پرته له دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې ریښتیا ووایي بل هېڅ لاره نه لرله، او هغه دا چې هغه کرکه پارونکې وه.

وروسته زوی [خپل پلار ته] په لاپه وویل، «زما د هنر حکمت دې ولید؟»

پلار ځواب ورکړچې ټول وایي چې ښکلې نه ده.

زوی ځواب ورکړ، «پرعکس د دغې ډیوې له لارې هر یوه ته د هغه د کمیو په ورپه ګوته کولو سره ما خپل مهارت ښودلی دی. په دغه ډیوه کې ما د دغه هنر د ټولو ځایي استادانو کمزورتیاوې شاملې کړې دي. ودې نه لیدل چې یوه یې یوه برخه بدرنګه وګڼله خو بله برخه یې په ښه ډول جوړه شوې وګڼله. په داسې حال کې چې بل بیا هغه برخه چې هغه بدرنګه ګڼلې وه ښکلې او عجیبه وګڼله. د هغوی ټولو خبرې سمې دي. څه چې یو یې بد ګڼي بل ته ښه ښکاري، او هغه چې لومړی یې ښه ګڼي بل ته ښه نه ښکاري. ما دغه ډیوه یوازې له کمزوریو څخه جوړې کړې ده او بس، او دا د دې له پاره چې هغوی ټولو ته وښیم چې هغوی کمال نه دی ترلاسه کړی. هریو یوه کمزورتیا لري، ځکه څه چې د یوه له پاره ښایسته وي هغه د بل له پاره عیبي دی، خو که زه وغواړم زه کولی شم چې یوه ډېره ښه ډیوه جوړه کړم.»

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دوه ماڼۍ

په یوه ځای کې دوه ماڼۍ دي چې دواړه سره تقریبا یو ډول دي. خو په یوه کې یو پاچا اوسي او په بله کې یو غلام. ښکاره خبره ده چې د پاچا د ماڼۍ او د غلام د ماڼۍ تر منځ یو ډېر لوی توپیر دی، خو دا شونې ده چې هغه دواړه سره غلطې شي.

## لیک

یو وخت په یو ځای کې یو د پاچا زوی وه چې له خپل پلار نه لیرې وه او هغه یې ډېر زیات یادېده. یوه ورځ هغه له خپل پلار څخه یو لیک ترلاسه کړ چې ډېر پرې خوشحاله شو. هغه ډېره زیاته علاقه مندي وښوده چې لږترلږه خپل لاس وغزوي او که له هغې خوا نه هم یو لاس را اوږد شي، دی به یې کلک ونیسي او ښکل به یې کړي.

زوی بیا داسې سوچ وکړ چې لیک پخپله د پاچا د لاس لیک دی، نو هغه د پاچا «لاس» دی...

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د سپوږمۍ له پاره کالي

سپوږمۍ لمر ته شکايت وکړ، دعوه يې وکړه چې لمر د ورځې پر وخت او په تاوده موسم کې يو مرکزي رول لوبوي، په داسې حال کې چې هغه [سپوږمۍ] يوازې په اوږدو، يخو د ژمي شپو کې مهم رول لوبوي. نو لمرچې غوښتل يې چې سپوږمۍ ارامه کړي وويل چې د هغې له پاره به يو جوړ کالي وکړي.

ټول لوی او مشهورخياطان راوغوښتل شول چې د هغې کالي برابر کړي. عادي خياطانو هم غوښتل چې په دې کار کې برخه واخلي خو ويې ويل، «داچې هغوی مونږ نه يو غوښتي، نو زمونږ له پاره دا مناسبه نه ده چې لاړ شو».

مشهورو خياطانو [خپلو په کار ګومارونکو] ته وويل چې هغوی نشي کولی چې داسې کالي جوړ کړي چې برابر وي، ځکه چې ځينې وختونه سپوږمۍ وړه وي او ځينې وختونه لويه، له دې امله دا ناشونې ده چې د هغې اندازه دې معلومه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بیا عادي خیاطان راغلل او ویې ویل چې هغوی کولی شي چې د هغې اندازه معلومه کړي او د هغې له پاره کالي جوړ کړي، خو هغوی ته وویل شول، «لوی خیاطان چې دا کار نشي کولی، نو تاسو څنګه کولی شئ چې ویې کړئ؟»

## یو ډول مرغه

په نړۍ کې یومرغه دی چې په خپل ډول کې یو پیدا شوی دی. کله چې هغه زړېږي هغه کمزوری کېږي. کله چې هغه په خپله کمزورۍ پوهېږي یوه ټاکلي غره ته ورالوزي چې هلته هغه د ډول ډول خوږبویه بوټو څوکري ټولوي او د ځالې جوړولو له پاره ترې کار اخلي. هغه تر هغه وخته پورې په ځاله کې کېني چې داسې احساس کړي چې قوت یې بېرته وروګرځېږد. هغه بیا الوزي او ترټولو لوړو ځایونو پورې الوت کوي تر دې چې د لمر تر ښخه پورې ورسېږي. لمر هغه سوزوي، او هغه سمندر ته رالوېږي او په کې ډوبېږي. سمدلاسه وروسته همداسې یو بل مرغه پیدا کېږي چې د هغه ځای نیسي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مرغۍ او هګۍ

یوه څانګړې مرغۍ ډېرې هګۍ اچوي، دا دومره ډېرې وي چې هغه په هېڅ ډول نشي کولی چې ټولې یې وټومبي او بچي ترې وباسي، نو خدای پاک هغې ته داسې یو حیواني شعور ورکړی دی چې خپلې هګۍ په پټه د بلې مرغۍ په ځاله کې ږدي. بیا هغه خپلې هګۍ په یوه بله ځاله کې ږدي، او همداسې پسې ځي.

نورې مرغۍ نه پوهېږي چې هګۍ د هغوی خپلې نه دي، نو هغوی یې ټومبي تر دې چې هغوی بچي وزېږوي. او دغه [څانګړې] مرغۍ یو شمېر هګۍ د خپل ځان له پاره اخلي، او پخپله پرې کېني تر هغه چې بچي وزېږوي.

وروسته بیا مرغۍ له خپلو بچیانو سره الوزي، او ترهغه وخته پورې چغېږي چې ټول هغه مرغان چې په نورو ځایونو کې زېږېدلې وي دغه اواز وپېژني. د هغوی پام مرغۍ ته واوړي او سم دلاسه هغې ته ورګرځي. دا چې په واقعیت کې هغوی د هغې اولادونه وي نو هغوی هغې ته ورګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# مېلمه

د رخصتۍ په شپه، د شمو له بلولو نه وروسته، یوه مېلمه د کور له څښتن نه مېلمه پالنه وغوښته. مېلمه له خپل کوربه څخه پوښتنه وکړه، «ته د ژوند څوری څنګه ګټې؟»

هغه ځواب ورکړ، «زه مې له ملکیت څخه منظم عاید نه لرم، بلکه زه د ژوند د خرڅ ترلاسه کولو له پاره سفر کوم».

نو مېلمه له هغه نه پوښتنه وکړه، «ته کوم [سپېڅلي کتابونه] لولې؟» او هغه ځواب ورکړ.

هغوی دومره مخکې لاړل چې خبرې اترې يې د زړه حساسو موضوعاتو ته ورسېدې. کوربه داسې هیله وکړه چې که د سپېڅلتیا یوه لوړه مرتبه يې ترلاسه کړې وای. مېلمه هغه ته وویل، «زه به له تا سره درس ووایم» او کوربه حیران شو [چې هغه د ده د ذهن په حال څنګه پوه شو]. هغه داسې ګومان وکړ چې د هغه مېلمه یو روحاني شخص دی، خو بیا يې دغه تصور پرېښود، ځکه چې هغه ولیدل چې هغه له ده سره د یوه عادي شخص په توګه خبرې کولې. سمدلاسه [د نا اشنا شخص په سپېڅلتیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

باندې] د هغه عقيده بيا کلکه شوه، اوهغه ته يې په «پيرصيب» سره خطاب کول پيل کړل.

ده هغه ته وويل، «ترټولو مخکې، زه غواړم چې ته ما پوه کړې چې زه څنګه خپل ځان سم کړم او تاته لکه څنګه چې مناسب وي هاغسې درناوی وکړم. په دې کې شک نشته چې زه به هېڅکله هم له تاسره (خدای مه کړه) سپک چلند وکړم خو په مناسبه اندازه د درناوي کولو ته پام کول هم سخت دي، نو زه غواړم چې ته ماته وښيې چې ستا درناوی په څه ډول وکړم».

هغه ځواب ورکړ، «اوس زه وخت نه لرم. زه به کوم بل وخت له تاسره وګورم او دا لارښوونه به درته وکړم، اوس بايد زه لاړ شم».

هغه وويل، «زه غواړم چې ته راته دا هم ووايې چې: زه بايد ترکوم ځای پورې تا بدرګه کړم».

مېلمه ځواب ورکړ، «له دروازې څخه دباندې ځای پورې».

کوربه له ځان سره فکر وکړ، «زه څنګه کولی شم چې له هغه سره بهر لاړ شم؟ دا وخت خو مونږ له نورو خلکو سره يو، خو که زه له هغه سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوازې بهر لاړ شم، څوک پوهېږي چې هغه څه ډول مخلوق دی؟»

مېلمه له هغه نه پوښتنه وکړه چې ولې هغه ژور سوچ کاوه، او هغه ځواب ورکړ، «زه ډارېږم چې له تا سره بهر وځم».

مېلمه هغه ته وویل، «ته پوهېږې چې زمونږ د زده کړې مجلس په لوړه سویه وه؛ ان که ما غوښتل چې په تا باندې څه وکړم، چا به مې مخه نیولې وه؟» نو هغه له هغه سره له دروازې څخه ووت.

بیا هغه ناڅاپه هغه ونیو او ورسره والوت. سړی یخ نیولی وه، نو مېلمه یو کالی ورواخیست او هغه ته یې ورکړ، ورته ویې ویل، «دا کالی واخله، په کار به دې شي؛ ته به خواړه او اوبه او ټول ښه څیزونه ولرې، او ته به په خپل کور کې واوسېږې». او هغه له هغه سره والوت.

په همدغه وخت کې، هغه وکتل او ویې لیدل چې هغه په خپل کور کې دی! هغه نه غوښتل چې په خپلو دې حسونو باندې باور وکړي چې هغه په ریښتیا سره په خپل کور کې دی، خو هغه ولیدل چې هغه له خلکو سره خبرې کولې، او د نورکله په څېر یې خوړل او څښل. او بیا هم

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله به چې هغه خپل ځان ته بیا وکتل، وبه یې لیدل چې، هغه د مخکې په څېر الوت. هغه بیا وکتل، او ویې لیدل چې په کور کې دی؛ هغه بیا ولیدل، او ویې کتل چې په الوت کې دی. دا کار د ښایسته وخت له پاره همداسې روان وه.

وروسته، مېلمه هغه د دوو غرونو ترمنځ په یوه دره کې ښکته کړ. هلته هغه یو کتاب وموند چې د نړۍ د پیدایښت د ډېرې پخوانۍ الفبا لیکونه په کې وو. په کتاب کې د کښتیو رسمونه وه، او په کښتیو کې دننه په خپله د کښتیو لیکونه وو. د دغو لیکونو په کارولو سره به یو چا کولی شوای چې کښتۍ ګانې جوړې کړي. هغه ډېره زیاته هیله لرله چې دغه کتاب ولولي. په داسې حال کې چې دا حالت روان وه هغه وکتل او ویې لیدل چې هغه په کور کې دی. هغه بیا وکتل، او چې ویې لیدل نو هغه [په دره کې] وه.

هغه تصمیم ونیو چې په یوه غره باندې وروخېژي؛ چې ښایي څه ابادي ومومي. سم چې هغه غره ته مخه کړه یوه د سرو زرو ونه یې ولیده چې څانګې یې د سرو زرو وې. له څانګو نه کښتۍ راځوړندې وې، او دا داسې کښتۍ وې لکه په کتاب کې چې ښکارېدې. په کښتیو کې دننه نور وسایل وو، چې په هغو باندې یو چا کولی شوی چې کښتۍ جوړې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه غوښتل چې [له ونې څخه] کښتې راواخلي خو نه يې شوی کولی ځکه چې هغه د تاو راتاو څانګو په تاوونو کې نغښتې وې. بیا هغه وکتل، او چې ویې لیدل نو هغه په کور کې وه.

دا د هغه له پاره حیرانوونکي وو، دا پېښه چې په یوه لحظه کې هغه دلته وه، او په بله لحظه کې هلته. هغه غوښتل چې په دې هکله خلکو ته ووايي، خو څنګه یې کولی شوی چې نورو ته داسې یوه نه د باور وړعجوبه تشریح کړي؟ په داسې حال کې چې په دې هکله یې فکر کاوه، هغه [د خپل کور] له کړکۍ نه بهر وکتل او مېلمه یې [بیا] ولید. ده له هغه نه وغوښتل چې دننه ورشي. مېلمه وویل، «زه اوس وخت نه لرم، ځکه زه ځم چې تا وګورم».

هغه ده ته وویل، « دا ما ته ښځي د عجوبې په څېر ښکاري. زه خو دلته یم، دا نو څه معنی چې ته ځې چې ما ووینې»؟

هغه ځواب ورکړ، «په هغه شېبه چې تا ومنله چې له ما سره لاړ شې او له دروازې ایسته زما ملګرتیا وکړې، ما ستا عالي اروا واخیسته او د جنت د ښېښ پوړ په کالیو کې مې ونغښته، خو ستا ټېټه اروا او روح له تا سره پاتې شول. نو کله چې ته خپل فکرونه په هغه ځای پورې وتړې، ته هلته

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې، او د هغه ځای په واسطه نوراني يې. او کله چې ستا ذهن دلته راګرځي، بيا نو ته دلته يې».

زه نه پوهېږم چې هغه د کومې دنيا دی، خو دې کې شک نشته چې هغه د يوې ښې دنيا دی. او هغه لا تر اوسه هم نه دی پوره شوی، پای ته نه دی رسېدلی.

## يوه د باور کيسه

يو وخت په يو ځای کې يو پاچا وه، هغه خپل ځان ته وويل، «څوک تر ما لږ اندېښنې لري؟ زه له ښو پرته بل هېڅ نه لرم او سربېره پر دې، زه يو پاچا او واکمن يم.»

پاچا پرېکړه وکړه چې په دې برخه کې پلټنه وکړي. هغه د شپې وګرځېد او د کورونو تر شا ودرېد چې هغه څه چې خلکو ويل واوري او معلومات ترلاسه کړي. هغه د هرچا اندېښنې واورېدې. يوه سړي د خپلې هټۍ په برخه کې ستونزې لرلې. بيا هغه يوه بل کور ته لاړ، هلته هغه واورېدل چې سړي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستونزې لري او غواړي چې په پاچايی محکمه کې د ملاقات له پاره وخت واخلي. په دې توګه، هغه د هرچا شکايتونه واورېدل.

بيا هغه يو ډېر ښيښ کور وليد چې په ځمکه کې دومره ښيښ وه چې کړکۍ يې بېخي د ځمکې په سر وې. د هغه بام زمبېل شوی او وران وه. دننه هغه يو سړی وليد چې ناست وه او خپل رباب يې غږاوه خو هغه بايد په ښينګه غوږ نيولی وای چې هغه اواز واوري. سړی ډېر زيات خوشحاله وه. هغه يوه کاسه خواړه او يو څښاک لرل چې په مخکې يې ايښي وو. څښاک [قېمتي] وه او خواړه په ترتيب سره د هغه په مخکې ايښي وو. او هغه ډېر خوښ او خوشحاله وه او هېڅ اندېښنې يې نه لرلې!

پاچا کور ته ورننوت او پوښتنه يې وکړه چې سړی څنګه ژوند تېروي او سړي ځواب ورکړ. پاچا هغه څښاک او بېلابېل خواړه چې د سړي په مخکې ايښي وو وکتل او هغه د هغه په مخ کې موجوده خوښي وليده. سړي پاچا وروباله چې د هغه په څښاک کې برخه واخلي، او هغوی دواړو په شريکه د زړه له تله په خوښۍ څښاک وکړ، پاچا هم څښاک وکړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاچا پرېووت چې ویده شي. هغه پوه شو چې سړی پوره خوشحاله وه، اوهېڅ اندېښنې نه لري. سهار پاچا پورته شو، او سړی هم پورته شو او له پاچا سره ملګری شو.

پاچا پوښتنه وکړه، دا شیان دې له کومه کړي دي؟

سړي ځواب ورکړ، «زه یو مستري یم. زه کولی شم چې هرشی چې مات وي هغه جوړ کړم. زه نشم کولی چې کوم څه جوړ کړم، بلکه زه کولی شم چې داسې شیان بیاجوړ کړم چې مات شوي وي. زه سهار وځم او بېلابېل شیان جوړوم. کله چې زه پنځه یا شپږ روپۍ ترلاسه کړم دا خواړه او اوبه پرې اخلم.»

کله چې پاچا دا واورېدل، له ځان سره یې وویل، «زه به هغه خراب کړم.» پاچا کورته ستون شو او داسې یو فرمان یې صادر کړ چې که د چا څه خراب وي، بل چاته یې باید د جوړولو له پاره ورنه کړي. یا یې باید پخپله ترمیم کړي یا بل نوی شی واخلي.

بل سهارمستري بهر ووت او هڅه یې پیل کړه چې شیان د جوړونې له پاره وګوري. هغه ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

وویل شول چې پاچا فرمان صادر کړی دی چې هېڅ شی دې د جوړولو له پاره نورو ته نه ورکول کېږي. هغه پوهېده چې دا د هغه له پاره بد وه، خو هغه په خدای یقین درلود.

هغه یوځه وخت وګرځېد ترهغه چې یو شتمن سړی یې ولید چې لرګي یې پرې کول. مستري پوښتنه وکړه، « ته ولې لرګي پخپله پرې کوې؟ آیا دا کار ستا له شان او شوکت نه ټیټ نه دی؟»

سړي ځواب ورکړ او ویې ویل، «ما هڅه وکړه چې ځوک پیدا کړم چې لرګي راته پرې کړي، خو هیڅوک مې پیدا نه کړ، نو مجبور شوم چې په خپله یې پرې کړم.»

مستري ځواب ورکړ، «ما ته اجازه راکړه چې زه درته لرګي پرې کړم».

هغه لرګي پرې کړل، او شتمن سړي هغه ته یوه روپۍ ورکړه. هغه ولیدل چې هغه بریالی وه، نو هغه نور لرګي پرې کړل، تر دې چې شپږ روپۍ یې وګټلې. هغه پیسې واخیستې او د ځان له پاره یې پرې خواړه واخیستل. او خواړه یوه خوښي وه! یو ځل بیا هغه ډېر خوشحاله شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاچا بیا په هغه شپه بېهر ووت او د مستري له کړکۍ څخه بهر ودرېد چې وګوري چې څه روان دي. هغه ولیدل چې مستري ناست دی او خواږه او اوبه یې په مخکې ایښي دي، او ډېر خوشحاله دی. پاچا دننه ورننوت، او بیا هم د تېر په څېر کار وشو. هغوی بیا لاړل چې د تېرې شپې په څېر ویده شي، او سهار سړی پورته شو او له پاچا سره روان شو.

پاچا پوښتنه وکړه، «تا خواږه له کومه پیدا کړل؟ پیسې دې چېرې وګټلې؟»

مستري ځواب ورکړ، «زما همېشنی کار دا وه چې شیان مې ترمیمول، خو پاچا یو قانون وضع کړی دی چې هېڅ شی باید د بیاجوړونې له پاره بل چاته ورنه کول شي. نو ما لرګي مات کړل او په دې توګه مې دومره پیسې ترلاسه کړې چې زما اړتیاوې یې راپوره کړې.»

د مستري له پرېښودلو څخه وروسته، پاچا یو فرمان صادر کړ چې دا منع ده چې څوک دې د لرګیو د ماتولو له پاره ونیول شي. او په دې توګه، کله چې هغه خپل مشتري ته راغی چې لرګي مات کړي، مشتري یې ورته وویل چې پاچا داسې یو بندیز لګولی چې نه پرېږدي چې یو

(c) ketabton.com: The Digital Library

څوک دې د بل چا لرګي پرې کړي. هغه له دې امله اندېښمن شو، ځکه چې هغه پیسې نه لرلې، خو په خدای یې یقین درلود. هغه یوڅه وخت وګرځېد، او یو سړی یې ولید چې خپله د څارویو غوجله پاکوي.

هغه پوښتنه وکړه، «ستا په څېر یو څوک ولې باید یوه غوجله پاکه کړي؟

سړي ځواب ورکړ، «ما هره خوا ولټوله، خو هېڅوک مې پیدا نه کړ چې راته پاکه یې کړي، نو پخپله مجبور شوم چې پیل یې کړم».

مستري ځواب ورکړ، «اجازه راکړه چې زه یې درته پاکه کړم.»

هغه دننه ورغی اوغوجله یې پاکه کړ. وروسته سړي هغه ته دوه روپۍ ورکړې. هغه یو څو نورې غوجلې هم پاکې کړې او خپلې شپږ روپۍ یې وګټلې. هغه خپل ټول خواړه وپېرودل او کور ته ستون شو. او خواړه یوه خوښي وه! او هغه ډېرخوشحاله وه.

پاچا بیا بهر ووت چې وګوري چې څه پېښ شوي دي، او بیا یې هغه خوښ ولید. پاچا بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورننوت او شپه يې تېره کړه، او سهار، مستري يوځل بيا پاچا بدرګه کړ. د تېر په څېر، پاچا له هغه څخه پوښتنه وکړه چې هغه پیسې څنګه ترلاسه کړې دي، او هغه د هغه څه په هکله چې ترسره کړي يې وو معلومات ورکړل. پاچا بيا يو فرمان صادرکړ چې هيڅوک نشي کولی چې د بل چا د ځارويو غوجله د اجورې په بدل کې پاکه کړي.

سهار مستري بهر ووت چې غوجلې پاکې کړي، خو هغه ته وويل شول چې پاچا په دغه ډول کار باندې بنديز لګولی دی. دا چې هغه ډېر انتخابونه نه لرل، نو مستري د جګړې د چارو وزارت ته لاړ او په پوځ کې يې خپل نوم ورکړ.

يو شمېرعسکر د حکومت له خوا په زور سره په نظام کې شاملول کېږي په داسې حال کې چې نور بيا د معاش په مقابل کې په کار ګومارل کېږي. نو مستري خپل ځان د يوه تنخاخواره عسکر په توګه په کار وګوماره، خو د تقرر له مدير سره يې يو شرط وتاړه چې هغه به يوازې د لنډ وخت له پاره له هغوی سره کېږي او دا چې هغه ته به هرسهار اجوره ورکول کېږي. هغوی هغه ته د هغه يونيفورم ورکړ، يوه توره يې ورکړه او خپلې پوستې ته يې ولېږه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د شپې پر وخت، وروسته له هغه چې هغه خپلې دندې ترسره کړې، خپل يونيفورم يې يوې خواته کېښود، او په خپل معاش يې د ځان له پاره خواړه وپېرودل او کور ته لاړ. او خواړه يوه خوښي وه! او هغه ډېر خوشحاله وه.

پاچا د هر وخت په څېر بهر ووت چې وګوري چې څه حال دی. هغه وليدل چې د مستري په مخکې هر څه په ترتيب سره اېښي دي، او هغه د تل په څېر ډېر خوشحاله دی. پاچا کور ته ورننوت او شپه يې لکه د تېرې څېر له هغه سره تېره کړه. هغه بيا پوښتنه وکړه چې څه حال يې دی، او مستري هغه ته ټوله کيسه تېره کړه. پاچا مسؤل مامور راوغوښت او ورته ويې ويل چې هغه بايد په دغې ورځ خزانې ته هېڅ لاس ورنه وړي چې چاته ترې څه ورکول شي.

په بل سهارهغه له مامور څخه غوښتنه وکړه چې هغه ته د هغې ورځې اجوره ورکړي، خو مامور رد کړه. هغه په خفګان سره پوښتنه وکړه، «آيا مونږ داسې هوکړه نه وه کړې چې ته به ماته هره ورځ اجوره راکوې؟» مامور ځواب ورکړ چې پاچا امر کړی دی چې په هغې ورځ دې هيچا ته هم اجوره نه ورکول کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

مستري عذر او زارۍ وکړې، خو هېڅ يې ترلاسه نه کړل. مامور ورته وويل، «سبا ته به زه تا ته د دوو ورځو معاش درکړم، خو نن ناشونې ده چې اجوره درکړم».

نو مستري څه وکړل؟ هغه له خپلې تورې تېغ راواېست، او پرځاى يې د لرګي يوه ټوټه داسې ولګوله چې له بهر نه يې فرق نه کېده. هغه بيا د تورې تېغ په ګرو ورکړ او د تل په څېر يې خپل خواړه وپېرودل. او خواړه، يوه خوښي وه او هغه ډېرخوشحاله وه!

پاچا بيا راوګرځېد، او ويې ليدل چې مستري د تل په څېر خوښ دى. هغه د ليدنې له پاره راغى، شپه يې تېره کړه، او له هغه څخه يې پوښتنه وکړه چې څه حال دى. مستري هغه ته ټوله کيسه وکړه، چې څنګه هغه مجبور کړاى شو چې د تورې تېغ له لاستي څخه وباسي او په ګرو يې ورکړي او خواړه پرې راونيسي. هغه وويل، «کله چې ماته د تېرې ورځې معاش راکول شي زه به تېغ بېرته واخلم او د لاس وهنې له کومې نښې پرته به يې بېرته جوړ کړم. زه کولى شم چې هرڅه جوړ کړم! چې پاچا ته به هېڅ تاوان ونه رسېږي»

(c) ketabton.com: The Digital Library

پاچا خپل حرم ته ستون شو او د تقرر مدير يې ور وغوښت. هغه وويل، «هلته يو مجرم وه چې په مرګ محکوم شوی وه. هغه مستري چې د يوه اجير په توګه يې کار پيل کړی دی راوغواړه، او حکم ورته وکړه چې د بندي سر پرې کړي».

مدير مستري وروغوښت او پاچا ته يې ور وست. پاچا بيا خپلو ټولو وزيرانو ته حکم وکړ چې راشي او د ټوکې سيل وکړي، هغوی ته يې وويل چې د هغه يوه عسکر د خپلې تورې تېغ د لرګي په يوه ټوټه بدل کړی وه.

مستري خپل ځان د پاچا په وړاندې حاضر کړ، په خاورو پرېوت، او پوښتنه يې وکړه، «اعليحضرته، ولې تا زه راوغوښتم؟»

پاچا ځواب ورکړ، «چې د يوه مجرم سر پرې کړې».

مستري عذر او زارۍ وکړې او ويې ويل، «خو ما هېڅکله هم يو سړی نه دی وژلی! هيله ده چې کوم بل څوک ولېږې چې دا کار وکړي».

پاچا ځواب ورکړ، «نه، او يوازې ته بايد اوس حکم ترسره کړې».

(c) ketabton.com: The Digital Library

مستري پوښتنه وکړه، «آیا قضیه په ریښتیا هم روښانه ده؟ ښایي دا خبره پوره یقیني نه وي چې هغه دې د وژنې وړ وي. ما هېڅکله هم په خپل ژوند کې څوک نه دی وژلی. څنګه کېدی شي چې زه داسې یو څوک ووژنم چې هغه ان د وژلو وړ نه وي؟»

پاچا ځواب ورکړ، «په دې کې هېڅ داسې پوښتننه نشته چې هغه دې د مړینې وړتیا ونه لري. د هغه محاکمه وشوه او مجرم وپېژندل شو. ته او یوازې ته باید اوس هغه ووژنې».

مستري ولیدل چې هغه نشي کولی چې پاچا له خپلې خبرې نه وګرځوي. هغه اسمان خوا ته وکتل او ویې ویل، «لویه خدایه، ما په خپل ژوند کې هېڅکله هم څوک نه دی وژلی. که دغه سړی د مرګ وړ نه وي، زما د تورې تېغ د لرګي وګرځوې!»

په دې توګه هغه خپله توره راواېسته، او هرچا ولیدل چې تېغ د لرګي یوه ټوټه وه. ټولوهغو کسانو چې هلته حاضر وو ټوکې ته وخندل. پاچا پوه شو چې مستري څومره ښه سړی دی، او هغه یې په ارام سره کور ته ولېږه.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**